## سریزه

### د منتخبو قوانینو مجموعه

د منتخبو قوانینو مجموعه د افغانستان د عدلي او قضائي چارو د پروژې (AROLP) له پلوه چاپ شوه. د افغانستان د عدلي او قضائي چارو پروژه د امریکا د متحدو ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) له پلوه تمویلیږي. د افغانستان د عدلي او قضائي چارو پروژه (AROLP) په لاندې برخو کې د افغانستان د عدلي او قضائي سکتور له ارګانونو سره مرسته کوي:

(۱) د محکمو د سیستمونو پیاوړی کول او د عدلي او قضائي کارکوونکو روزنه؛

(۲) د قوانینو اصلاح او تسوید ؛

(۳) عدالت، غیر رسمي سکتور ته لاس رسی؛

(۴) د اسلام په رڼا کې د ښځو حقوق او د بشر حقوق؛

(۵) دزیربناوو جوړښت.

د افغانستان د عدلي او قضائي چارو

## مقدمه

### مجموعۀ قوانین منتخب

مجموعۀ قوانین منتخب به کوشش پروژۀ امور عدلی و قضائی افغانستان (AROLP) به زیور چاپ آراسته گردید. پروژۀ امور عدلی و قضائی افغانستان از طرف اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا (USAID) تمویل می گردد. پروژۀ امور عدلی و قضائی افغانستان (AROLP) نهاد های سکتور عدلی و قضائی افغانستان را در عرصه های ذیل مساعدت می نماید:

(۱) تقویت سیستم های محاکم و آموزش کارمندان عدلی و قضائی؛

(۲) اصلاح و تسوید قوانین؛

(۳) دسترسی به عدالت، سکتور غیر رسمی؛

(۴) حقوق بشر و حقوق زن در پرتو اسلام؛

(۵) ساخت زیر بناها.

یکی از فعالیتهای مهم (AROLP)،

د پــروژې (AROLP)یــو لــه مهمــو فعالیتونو څخه د افغانستان د قوانینو راټولول او خپرول دي، چې په ډي وي ډي ( DVD) کـې د حقـوقي ډیټـابېس جـوړول؛ او همـدا رازد ټولـو قوانینـو، فرمانونو، مقررو او نورو مهمو حقوقي سـندونو مفصـل فهرسـت رانغــاړي. مینه وال یا هر هغه څوك چې د قوانینو متنونـو تـه لاس رسـی غـواړي کـولای شي د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عـدلیې لـه وزارت څخـه یـې نیـغ پـه نیغـه تـر لاسـه کـړي او یـا یـې هـم د عــدلیې د وزارت پــه رسـمي ویبپانـه (www.moj.gov.af) کـې پیـدا کـړي. پــه دې مجمـــــوعه کـې د الفبـا پـه ترتیــب د منتخبــو قوانینــو منــدرج موضــوعي فـــهرست تـــه هــم اشــاره شویده.

دمنتخبو قوانینو د مجموعې خپرول د امریکـا د متحـدو ایـالاتو د نړیـوالې پراختیــا اداري (USAID) لــه لارې د امریکـا د خلکـو د مـالي او تخنیکـي مرسـتې پـه مـټ شـوني شـول. د دغـې مجمـوعې د محتـوا مسـئولیت یـوازې او یوازې د افغانستان د دولت پر غـاړه دی او په هـیڅ ډول د امریکـا د متحـدو ایــالاتو د نړیــوالې پراختیــا اداري

عبـارت از گـردآوری و انتشـار قـوانین افغانسـتان اسـت کـه شـامل ایجـاد و گــردآوری یــك مأخـذ اطلاعــاتی یــا دیتابیس حقوقی در قالب یك دی وی دی (DVD) و گـرد آوری یـك فهرست مفصل از همه قوانین، فرامین، مقرره هـا و سـایر اسـناد مهـم حقـوقی مـی باشـد. علاقمنـدان و کسـانیکه مـی خواهنـد بـه متـون قـوانین افغانسـتان دست یابند، مـی تواننـد مـواد مـذکور را مســــتقیما از وزارت عدلیــــه جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان دریــافـت داشــتــه و یـــا از طـــریق ویـب سـایت(www.moj.gov.af) ایـن وزارت بـــه آنهـــا دسترســی حاصـل نماینـد. دریـن مجموعـه بـه فهرست موضوعی مندرجه قـوانین منتخب بـه ترتیب الفبا نیز اشاره شده است.

نشر مجموعۀ قوانین منتخب با کمك و مســاعدت مـردم ایـالات متحـده امریکا و از طریق ادارۀ انکشـاف بـین المللـی ایــالات متحــده امریکــا (USAID) میسـر گردیـد. از محتـوای ایـن تالیفـات فقـط دولـت افغانسـتان مســـئولیت دارد و بـــس، الزامـــاً منعکس کنندۀ نظرات اداره انکشـاف بـین المللـی ایـالات متحـده امریکـا

(USAID) یا د امریکا د حکومت نظر نه څرګندوي.

د افغانســتان د قوانینــو او حقــوقي سندونو هغـه مؤثـق، اصـلي او رسـمي متنونه چې دلته بیا له سره چاپ شوي د افغانسـتان د دولـت لـه اصـلي چـاپ شویو خپرونو څخه تر لاسه کیدای شي. دحقــوقي چــارو کــارکوونکو تــه سپارښتنه کیږي تر څو ددي مجموعې هر یو متن له هغو رسمي خپرونو سره پرتلـه کـړي چـې پـه دې وروسـتیو کـې چاپ شوي.

دمنتخبو قوانینو مجموعـه لـه لاندي عناوینو څخه تشکیل شوي ده:

١. د افغانستان اساسي قانون

٢. د بشر دحقوقو نړیواله اعلامیه.

٣. د افغانسـتان د بشـر دحقوقـو د خپلـواك کمېسـیون د تشـکیل، دندو او واکونو قانون.

۴. د هر ډول تـوکمیز تـوپیر (تعبیض) د له منځه وړلو نړیوال تړون.

۵. د اقتصـادی، ټولنیز و او کلتـوری بین المللی تړون.

۶. د مـدنی او سیاسـی حقونـو بـین

(USAID) و یـــا حکومـــت ایـــالات متحده امریکا نمی باشد.

متـون رسـمی اصـلی و مؤثـق قـوانین افغانستان و دیگر اسناد حقوقی ایرا کـه در اینـــجا تجدید چـاپ گردیـده اند، می توان در نشرات چاپی اصلی دولت افغانستان دریافت. برای دست انـدر کـاران امـور حقـوقی یـاد دهـانی میگـــردد تا هر یك از متـون موجود در ایـن مجـــموعـــه را بـا جدیـد تـــرین نشـــرات رســمی مقابلـــه نمایند.

مجموعـــه قـــوانین منتخـــب حـــاوی عناوین ذیل اند:

١. قانون اساسی افغانستان

٢. اعلامیه جهانی حقوق بشر.

٣. قـــانون تشـــکیل، وظـــایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان.

۴. میثـاق بـین المللی رفـع هـر نـوع تعبیض نژادی.

۵. میثـــاق بـــین المللـــی حقـــوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی.

۶. میثاق بین المللی حقوق مدنی و

| | |
|---|---|
| المللی تړون. | سیاسی. |
| ۷. په ټولو شکلونو کې د ښځو په وړاندې د توپیر د له منځه وړلو تړون. | ۷. میثاق رفع کلیه تبعیضات علیه زنان. |
| ۸. د شکنجې، ظالمانه مجازات او انساني ضد یا دسپکاوی چلندپرخلاف تړون. | ۸. میثاق علیه شکنجه،مجازات ظالمانه، رفتار غیر انسانی یا اهانت آمیز. |
| ۹. د ماشومانو د حقوقو تړون. | ۹. میثاق حقوق طفل. |
| ۱۰. د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قضائیه قوی د محکمو د تشکیلاتو او واك قانون. | ۱۰. قانون تشکیلات و صلاحیت محاکم قوهٔ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان . |
| ۱۱. د قضاتو لپاره د قضائی سلوك د طرز مقرره. | ۱۱. مقرره طرز سلوك قضائی برای قضات. |
| ۱۲. د افغانستان جمهوریت د څارنوالۍ د تشکیل او صلاحیت قانون له تعدیلونو سره. | ۱۲. قانون تشکیل و صلاحیت څارنوالی جمهوری افغانستان معه تعدیلات. |
| ۱۳. د افغانستان اسلامی امارت د مامورینو قانون. | ۱۳. قانون مامورین امارت اسلامی افغانستان. |
| ۱۴. د پولیسو قانون. | ۱۴. قانون پولیس. |
| ۱۵. مدنی قانون (۱-۴ ) ټوك له تعدیلونو سره. | ۱۵. قانون مدنی (۱-۴) جلد معه تعدیلات. |
| ۱۶. د افغانستان د جمهوریت د مدنی محاکماتو د اصولو قانون. | ۱۶. قانون اصول محاکمات مدنی جمهوری افغانستان. |

| | |
|---|---|
| ۱۷. د حقوقو د تحصیل د څرنګوالی قانون. | ۱۷. قانون طرز تحصیل حقوق. |
| ۱۸. د تجارت اصولنامه له تعدیلونو سره. | ۱۸. قانون تجارت معه تعدیلات. |
| ۱۹. د تجارتی محاکمو د اصولو قانون له تعدیلونو سره. | ۱۹. قانون اصول محاکمات تجارتی معه تعدیلات. |
| ۲۰. د تجارتی نښنو اصولنامه | ۲۰. اصولنامۀ علایم تجارتی |
| ۲۱. د بانکدارۍ قانون. | ۲۱. قانون بانکداری. |
| ۲۲. د خصوصي پانګې اچونې قانون. | ۲۲. قانون سرمایه گذاری خصوصی. |
| ۲۳. د افلاس او لاس تنګۍ اصولنامه. | ۲۳. اصولنامه افلاس و ورشکست. |
| ۲۴. دجزأ قانون له تعدیلونو سره. | ۲۴. قانون جزأ معه تعدیلات. |
| ۲۵. د جزائی اجراآتو قانون له تعدیلونو سره. | ۲۵. قانون اجراآت جزائی معه تعدیلات . |
| ۲۶. د محکمو لپاره د جزائي اجراآتو مؤقت قانون. | ۲۶. قانون اجراآت جزائی مؤقت برای محاکم. |
| ۲۷. د جرمونو د کشف او تحقیق او د تطبیق په قانونیت یی د څارنوالۍ د څارنی قانون له تعدیلونو سره. | ۲۷. قانون کشف و تحقیق جرایم و نظارت څارنوالی بر قانونیت تطبیق آن معه تعدیلات. |
| ۲۸. له ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون. | ۲۸. قانون مبارزه علیه ارتشاء و فساد اداری. |
| ۲۹. د محبسونو او توقیف ځایونو | ۲۹. قانون محابس و توقیف خانه |

| | |
|---|---|
| قانون. | ها. |
| ۳۰. د ناریه وسلې، مهماتو او چاودېدونکو موادو قانون. | ۳۰. قانون سلاح ناریه، مهمات و مواد منفلقه. |
| ۳۱. د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون. | ۳۱. قانون رسیدگی به تخلفات اطفال. |
| ۳۲. د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو قانون | ۳۲. قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی. |
| ۳۳. د ټولنو، اعتصابونو او تظاهراتو قانون. | ۳۳. قانون اجتماعات، اعتصابات و تظاهرات. |
| ۳۴. د مخدره موادو پر ضد د مبارزې قانون. | ۳۴. قانون مبارزه علیه مواد مخدر. |
| ۳۵. د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون. | ۳۵. قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم. |
| ۳۶. د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون. | ۳۶. قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم. |
| ۳۷. د واټ ترافیک قانون، دنقلیه واسطو د سیر جواز، دچلولو جواز او د سیر او حرکت مقرری له تعدیلونو سره. | ۳۷. قانون ترافیك جاده و مقرره های((جواز سیر و سایط نقلیه، جواز رانندگی، سیر و حرکت)) معه تعدیلات. |
| ۳۸. د افغانستان اسلامي امارت د ځمکوالۍ (زمینداری) د چارو د تنظیم قانون. | ۳۸. قانون تنظیم امور زمینداری امارت اسلامی افغانستان. |
| ۳۹. د ځمکې داستملاک قانون له | ۳۹. قانون استملاك زمین معه |

تعدیلونو سره.

۴۰. د املاکو په باب د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان.

۴۱. د مهاجرینو د باعزته راستنیدو په باب، د افغانستان د مؤقتې اداري د رئیس فرمان.

۴۲. د ملکیتونو د دعواوو د حل او فصل د ځانګړې محکمې د ایجاد په باب، دافغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان.

۴۳. د ملکیتونو د ولایتي خاصې ابتدائیه محکمې د لغوې په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان.

۴۴. د کار قانون.

۴۵. د ټولیزو رسنیو قانون.

مونږ دخپلي مننې مراتب د قوانینو ددې منتخبې مجموعې د راټولوونکو او تصحیح کوونکو هر یو: عبدالقدوس (انډیوال)، حضرت گل (حسامی)، فریدون (یوسفی) او کمپوزر فرهاد (هاشمی) څخه څرګندوو.

تعدیلات.

۴۰. فرمان رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در بارۀ املاك.

۴۱. فرمان رئیس ادارۀ مؤقت افغانستان در مورد عودت باعزت مهاجرین.

۴۲. فرمان رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در مورد ایجاد محکمۀ خاص حل و فصل دعاوی ملکیت ها.

۴۳. فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد لغو محکمه خاص ابتدائیه ولایتی ملکیت ها.

۴۴. قانون کار.

۴۵. قانون رسانه های همگانی.

ما مراتب سپاس خود را از گرد آورندگان و تصحیح کننده گان این مجموعۀ منتخب قوانین هر یك: عبدالقدوس (انډیوال)، حضرت گل (حسامی)، فریدون (یوسفی) و فرهاد (هاشمی) کمپوزر ابراز میداریم.

د منتخبو قوانینو د مجموعې دا ټوک لاندې تقنیني سندونه رانغاړي:

۱ .مدني قانون څلورم ټوک.

**د افغانستان د عدلي او قضائي چارو پروژه**

این مجلد از مجموعۀ قوانین منتخب شامل اسناد حقوقی ذیل می باشد:

۱- قانون مدنی جلد چهارم.

**پروژه امور عدلی و قضائی افغانستان**

# مدني قانون

## درېيم کتاب – عيني حقوق

## (له اړوندو تعديلونو سره)

## څلورم ټوک

په رسمي جريده کې د خپرېدو نېټه: **۱۵/۱۰/۱۳۵۵** هـ . ش
پرله پسې ګڼه (**۳۵۳**)

## فهرست

## کتاب سوم – حقوق عینی

## مادۀ (۱۹۰۰-۲۴۱۶)

| عنوان | صفحه |
|---|---|
| باب اول – حقوق عینی اصلی........................ | ۱ |
| فصل اول – حقوق ملکیت........................ | ۱ |
| قسمت اول – تعریف، ساحه و حمایت ملکیت........................ | ۱ |
| قسمت دوم – قیود ملکیت........................ | ۲ |
| قسمت سوم – ملکیت مشاع........................ | ۱۲ |
| قسمت چهارم – رفع مشاع به اثر تقسیم........................ | ۱۸ |
| قسمت پنجم – تقسیم منافع........................ | ۲۴ |
| قسمت ششم – مشاع اجباری و ملکیت طبقات منازل........................ | ۲۶ |
| مبحث اول – مشاع اجباری........................ | ۲۶ |
| مبحث دوم – ملکیت طبقات منازل........................ | ۲۶ |
| فصل دوم – اسباب کسب ملکیت........................ | ۲۹ |
| قسمت اول – تصاحب........................ | ۲۹ |
| قسمت دوم – انتقال ملکیت به سبب وفات........................ | ۳۱ |
| مبحث اول – میراث........................ | ۳۱ |
| فرع اول – احکام عمومی........................ | ۳۱ |
| فرع دوم – متروکه و توزیع آن........................ | ۳۲ |
| فرع سوم – موانع میراث........................ | ۳۳ |
| فرع چهارم – اسباب میراث........................ | ۳۴ |
| جزء اول – میراث بطریق فرض........................ | ۳۵ |
| جزء دوم – میراث به طریق عصوبت........................ | ۳۹ |
| جزء سوم – حجب........................ | ۴۵ |
| جزء چهارم – رد........................ | ۴۹ |
| جزء پنجم – ارث ذوی الارحام........................ | ۵۰ |

جزء ششم – مقرله به نسب ........................................ ۵۶
جزء هفتم – احکام متفرق........................................ ۵۷
اول – حمل........................................ ۵۷
دوم – مفقود........................................ ۵۹
سوم – خنثی........................................ ۵۹
چهارم – ولد زنا و ولد لعان........................................ ۶۰
پنجم – حوادث غرق، حریق و انهدام........................................ ۶۰
ششم – تخارج........................................ ۶۰
فرع پنجم – تصفیه متروکه ........................................ ۶۱
فرع ششم – تجرید ترکه ........................................ ۶۴
فرع هفتم – تسویه دیون متروکه ........................................ ۶۷
فرع هشتم – تسلیم اموال متروکه و تقسیم آن........................................ ۷۰
مبحث دوم – وصیت........................................ ۷۵
فرع اول – احکام عمومی........................................ ۷۵
فرع دوم – رجوع از وصیت........................................ ۸۰
فرع سوم – قبول یا رد وصیت........................................ ۸۱
فرع چهارم – آثار وصیت........................................ ۸۴
جزء اول – شخصی که بوی وصیت شده ........................................ ۸۴
جزء دوم – شی وصیت شده (موصی به)........................................ ۸۷
جزء سوم – وصیت به منافع........................................ ۹۴
جزء چهارم – وصیت به معاش........................................ ۱۰۱
جزء پنجم – احکام زیادت در مال وصیت شده ........................................ ۱۰۶
فرع پنجم – وصیت واجبه........................................ ۱۰۹
فرع ششم – تزاحم وصایا ........................................ ۱۱۲
فرع هفتم – احکام متفرق........................................ ۱۱۴
مبحث سوم – التصاق........................................ ۱۱۶
فرع اول – التصاق بر غیر عقار........................................ ۱۱۶
فرع دوم – التصاق، اتصال بر منقول........................................ ۱۱۹

مبحث چهارم – عقد انتقال ........................................ ۱۲۰
مبحث پنجم – شفع ........................................ ۱۲۱
فرع اول – احکام عمومی ........................................ ۱۲۱
فرع دوم – ثبوت شفع ........................................ ۱۲۳
فرع سوم – طلب شفع ........................................ ۱۲۶
فرع چهارم – احکام شفع ........................................ ۱۳۰
فرع پنجم – سقوط شفع ........................................ ۱۳۴
مبحث ششم – حیازت ........................................ ۱۳۷
فرع اول – کسب، انتقال و زوال حیازت ........................................ ۱۳۷
فرع دوم – حمایت حیازت ........................................ ۱۴۱
فرع سوم – آثار حیازت ........................................ ۱۴۵
فرع چهارم – تملک اشیاء منقول به اساس حیازت ........................................ ۱۴۸
فرع پنجم – تملک ثمر به حیازت ........................................ ۱۵۰
فرع ششم – استرداد مصارف ........................................ ۱۵۰
فرع هفتم – مسئولیت از بین رفتن شی تحت حیازت ........................................ ۱۵۱
فصل سوم – حقوق متفرع از حق ملکیت ........................................ ۱۵۲
قسمت اول – حق انتفاع ........................................ ۱۵۲
مبحث اول – احکام عمومی ........................................ ۱۵۲
مبحث دوم – انتهای حق ........................................ ۱۵۷
قسمت دوم – حق استعمال و سکونت ........................................ ۱۵۸
قسمت سوم – حق حکر ........................................ ۱۶۱
قسمت چهارم – حقوق مجرد ........................................ ۱۶۶
مبحث اول – حق ارتفاق ........................................ ۱۶۶
مبحث دوم – حقابه ........................................ ۱۶۸
مبحث سوم – حق مرور، مجرا ومسیل ........................................ ۱۷۰
مبحث چهارم – احکام ارتفاق ........................................ ۱۷۱
مبحث پنجم – انتهای ارتفاق ........................................ ۱۷۴
باب دوم – حقوق عینی تبعی ........................................ ۱۷۶

فصل اول – حق حبس مال (قید)................................................... ۱۷۶
فصل دوم – حق اختصاصی ................................................... ۱۷۸
قسمت اول – انشاء حق اختصاصی................................................... ۱۷۸
قسمت دوم – آثار تنقیص وانقضای اختصاص................................................... ۱۸۲
فصل سوم – حقوق تقدم................................................... ۱۸۳
قسمت اول – احکام عمومی................................................... ۱۸۳
قسمت دوم – انواع حقوق تقدم................................................... ۱۸۶
قسمت سوم – حقوق تقدمی که بر عقار وارد می شود..... ۱۹۵

## دريم کتاب
## عيني حقوق

## لومړی باب
## اصلي عيني حقوق

## لومړي فصل
## د ملکيت حقوق

## لومړي قسمت
## د ملکيت تعريف، ساحه او ساتنه

**۱۹۰۰ - ماده:**
ملکيت داسي حق دي چه د هغې په مقتضا شي د شخص د ارادي او تسلط لاندي واقع کيږي. يواځی مالک کولي شي چه د قانون د حکمونو په حدودو کښې د هغې استعمال، ګټه اخيستل او هره نوعه مالکانه تصرف ته اقدام وکړ.

**۱۹۰۱ - ماده:**
د يو شي مالک د ټولو هغو څه چه د هغې د اصلي عناصرو د جملي څخه حسابيږی او د شي څخه د هغې انفصال بي د شي د هلاکيدو، تلفيدو يا تغيريدو ممکن نه وي، مالک ګڼل کيږي.

## کتاب سوم
## حقوق عينی

## باب اول
## حقوق عينی اصلی

## فصل اول
## حقوق ملکيت

## قسمت اول
## تعريف، ساحه و حمايت ملکيت

**مادهٔ - ۱۹۰۰:**
ملکيت، حقی است که به مقتضای آن شی تحت اراده و تسلط شخص قرار ميگيرد و تنها مالک ميتواند در حدود احکام قانون به استعمال، بهره برداری و هر نوع تصرف مالکانه در آن بپردازد.

**مادهٔ - ۱۹۰۱:**
مالک شی، مالک تمام آنچه که از عناصر اصلی آن شمرده شده و انفصال آن از شی بدون از بين رفتن يا تلف شدن يا تغيير يافتن شی ممکن نباشد، شناخته ميشود.

**۱۹۰۲ - ماده:**
(۱) د ځمکې د ملکيت ساحه هغه څه ته چه د ژوروالي او لوړوالی له حيثه عادت او مجاز دي ، شامله ده.

(۲) د ځمکې د سطحي ملکيت د موافقي يا د قانون د حکم سره سم د هغې د لوړوالی اوژوروالي د ملکيت څخه جلا کيداي شي.

**۱۹۰۳ - ماده:**
د هيچا ملکيت د هغه د لاسه نه شي ايستل کيداي ، مگر د قانون د حکم په موجب.

**دوهم قسمت**
**د ملکيت قيود**

**۱۹۰۴ - ماده:**
مالک کولي شي پخپل ملکيت کښې د قانون په حدودو کښې تصرف وکي

**۱۹۰۵ - ماده:**
که د ملکيت سره د بل چا حق تعلق ونيسي نو مالک نه شي کولي په هغې کښې داسي تصرف و کي چه د بل چا د ضرر موجب وگرځی، مگر د حق د خاوند په اجازي.

**۱۹۰۶ - ماده:**
فاحش ضرر پخواني وي او که نوي د

**مادۀ - ۱۹۰۲:**
(۱) ساحۀ ملکيت زمين، به آنچه که عمقاً و ارتفاعاً معتاد و مجاز است شامل می باشد.

(۲) بموجب موافقه يا حکم قانون، ملکيت سطح زمين از ملکيت مافوق و ماتحت آن مجزا شده می تواند.

**مادۀ - ۱۹۰۳:**
ملکيت هيچ شخص از دست او کشيده شده نميتواند ، مگر بموجب قانون.

**قسمت دوم**
**قيود ملکيت**

**مادۀ - ۱۹۰۴:**
مالک ميتواند در ملکيت خود در حدود قانون تصرف نمايد.

**مادۀ - ۱۹۰۵:**
هرگاه به ملک حق غير تعلق بگيرد ، مالک نميتواند در آن طوری تصرف نمايد که موجب ضرر غير گردد. مگر به اجازه صاحب حق.

**مادۀ - ۱۹۰۶:**
ضرر فاحش قديم باشد يا جديد از

مینځه ورړل کیږي.

**۱۹۰۷ - ماده:**

فاحش ضرر هغه دي چه د بنا د ماتیدو یا نړیدو سبب شي یا داچه د اصلي احتیاجونو چه د هغې د مقصوده ګټو څخه عبارت دي، مانع وګرځی.

**۱۹۰۸ - ماده:**

د کور څخه په کلي توګه د رڼا مانع کیدل، فاحش ضرر ګڼل کیږي. هیڅوك نه شي کولي چه داسي بنا جوړه کي چه د ګاونډی د کور کړکي بنده کي او په هغې کښې په کلي توګه د رڼا کړه نو ګاونډی کولي شي د امکان په صورت کښې د ضرر د لیري کیدلو او که ئی امکان نه لرلو، نو د ضرر د لیري کیدلو د پاره د بنا د مینځه وړلو غوښتنه وکي.مانع شي. که چا داسي بنا جوړه

**۱۹۰۹ - ماده:**

که څوك عمارت جوړ وي، نو باید چه هغه په داسي توګه جوړ کي چه د ګاونډي د عمارت د پخواني کړکي څخه متضرر نه شي.

**۱۹۱۰ - ماده:**

که څوك پخپل مصرف د اوبه کولو

بین برده میشود.

**مادۀ - ۱۹۰۷:**

ضرر فاحش آن است که سبب شکست یا انهدام بنا گردیده و یا مانع حوایج اصلی که عبارت از منافع مقصود آن است گردد.

**مادۀ - ۱۹۰۸:**

مانع شدن روشنی بطور کلی از خانه ضرر فاحش شمرده میشود، هیچکس نمیتواند چنان بنائی اعمار نماید که کلکین خانه همجوار را مسدود ساخته و بطور کلی مانع روشنی در آن گردد. در صورت احداث چنین بنأ، همجوار میتواند دفع ضرر را در صورت امکان و در غیر آن از بین بردن بنأ را برای دفع ضرر مطالبه نماید.

**مادۀ - ۱۹۰۹:**

شخصیکه عمارتی بناء میکند باید آنرا طوری اعمار نماید که از کلکین، عمارت قدیمه همجوار متضرر نگردد.

**مادۀ - ۱۹۱۰:**

شخصیکه بمصرف خود منبع

منبع يا دزياتڅي اوبو مجري د دي دپاره جوړوي چه ورڅخه خپلي ځمکې او به کي، نو نور خلک حق نه لري چه بي د هغه د اجازي څخه ورنه ګټه واخلي.

**۱۹۱۱ – ماده:**
عامو خلکو ته د ضرر نه رسولو په مراعات کولو سره، د عمومي ويالي څخه د اوبو د ګټې اخيستلو د حق او د هغې د توزيع تاکل به د هغې ځمکې په اندازي وي چه اوبه کول ايجابوي.

**۱۹۱۲ – ماده:**
د هغو ځمکو مالک چه د آلاتو يا نهرپه وسيلي خپله ځمکه او به کوي، نوکه دبل چا په ځمکو د اوبو تيرولو حق و نه لري، نه شي کولي چه بي د ذکر شوي ځمکې د مالک د اجازي څخه، هغه د خپلو اوبو په تيرولو مجبوره کي.

**۱۹۱۳ – ماده:**
که څوك دبل چا په ځمکې د اوبو د تيرولو حق ولري، نو د ذکر شوي ځمکې مالک نه شي کولي چه پخپلي ځمکې کښې د هغه داوبو د تيرولو مانع شي.

آبياری يا مجرای آب فاضل را بمنظور آبياری اراضی خويش احداث می نمايد، اشخاص ديگر بدون اجازه وی حق انتفاع را از آن ندارند.

**مادۀ – ۱۹۱۱:**
با رعايت عدم ضرر رساندن به عامه، تعيين حق استفاده از آب، نهر عمومی و توزيع آن به اندازه زمينی ميباشد که آبياری را ايجاب ميکند.

**مادۀ – ۱۹۱۲:**
مالک اراضی ايکه بواسطۀ آلات يا نهر زمين خود را آبياری مينمايد در حاليکه حق جريان آب را بر اراضی غير نداشته باشد نميتواند مالک زمين مذکور را به جريان آب خود مجبور گرداند.

**مادۀ – ۱۹۱۳:**
هرگاه شخص حق جريان آب را بر زمين ديگری داشته باشد، مالک زمين مذکور نمی تواند مانع جريان آب او در زمين خود گردد.

**۱۹۱۴ - ماده:**

که څوك خپله ځمکه په عادي صورت چه ځمکه يي زغم و کولي شي او به خوړکي او د هغې په اثر او به د بل چاپه ځمکې کښې جريان پيداکي او کښت يي د مينځه لاړشي، ضامن نه ګڼل کيږي. که خپله ځمکه په غير عادي صورت او به کي او بل چا ته ورڅخه ضرر ورسيږي، ضامن ګڼل کيږي.

**۱۹۱۵ - ماده:**

د اوبو حق په ميراث وړل کيږي. د هغې څخه په ګټه اخيستلو وصيت کول جواز لري.

**۱۹۱۶ - ماده:**

(۱) داوبو حق د ځمکې تابع دي.

(۲) د ځمکې د خاوند داوبه خوړ د ضرورت څخه د زياتو اوبو د حق خرڅول، هبه او اجاره، د ځمکې د اوبه خوړ د پاره جواز نه لري.

(۳) د ځمکې د حق آبي او اوبو کولو نور مربوط حکمونه چه په دي قانون کښې پيشبيني نده شوي د خاص قانون د حکمونو تابع دي.

**مادهٔ - ۱۹۱۴:**

شخصيکه زمين خود را بصورت عادی طوريکه زمين آن را تحمل بتواند، آبياری نمايد و به اثر آن آب در زمين شخص ديگری جريان پيدا کند و زراعت او را از بين ببرد، ضامن شناخته نميشود و اگر زمين خود را بصورت غير عادی آبياری نموده و شخص ديگری از آن متضرر گردد، ضامن شناخته ميشود.

**مادهٔ - ۱۹۱۵:**

حقابه به ميراث برده ميشود و با استفاده از آن وصيت جواز دارد.

**مادهٔ - ۱۹۱۶:**

(۱) حق آبهٔ زمين، تابع زمين می باشد.

(۲) فروش، هبه و اجاره حقابه زمين زايد از ضرورت صاحب زمين، جز بمنظور آبياری زمين جواز ندارد.

(۳) ساير احکام مربوط به حق آبه و آبياری زمين که در اين قانون پيش بينی نشده، تابع احکام قانون خاص ميباشد.

**۱۹۱۷ - ماده:**

د ځمکې مالک مکلف دي چه د اوبو د منبع څخه د هغو خلکو د ځمکو داوبه کولو دپاره د خپلو ځمکو څخه د کافي اوبو د تیریدلو اجازه ورکي چه ځمکی یې لیرې پرتې دي. همدارنګه مکلف دي چه د نږدی ځمکو خاوندانو ته اجازه ورکي چه د هغوي زیاتګی اوبه په ډیرې نږدی عمومي ویالي کښې توی شي، خو په دې شرط چه د هغې په بدل کښې عادلانه تعویض ورکړه شي.

**۱۹۱۸ - ماده:**

که د اوبو ټول شریکان پخپله رضا د نهر یا ویالي ضروري اصلاحاتو ته اقدام ونه کي نو که د شریکانو څخه هریو د دې کار غوښتنه وکړه، نور شریکان په هغې مجبوره کول کیږي.

**۱۹۱۹ - ماده:**

د هغې ځمکې مالک چه د عمومي لارې سره بیخي اتصال نه لري یا د هغې ته دتلو راتلو لار کافي نه وي اوسخته وي، په دې توګه چه د کافي لارې جوړ ول بې د زیاتو مصرفونو یا بې د زیاتو سختیو څخه ممکن نه وي، نوکولی شي چه د عادلانه تعویض په بدل کښې د ګاونډی په ځمکې کښې په لازمې اندازې تصرف وکي،او هغه

**مادۀ - ۱۹۱۷:**

مالک زمین مکلف است، بجریان آب کافی بمنظور آبیاری زمین های دور ملکیت اشخاص دیگر از منبع آب بر زمین خود اجازه بدهد و همچنان به فاضل آب آبیاری شدۀ زمین های مذکور که در نزدیک ترین جوی عمومی بریزد، اجازه نماید. مشروط بر اینکه در برابر آن تعویض عادلانه داده شود.

**مادۀ - ۱۹۱۸:**

هرگاه تمام مشترکین آب به رضائیت خویش به اصلاحات ضروری نهر یا جوی نپردازند، به اساس مطالبۀ هر یک از شرکاء به این امر وادار ساخته میشوند.

**مادۀ - ۱۹۱۹:**

مالک زمینیکه اصلاً براه عام اتصال ندارد و یا راه مرور به آن ناکافی و دشوار باشد، طوریکه احداث راه کافی بدون تحمل مصارف گزاف یا دشواری بزرگ میسر نباشد، میتواند در برابر تعویض عادلانه در زمین همجوار به اندازه لازم تصرف و آن را استعمال نماید. مشروط بر اینکه از حد معتاد

استعمال کي. خوپه دي شرط چه د معتادي اندازي څخه تيري ونه کي او دا حق په هغې ځای کښې استعماليدي شي چه تنګ او راتنګ درباندي په ډيرکم ضرر ممکن شي.

**۱۹۲۰ - ماده:**
که د عمومي لاري سره د وصليدو مانع د عقار د قانوني ويشلو او تجزيي څخه پيدا شوي وي او د کافي لاري جوړول د ذکر شوي عقار په اجزاوو کښې ممکن وي، نو د تلو او راتلو د حق غوښتنه بي د همغي اجزاوو څخه جواز نه لري.

**۱۹۲۱ - ماده:**
د ګاونډيو ځمکو د مالکانو څخه هر يو کولي شي بله خوا د وصل شوو ځمکو د حدودو په ټاکلو مجبوره کي، د حدودو د ټاکلو مصرفونه به د دواړو خواوو ترمنځ شريک وي.

**۱۹۲۲ - ماده:**
که د دوه نفرو د منيځ يو ديوال شريک وي نو د دواړو خواوو څخه هيڅ يو نه شي کولي، بي د بلي خوا د اجازي څخه د ديوال لوړوالی ته تغيير ورکي او يا ور باندي بله بنا زياته کي.

تجاوز ننمايد و اين حق تنها در موضع استعمال شده مي تواند که با كمترين ضرر رفت و آمد مقصود بدست آيد.

**مادهٔ - ۱۹۲۰:**
هرگاه مانع اتصال براه عام از تقسيم و تجزيه قانوني عقار نشات كرده باشد و احداث راه كافي در اجراء عقار مذكور ممكن باشد، مطالبهٔ حق مرور بجز در همان اجزاء جواز ندارد.

**مادهٔ - ۱۹۲۱:**
هر يک از مالكين اراضي همجوار، ميتوانند طرف ديگر را با تعيين حدود در اراضي اتصال يافتهٔ يكديگر مجبور سازند. مصارف تعيين حدود بين طرفين مشترک مي باشد.

**مادهٔ - ۱۹۲۲:**
هرگاه ديواري بين دو نفر مشترک باشد، يكي از طرفين نميتواند بدون اجازه طرف ديگر به تغيير ارتفاع آن بپردازد يا بناء ديگري را به آن بيفزايد.

**۱۹۲۳ - ماده:**
هر شریک کولي شي چه په شریک دیوال باندي د شریک په اندازي لرګي یا نور استنادي مواد کښېږدي، خو په دي شرط چه د ذکر شوي دیوال د مقاومت د حدود و څخه زیات نه وي. د دیوال دسلامتیا د مراعات کولو سره که یو شریک بي د بل شریک د اجازي څخه د لرګو ځای ته تغیر ورکي او یا په کښېي زیاتوالي راوړي، جواز نه لري.

**مادهٔ - ۱۹۲۳:**
هر یک از شرکاء می توانند بالای دیوار مشترک باندازه شریک، چوب یا دیگر مواد استنادیه های خویش را بگذارد، مشروط بر اینکه از حدود مقاومت دیوار مذکور تجاوز نکند. تزئید یا تغییر مکان چوب از طرف یک شریک بدون اجازه شریک دیگر با رعایت سلامت دیوار جواز ندارد.

**۱۹۲۴ - ماده:**
که شریک دیوال خپل مقاومت دلاسه ورکي او د ړنګیدو ویره یي موجوده وي، نو که یو شریک د هغې د خرابولو اراده وکي او بل شریک ئې ممانعت وکي،منع کوونکي د دیوال په خرابولو مجبور کول کیږي.

**مادهٔ - ۱۹۲۴:**
هرگاه دیوار مشترک مقاومت خود را از دست داده و خوف انهدام آن موجود باشد، اگر یکی از شرکاء اراده خراب کردن آنرا بنماید و شریک دیگر ممانعت کند. منع کننده به تخریب دیوار مجبور کرده میشود.

**۱۹۲۵ - ماده:**
که شریکان د دیوال نړیدو ته اقدام وکي یا ذکر شوي دیوال و غور ځیږي او هر شریک په هغې یو استنادي شي اینبي وي او د هغې دبیا جوړولو څخه یو شریک ممانعت وکي، نو منع کوونکي شریک په مطلق صورت د هغې په جوړولو مکلف کیږي. که یو شریک د محکمې په اجازي د هغې بیاجوړولو ته اقدام وکي نو د شریک د

**مادهٔ - ۱۹۲۵:**
هرگاه شرکاء به انهدام دیوار مشترک بپردازند، یا دیوار مذکور به افتد و هر شریک بالای آن چیزی گذاشته باشد و در تعمیر مجدد آن یکی از شرکاء ممانعت نماید، شریک منع کننده بصورت مطلق به ساختن آن مکلف میشود. در صورتیکه یکی از شرکاء به اجازهٔ محکمه به اعمار آن بپردازد، مصارف آنرا به مقدار حصهٔ

حصې په اندازې د هغې د مصرف غوښتنه کولی شي ، ترڅو چه ذکر شوي شریک خپله حصه ورنه کې، بل شریک کولی شي چه هغه د دیوال څخه د ګټې اخیستلو نه منع کې.

**۱۹۲۶ - ماده:**

که یو دیوال د بناء په وخت کښې د دوه عمارتونو ترمنځ فاصل حد وي، د دواړو بنا ګانو د جداکولو تر وخته پوري، دیوال شریک ګڼل کیږي، مګر دا چه د هغې په عکس بل کوم دلیل پیدا شي.

**۱۹۲۷ - ماده:**

کوم ګاونډی چه ددیوال د جوړولو په مصرفونو کښې برخه نه وي اخیستي، نو هغه وخت په دیوال کښې شریک ګڼل کیږي چه د بنا مصرف او د هغې ځمکې قیمت چه دیوال وربانده ولاړ دي ورکې.

**۱۹۲۸ - ماده:**

یو ګاونډی نه شي کولي چه خپل ګاونډی د هغه د ملکیت په حدودو کښې د دیوال یا د بل کوم شي په جوړولو مکلف کې، همدارنګه نه شي کولي چه هغه د دیوال په یوې برخې په ورکولو او یا د هغې ځمکې د برخي په ورکولو مکلف کې چه دیوال ور

شریک دیگر مطالبه کرده میتواند و تا زمانیکه شریک مذکور حصۀ خویش را نپردازد شریک دیگر میتواند او را از استفاده از دیوار منع نماید.

**مادۀ - ۱۹۲۶:**

دیواریکه هنگام بناء حد فاصل بین دو عمارت باشد، تا زمان جدائی دو بناء دیوار مشترک دانسته میشود. مگر وقتیکه دلیل دیگری بعکس آن ظاهر شود.

**مادۀ - ۱۹۲۷:**

همجواریکه در مصارف اعمار دیوار سهم نگرفته، وقتی شریک دیوار شناخته میشود که نصف مصارف بناء و نصف قیمت زمین را که دیوار بر آن واقع است، بپردازد.

**مادۀ - ۱۹۲۸:**

همجوار، نمیتواند همجوار دیگر را به اعمار دیوار یا چیز دیگری در داخل حدود ملکیت او مکلف سازد، همچنان نمیتواند او را به دادن قسمتی از دیوار او یا قسمتی از زمینیکه دیوار بر آن بنأ

باندي ولاړ دي مګر د دي قانون د (۱۹۲۷) مادې د حکم په حدودو کښېږي.

**۱۹۲۹ - ماده:**

ګاونډی حق نه لري ديوه متر څخه په کمي اندازي کښېږي د ګاونډی په طرف کړکي ياوړه کړکي ولري. مسافه د هغې د يوال د شا چه کړکي ياوړه کړکي په کښې واقع ده يا دديوال دباندني غاړي څخه اندازه کيږي.

**۱۹۳۰ - ماده:**

ګاونډی کولي شي چه د ګاونډی د داسي عقار په مقابل کښې کړکي ياوړه ملاقي کړکي ولري چه په عين وخت کښې د عمومي لاري په مقابل کښې وي.

**۱۹۳۱ - ماده:**

درنها ور کولو ځای چه قاعده يې د اطاق د سطحي څخه د انسان د قد څخه زيات لوړ والي ولري او د هغې څخه د هوا جريان او د رڼا ننوتل منظور وي په داسي توګه چه عادتاً د هغې څخه د ګاونډی د عقار کتنه ممکنه نه وي، نو په هغې کښې د مسافي اندازه شرط نه ده.

شده وا دار سازد مگر در حدود حکم مادۀ (۱۹۲۷) این قانون.

**مادۀ - ۱۹۲۹:**

همجوار حق ندارد، بطرف همجوار خود در مسافۀ کمتر از یک متر کلکین یا کلکینچه داشته باشد مسافه از عقب دیواریکه کلکین یا کلکینچه در آن واقع است یا از کنار خارجی دیوار اندازه میشود.

**مادۀ - ۱۹۳۰:**

همجوار میتواند که کلکین، کلکینچه ملاقی در برابر عقار همجوار که در عین وقت در برابر راه عام باشد، داشته باشد.

**مادۀ - ۱۹۳۱:**

روشن دانیکه قاعدۀ آن از سطح اطاق بیشتر از قامت انسان ارتفاع داشته باشد و منظور از آن جریان هوا و داخل شدن روشنی باشد، طوریکه دیدن از آن عادتاً بر عقار همجوار ممکن نباشد، اندازۀ مسافه در آن شرط نیست.

**۱۹۳۲ - ماده**

فابریکه، دستګاه یا کوهي یا نور داسي تأسیسات چه ګاونډی ته ضرر رسوي، باید په داسي مسافي کښې آباد شي چه ګاونډی ته یې ضرر ونه رسیږي.

**۱۹۳۳ - ماده:**

که عقد یا وصیت د داسي شرط متضمن وي چه د هغې په مقتضا په مال کښې تصرف منعي شوي وي، ذکر شوي شرط چه ترڅو په مشروع سبب او د معقولي مودي پوري منحصر نه وي، صحیح نه دي. سبب هغه وخت مشروع ګڼل کیږي چه د هغې څخه د تصرف کوونکي حایز یا د متصرف الیه یا د بل چا دګټې ساتنه منظور وي. موده هغه وخت معقوله ګڼل کیږي چه د تصرف کوونکي یا د متصرف الیه یا دبل چا د ژوند پوري مقیده وي.

**۱۹۳۴ - ماده:**

که د تصرف څخه د منع کولو په باره کښې په عقد یا وصیت کښې وارد شوي شرط ددي قانون دي (۱۹۳۳) مادې د حکم سره سم صحیح وي د هغې څخه هره نوعه مخالف تصرفه باطل دي.

**مادۀ - ۱۹۳۲:**

فابریکه، دستگاه تجارتی، چاه و دیگر تأسیساتیکه به همجوار ضرر می رساند، باید در مسافه اعمار گردد که ضرر آن به همجوار نرسد.

**مادۀ - ۱۹۳۳:**

هرگاه عقد یا وصیت متضمن شرطی باشد که بمقتضای آن تصرف در مال منع گردیده باشد، شرط مذکور تا زمانیکه مبنی بر سبب مشروع و منحصر بمدت معقول نباشد صحیح نمیباشد. سبب وقتی مشروع پنداشته میشود که منظور از منع تصرف حمایت منفعت حایز متصرف یا متصرف الیه یا شخص ثالث باشد و مدت هنگامی معقول شمرده میشود که مقید به حیات متصرف یا متصرف الیه یا شخص ثالث باشد.

**مادۀ - ۱۹۳۴:**

هرگاه شرط وارده در عقد یا وصیت مبنی بر منع از تصرف طبق حکم مادۀ (۱۹۳۳) این قانون صحیح باشد هر نوع تصرف مخالف آن باطل شمرده میشود.

## دریم قسمت
## شریک ملکیت

**۱۹۳۵ - ماده:**
که دیوه عین ملکیت د دوه نفرو یا د هغوي څخه د زیاتو ترمنځ شریک وي نو هریو د خپلي حصي په اندازي د هغې څخه د ګټې اخیستلو حق لري، او کولي شي په هغې کښې داسي تصرف وکي چه بل شریک ته ورڅخه ضرر ونه رسیږی همدارنګه که د شریک عین اندازه معلومه وه نو په شریکه توګه د هغې خرڅول، استثمار او استعمال جواز لري، خو په دي شرط چه د نورو شریکانو حقوقو ته ضرر ونه رسیږي.

**۱۹۳۶ - ماده:**
که یو شریک د شریک مال یوه ټاکلی برخه تصرف کي ، او ذکر شوي برخه د ویشلو په وخت کښې د هغه په حصي کښې واقع نه شي، نو د متصرف الیه حق همغي جزء ته نقلیږي چه دویشلو وروسته د متصرف پوري تعلق نیسي، په هغې صورت کښې چه تصرف کوونکي په شریک ملکیت کښې خپله نا خبرتیا په تصرف کړه شوي عین کښې ثابته کي، کولي شي چه د تصرف باطلیدوته اقدام وکي.

## قسمت سوم
## ملکیت مشاع

**مادۀ - ۱۹۳۵:**
هرگاه ملکیت عین، بین دو نفر یا زیاده از آن مشاع باشد ، هر یک آنها به اندازۀ حصۀ خویش از آن حق استفاده داشته و میتواند در آن طوری تصرف نماید که به شریک دیگر ضرر عاید نگردد. همچنان در صورتیکه مقدار مشاع معلوم باشد بیع و بهره برداری آن بصورت مشاع جواز دارد و استعمال آن نیز جواز دارد ، مشروط بر اینکه به حقوق سایر شرکاء ضرر عاید نگردد.

**مادۀ - ۱۹۳۶:**
هرگاه یکی از شرکاء یک قسمت معیین مال مشاع را تصرف نماید و آن قسمت مال حین قسمت در حصۀ او واقع نشود ، حق متصرف الیه به همان جزئیکه بعد از تقسیم به متصرف تعلق میگیرد ، انتقال می نماید و در صورتیکه متصرف عدم معرفت خویش را مبنی بر مکلیت مشاع در عین متصرف فیها ثابت نماید ، میتواند به ابطال تصرف بپردازد.

**۱۹۳۷ - ماده:**
د شریک مال اداره کول د ټولو شریکانو حق دي، مګر دا چه موافقه بل رنګه شوي وي.

**۱۹۳۸ - ماده:**
شریکان په شریک مال کښې د اکثریت د رایو تابع وي او اکثریت د حصو د قیمت په اندازو محاسبه کیږي، نوکه اکثریت محقق نه شو، محکمه کولي شي د یوه شریک په غوښتنه ضروري تدبیرونه ونیسي. همدارنګه محکمه کولي شي د ضرورت په وخت کښې یو شخص و ټاکي چه شریک مال اداره کي.

**۱۹۳۹ - ماده:**
د شریک مال هر شریک کولي شي چه د ذکر شوي مال د ساتني د پاره د لازمي وسیلو څخه کار واخلي، که څه هم نور شریکان پري موافقه ونه لري.

**۱۹۴۰ - ماده:**
په شریک کور کښې هر شریک د خپلي حصي په اندازي د اوسیدلو حق لري.

**۱۹۴۱ - ماده:**
د دوه شریکانو د جملې څخه دیوه شریک حصه دبل شریک سره د امانت حیثیت لري، نو که بي د هغه د قصور

**مادۀ - ۱۹۳۷:**
اداره مال مشاع حق تمام شرکاء میباشد، مگر اینکه موافقه طور دیگری صورت گرفته باشد.

**مادۀ - ۱۹۳۸:**
شرکاء در مال مشاع تابع رای اکثریت میباشند و اکثریت به اساس قیمت حصصی محاسبه میشوند. در صورت عدم تحقق اکثریت محکمه میتواند تدابیر ضروری را به اساس درخواست یکی از شرکاء اتخاذ نماید، همچنان محکمه میتواند هنگام ضرورت شخصی را تعیین نماید تا مال مشاع را اداره نماید.

**مادۀ - ۱۹۳۹:**
هر یک از شرکاء مال مشاع میتواند وسایل لازمی را جهت حفاظت مال مذکور اتخاذ نماید، گرچه سایر شرکاء به آن موافقت نداشته باشند.

**مادۀ - ۱۹۴۰:**
هر یک از شرکاء به اندازۀ حصۀ خود در خانه مشترک حق سکونت را دارد

**مادۀ - ۱۹۴۱:**
حصۀ یکی از دوشریک در دست شریک دیگر حیثیت امانت را داشته، در صورتیکه بدون قصور او از بین

ثخه هلاک شو، ضامن نه ګڼل کیږي.

**۱۹۴۲ - ماده:**
که شریک ملکیت اصلاح کولو او ترمیمولو ته محتاج وي، نو شریکان به په هغې کښې د خپلو حصو په اندازي برخه اخلي.

**۱۹۴۳ - ماده:**
که یو شریک د نورو شریکانو په اجازي شریک ملکیت آبادکي، نو کولي شي چه د هر شریک د حصي په اندازي د هغې د مصرف غوښتنه وکي. که ئي د شریکانو د اجازي په غیر آبادولو ته اقدام کړی وو، متبرع ګڼل کیږي او هر شریک چه دخپلي حصي د آبادولو اجازه نه وي ورکړی د هغې په قیمت ور باندي رجوع نه شي کولي.

**۱۹۴۴ - ماده:**
(۱) که داسي شریک ملکیت چه دویشلو قابلیت نه لري، اصلاح کولو او ترمیمولو ته محتاج شي او یو شریک غایب وي نو د هغې د اصلاح کولو او ترمیمولو دپاره د محکمې د اجازي اخیستل هرو مرو دي. په دي صورت کښې هغه چا چه اصلاح او ترمیم کړی ذکر شوي مصرفونه د حاضرو شریکانو ثخه او دغایب ثخه د هغه د حاضریدو وروسته د هغوي د

برود، ضامن شناخته نمیشود.

**مادهٔ - ۱۹۴۲:**
هرگاه ملکیت مشترک محتاج اصلاح و ترمیم باشد، شرکاء در آن مشترکاً به اندازهٔ حصص خود سهم میگیرند.

**مادهٔ - ۱۹۴۳:**
هرگاه یک شریک به اجازهٔ سایر شرکاء در اعمار ملکیت مشترک بپردازد، میتواند مصارف آن را به اندازه حصص هر یک مطالبه نماید و در صورتیکه بدون اجازه به چنین عمل مبادرت نموده باشد، متبرع شناخته شده و شریکی که به قیمت حصهٔ خود اجازه نداده رجوع کرده نمی تواند.

**مادهٔ - ۱۹۴۴:**
(۱) هرگاه ملکیت مشترکی که قابل قسمت نبوده محتاج اصلاح و ترمیم گردد و یکی از شرکاء غایب باشد، حصول اجازهٔ محکمه در خصوص اعمار آن حتمی است. درین صورت کسیکه به ترمیم می پردازد میتواند مصارف مذکور را از شرکاء و شریک و غایب بعد از حضور وی باندازه حصهٔ هر یک مطالبه

حصو په اندازي وغواړي.

(۲) که ذکر شوي اقدام بي اجازي صورت مونډلي وي نو د خپلو مصرفونو په باره کښې نورو شريکانو ته رجوع نه شي کولي.

**۱۹۴۵ – ماده:**
که داسي ملکيت چه د ويشلو وړ نه وي ړنګ شي اويو شريک د هغې د آبادولو اراده وکي اوبل ورځخه ځان وژغوري، ځان ژغورونکي په آبادولو نه مکلف کيږي. که يو شريک د بل شريک يا محکمې د اجازي په غير د هغې جوړولو ته اقدام وکي، تبرع کوونکي ګڼل کيږي.

**۱۹۴۶ – ماده:**
که د داسي شريک مال يوه برخه چه دويشلو وړ نه وي ړنګه شي او يو شريک د هغې د آبادولو اراده ولري، او نور شريکان ورځخه ځان وژغوري، نو که شريک د محکمې په اجازي د هغې آبادولو ته اقدام وکي، کولي شي چه نور شريکان د هغوي د مصرف د حصي د اداء کولو تر وخته پوري د ذکر شوي ملکيت د ګټې اخيستلو ځخه منعي کي. که شريک بي د محکمې د اجازي د هغې جوړولو ته اقدام وکي نو

نماید.

(۲) اگر اقدام مذکور بدون اجازه صورت گیرد، راجع به مصارف خود بر سایر شرکاء رجوع کرده نمی تواند.

**مادۀ – ۱۹۴۵:**
هرگاه ملکیت مشترک غیر قابل قسمت منهدم گردد و یکی از شرکاء ارادۀ اعمار آنرا داشته و دیگری امتناع آورد، ممتنع به اعمار مکلف شده نمیتواند. در صورتیکه یکی از شرکاء بدون اجازۀ شریک دیگر و یا محکمه به آن اقدام نماید، متبرع شناخته میشود.

**مادۀ – ۱۹۴۶:**
هرگاه قسمتی از ملک مشترک غیر قابل قسمت، منهدم گردد و یکی از شرکاء ارادۀ اعمار آنرا داشته و شرکاء دیگر از آن امتناع آورند، در حالیکه شریک به اجازۀ محکمه به اعمار آن اقدام نماید، میتواند سایر شرکاء را الی زمان تادیۀ مصرف، حصۀ آنها را از انتفاع ملکیت مذکور منع نماید و اگر شریک بدون اجازه محکمه به اعمار آن اقدام نماید،

په نورو شريکانو باندي د هغه د رجوع کولو حق ساقطيږي.

**۱۹۴۷ - ماده:**
که شريک ملکيت چه د ويشلو وړ نه دي بيخي ړنګ او آوار شي، هيڅ يو شريک د هغې په آبادولو مکلف نه دي او ځمکه يي د هغوي ترمنځ ويشل کيږي.

**۱۹۴۸ - ماده:**
په شريک مال باندي د اداري کولو، ساتني، ماليو او نورو تکليفونو مصرفونه چه ورته رسيدلي يا ټاکل شوي د هر شريک د حصي په اندازي تحميليږي، مګر دا چه موافقه بل رنګه شوي وي.

**۱۹۴۹ - ماده:**
کوم شريکان چه کم ترکمه د شريک مال د دري ربعو مالکان وي، کولي شي چه نورو شريکانو ته د اعلان په کولو سره د ذکر شوي مال د تصرف په خصوص کښې تصميم ونيسي، خو په دي شرط چه په پخوانيو موجبه سببونو استناد وکي، کوم شريک چه په داسي تصميم اعتراض ولري، کولي شي چه د اعلان د نيټې څخه د دوه مياشتو په اوږدو کښې واک لرونکي محکمې ته

حق مراجعه او بر ساير شركاء ساقط ميگردد.

**مادۀ - ۱۹۴۷:**
هرگاه ملكيت مشترک غير قابل قسمت کاملاً منهدم گرديده و هموار شود، هيچ يک از شرکاء به اعمار آن مكلف نبوده زمين آن بين شركاء تقسيم ميشود.

**مادۀ - ۱۹۴۸:**
مصارف اداره کردن حفاظت و ماليات وساير تكاليف عايده يا تعيين شده، بر مال مشترک را هر شريک به اندازه حصۀ خود در مال مشترک متحمل ميگردد. مگر اينكه موافقه طور ديگری صورت گرفته باشد.

**مادۀ - ۱۹۴۹:**
شركائيكه حد اقل مالک سه ربع مال مشاع باشند، ميتوانند با اعلان به ساير شركاء در خصوص تصرف بر مال مذكور تصميم اتخاذ نمايند. مشروط بر اينكه به اسباب موجبه قديمه استناد نمايند، شريكی كه بر اتخاذ چنين تصميم اعتراضی داشته باشد، ميتواند در خلال دو ماه از تاريخ اعلان به محكمة با صلاحيت رجوع

رجوع وکي، محکمه کولي شي چه د تصرف په ضرورت حکم وکي او یا یي رد کي.

**۱۹۵۰ - ماده:**

(۱) شریک په شریک منقول مال کښې یا په ټولو مالونو کښې کولي شي دویشلو ترمخه د هغې شریک حصي مال د بیرته رد ولو غوښتنه وکي چه دبل شریک له خوا خرڅ شوي دي خو په دي شرط چه دا غوښتنه د هغې د خرڅولو د خبریدو د نیټې څخه د دیرش ورځو په اوږدو کښې یا یي د خرڅولو د اعلان د نیټې څخه د خرڅوونکي او اخیستونکي د خبرتیا د پاره توجیه کړې وي . په دي صورت کښې د بیرته ردولو غوښتونکي په ټولو حقوقو او التزامونو کښې د اخیستونکي قایم مقام کیږي، خو په دي شرط چه د هغه ټول مصرفونه تعویض کي.

(۲) که شریکان چه د پورتني فقري د خرڅ کړه شوي مال د بیرته اخیستلو غوښتنه کوي، متعدد وي، نو هر یو کولي شي چه د خپلي حصي په اندازي د هغې د بیرته اخیستلو غوښتنه وکي.

نماید، محکمه می تواند بر ضرورت تصرف حکم و یا آنرا رد نماید.

**مادهٔ - ۱۹۵۰:**

(۱) شریک در مال مشاع منقول یا در مجموع اموال میتواند قبل از تقسیم مطالبهٔ استرداد آن حصهٔ از مال مشاع را نماید که از جانب شریک دیگر بفروش رسیده، مشروط بر اینکه این مطالبه را در خلال مدت سی روز از تاریخ علم او بفروش، یا از تاریخ اعلان بفروش غرض اطلاع بیایع و مشتری توجیه نموده باشد. در این صورت مسترد کننده در تمام حقوق و تعهدات قایم مقام مشتری قرار میگیرد. بشرطیکه تمام مصارف او را تعویض نماید.

(۲) اگر شرکائیکه رد کردن مال فروخته شده فقرهٔ فوق را مطالبه می نمایند متعدد باشند، هر یک میتواند به اندازهٔ حصهٔ خود رد آنرا مطالبه نماید.

## ثلورم قسمت
## دويشلو په اثر دشريکی ليری کيدل

**۱۹۵۱ - ماده:**
ويش د شريکي حصي د ټاکلو او د هغې د اداء کولو څخه عبارت دي، چه د شريکانو په رضائيت يا د محکمې په حکم صورت نيسي.

**۱۹۵۲ - ماده:**
په رضا سره ويش د يوه ويشوونکي په غياب کښې جواز نه لري د صغير ولي يا وصي په ويش کښې د صغير قايم مقام ګرځی. خو په دي شرط چه واک لرونکي محکمه د قانون د حکمونو سره سم په هغې موافقه وکي.

**۱۹۵۳ - ماده:**
که شريکان د محکمې د حکم يا موافقي په اساس د شريک مال په پاتي کيدو باندي مکلف شوي نه وي، هر شريک کولي شي چه د محکمې څخه د شريک مال د ويشلو غوښتنه وکي. د موافقي په اساس د شريک مال دويشلو منع کول د دومره مودي دپاره چه د پنځو کلونو څخه زياته وي، جواز نه لري. او په هغې صورت کښې چه د موافقي موده د پنځو کلونو څخه زياته نه وي، د شريک او د هغه د خلف په باره کښې نافذه ګڼل کيږي.

## قسمت چهارم
## رفع مشاع به اثر تقسيم

**مادۀ - ۱۹۵۱:**
تقسيم، عبارت است از تعيين حصۀ مشاع و اداء آنکه به رضائيت شرکاء يا حکم محکمه صورت ميگيرد.

**مادۀ - ۱۹۵۲:**
تقسيم رضائی در غياب يکی از تقسيم کنندگان جواز ندارد، ولی يا وصی صغير در تقسيم قايم مقام صغير ميگردد، مشروط بر اينکه محکمه با صلاحيت مطابق به احکام قانون به آن موافقت نمايد.

**مادۀ - ۱۹۵۳:**
اگر شرکاء به ابقای مال مشاع به اساس حکم قانون يا موافقه، مکلف نشده باشند، هر يک از شرکاء ميتواند از محکمه تقسيم مال مشاع را مطالبه نمايد. منع تقسيم مال مشاع بااساس موافقه در مدتی که از پنج سال تجاوز نمايد جواز ندارد و در صورتيکه مدت موافقه بيش از پنج سال نباشد، در مورد شريک و خلف او نافذ شمرده ميشود.

**۱۹۵۴ - ماده:**
باید چه مال د ویشلو قابلیت ولري، او په ویشلو سره د هغې ځخه غوښتل شوې ګټه اخیستل د مینځه لاړه نه شي.

**مادهٔ - ۱۹۵۴:**
بـایـد مـال قـابلـیت تقسیم را داشته باشد، در غیر آن به اساس تقسیم استفاده مطلوب از بین میرود.

**۱۹۵۵ - ماده:**
که مال د ویشلو وړ وي، محکمه د ویشلو د غوښتني په وخت کښې کولي شي چه د هر شریک د حصي د ترتیب او ویش دپاره یو یا څو پوهان موظف کي.

**مادهٔ - ۱۹۵۵:**
هرگاه مال قابل قسمت باشد، محکمه میتواند هنگام مطالبه تقسیم از جانب یکی از شرکاء یک یا چند نفر اهل خبره را به منظور ترتیب و تقسیم حصهٔ هر شریک مؤظف نماید.

**۱۹۵۶ - ماده:**
پوهان به د ډیری وړې برخې په اساس حصې ویشي، که څخه هم ویش جزئي وي. که دی کار امکان نه لرلو نو د هر شریک حصه به ټاکي او جلا کوي به یي.

**مادهٔ - ۱۹۵۶:**
اهل خبره حصص را به اساس خوردترین سهم تقسیم میکند. گر چه تقسیم جزئی باشد. در صورت عدم امکان می توانند حصهٔ هر یک از شرکاء را تعیین و مجزا نمایند.

**۱۹۵۷ - ماده:**
د استحقاق په اندازې د حصو معادله کول چه په هغې کښې فاحش کموالي نه وي، هرو مرو دي.

**مادهٔ - ۱۹۵۷:**
معادله حصص حسب استحقاق که در آن نقصان فاحش نباشد، حتمی است.

**۱۹۵۸ - ماده:**
دویش لاندې اعیانو باندې، د ویشونکو شریک حقوق، دویش په وخت کښې مراعات کیږي.

**مادهٔ - ۱۹۵۸:**
حقوق مشترکه متقاسمین بر اعیان تحت قسمت هنگام تقسیم رعایت میشود.

**۱۹۵۹ - ماده:**
د اعیانو ویش په دوه ډوله دي، یو دا چه د شریکو اعیانو د مالونو په هر فرد کښې شریکه حصه جمعه شي چه د جمعي د ویش په نامه یادیږي، بل دا چه په یوه شریک عین کښې شریکي حصي وټاکل شي چه د تفریق د ویش په نامه یا دیږي.

**مادهٔ - ۱۹۵۹:**
تقسیم بدو شکل صورت میگیرد، یکی به جمع حصهٔ مشاع در هر فرد از افراد مال اعیان مشترک که تقسیم جمع یاد میشود و دیگری به تعیین حصص مشاع در یک عین مشترک که تقسیم تفریق نامیده میشود.

**۱۹۶۰ - ماده:**
د حصو د کموالي معادله د هغه چا له خوا چه زیاته حصه ئي اخیستي ده د اضافي مال په اداء کولو سره ، جواز لري.

**مادهٔ - ۱۹۶۰:**
معادل کمبود حصص به پرداخت مال اضافی از جانب کسیکه حصهٔ بیشتر گرفته است، جواز دارد.

**۱۹۶۱ - ماده:**
په رضائي ویش کښې د دواړو خواوو په موافقي او د قانون د حکمونو سره سم د شرط خیار، دلیدلو خیار او دعیب خیار تطبیقیږي.

**مادهٔ - ۱۹۶۱:**
در تقسیم رضائی خیار شرط، خیار رویت و خیار عیب، طبق موافقه طرفین و احکام قانون تطبیق می گردد.

**۱۹۶۲ - ماده:**
که یو شریک بي د نورو شریکانو د اجازي په شریک ملکیت کښې تعمیر جوړکي او په ویش کښې د بل شریک په حصي کښې راشي، نو په نړ ولو ئي مکلف کیږي.

**مادهٔ - ۱۹۶۲:**
هرگاه یکی از شرکاء در ملک مشترک بدون اجازه باقی شرکاء برای خود تعمیری بسازد و در تقسیم به حصهٔ دیگری اصابت کند به انهدام آن مکلف میشود.

**۱۹۶۳ - ماده:**
دویش په دعوي کښې هغه محکمه

**مادهٔ - ۱۹۶۳:**
در دعوی تقسیم محکمه ابتدائیه که

دواک لرونکي ده چه د تقسيم لاندي اعيان د هغې په حوزي کښې واقع دي.

اعيان مورد تقسيم در حوزهٔ آن قرار دارد ، ذيصلاح شناخته ميشود .

**۱۹۶۴ - ماده:**

د دي قانون د (۱۹۶۳) مادې درج شوي محکمه به د حصو د ټاکلوڅخه پيدا شوي منازعي او نوري مربوطي منازعي چه د قانون له حيثه د هغې د واک په ساحي کښې داخلي وي ، **حل** او **فصل** کوي.

**مادهٔ - ۱۹۶۴:**

محکمه ابتدائيه مندرج مادهٔ (۱۹۶۳) اين قانون منازعات ناشی از تعيين حصص و ساير منازعات مربوط را که قانوناً در ساحهٔ صلاحيت آن داخل باشد ، **حل** و **فصل** می نمايد .

**۱۹۶۵ - ماده:**

که کوم وخت چه ابتدائيه محکمه د ويش څخه په پيدا شوو منازعو غور کوي په دي وخت کښې نوري منازعي را څرګندي شي ، نو محکمه مکلفه ده چه دويش دعوي ترهغې پوري متوقفه کي ترڅو چه د ذکر شوو منازعو قطعي انفصال راشي.

**مادهٔ - ۱۹۶۵:**

هرگاه هنگام رسيدگی محکمهٔ ابتدائيه به دعوی تقسيم منازعات ديگری بروز نمايد ، محکمه مکلف است دعوی تقسيم را تا زمان انفصال قطعی منازعات مذکور متوقف سازد .

**۱۹۶۶ - ماده:**

(۱) که جګړي پري شي او حصي په رضائي صورت و ټاکلی شي، نو محکمه به د هر شريک په جلا شوي حصي حکم کوي.

(۲) په هغې صورت کښې چه حصي په رضائي توګه ونه ټاکلی شي ، نو ويش به دشريکانو ترمنځ دپچي په اچولو سره ترسره کيږي ، د محکمې په

**مادهٔ - ۱۹۶۶:**

(۱) هرگاه منازعه قطع شود و حصص بطريق رضائی تعيين گردد ، محکمه به اعطای حصهٔ مفرزه هر يک از شرکاء حکم می نمايد .

(۲) در صورتيکه حصص بطريق رضائی تعيين نگردد ، تقسيم بين شرکاء به اساس قرعه صورت گرفته و در محضر محکمه درج

محضر کښــې بــه درجيــږي او د هــر شريک د جلا شوي حصې په ورکولـو بـه حکم صادريږي.

**۱۹۶۷ - ماده:**
که د مـال د عـين ويـش متعـذره وو يـا هغـه مـال چـه ويـش يـي مطلـوب دي دويشلو په اثر ئي قيمت ډير ټيټيږی، نو مال بـه د مـدنی محـاکمو د اصـول د قـانون د حکمونـو سـره سـم خرخـول کيږي.

**۱۹۶۸ - ماده:**
د ويـش پـه دعـوي کښـې د هغـو پـور ورکوونکو داخلول چه حقوق ئی قيد شوي او د هغو پور ورکوونکو داخلـول چه د عين د ويش په ترسره کولـو يـا د مزايـدي پـه توگـه د مـال پـه خرخولـو اعتراض لري، هرومرو دي، د هغې په غير د هغوي په حق کښې ويش نافذ نه گڼل کيږي.

**۱۹۶۹ - ماده:**
که د مړی د ترکي دويش څخه وروسته پرهغه پور ظاهره شي نـو دويش فسـخ کول جواز لري، مگر دا چه وارثـان پـور اداء يا پورور کوونکي د خپل پور څخه هغـوي تـه ابـراء وکـي يـا داچـه د مـړی څخه دويشل شوي مال څخه غيـر نـور دومره مـال پاتي شوي وي چه دپور د

گــــرديده و بـــه اعطـــاء حــــصهٔ مـفرزه هر شـــريـک حـــکم صادر مـی گردد.

**مادهٔ - ۱۹۶۷:**
هرگاه تقسيم عين مال متعذر بوده يا مـال که تقسيم قيمت آن مطلوب است در اثـر تقسـيم قيمـت آن بسـيار زيـاد تنزيل نمايد، مـال طبق احکـام قـانون اصـول محاکمـات مـدنی بـه فـروش ميرسد.

**مادهٔ - ۱۹۶۸:**
در دعــــوی تــقـــسيم، ادخـــــال، دائنـــينی که حقوق آنها مقيـد اسـت و دائـــــينی کـه در انجـام تقسـيم عــــين يـا بـه فـــروش مـــال طـور مــزايده اعتـراض مــينمايند، حــتمی شـــمرده مـــــيشود، در غـــير آن تـــقسيم در حـــق آنـــها نـــافذ نــميگردد.

**مادهٔ - ۱۹۶۹:**
هرگـاه عليـه ميـت بعـد از تقسـيم متروکـه او ديـن ظـاهر شـود، فسـخ تقسـيم جـواز دارد، مگـر اينکـه ورثـه ديـن را تاديـه ياداين از ديـن خـود بـه ورثـه ابـراء نمايـد و يـا از ميت مـال ديگـری غيـر از مـال تقسـيم شـده باقيمانـده باشـد کـه ديـن را تکـافو

اداء کولو دپاره کفايت کوي.

**۱۹۷۰ – ماده:**
ويشونکي د شريک مال د ملکيت څخه د هغې حصې مالک ګڼل کيږي چه په ويش کښې يې د هغه پوري تعلق نيولي او په پاتي حصو کښې د هيڅ شي مالک نه ګڼل کيږي.

**۱۹۷۱ – ماده:**
ويشونکي يو د بل په مقابل کښې د هغې تعرض يا استحقاق څخه ضامن دي چه دويش څخه تر مخه سبب باندي واقع شي. د هغوي هريو د خپلې حصې په تناسب د مال دويش دورځې د قيمت په اساس د ضمان مستحق ته د تعويض په ورکولو مکلف دي. که کوم يو ويشوونکي بې وزلی وي، نوکومه اندازه ضمان چه پر هغه لازم دي په ټولو شتمنو او د ضمان مستحقو باندي ويشل کيږي .

**۱۹۷۲ – ماده:**
په لاندنيو حالونو کښې تضمين مورد نه لري:
۱ – که د صريحې موافقې په اساس د داسي موجبې په بنا چه ضمان ورڅخه پيدا شوي وي ، تضمين عفو شوي وي.

نمايد.

**مادهٔ – ۱۹۷۰:**
متقاسم از ملکيت مال مشاع، مالک حصهٔ شناخته ميشود که درتقسيم به او تعلق گرفته و در حصص باقيمانده مالک چيزى نمى باشد.

**مادهٔ – ۱۹۷۱:**
متقاسمان در برابر يکديگر از تعرض يا استحقاق که بنا به سبب قبل از تقسيم واقع شود، ضامن مى باشند. هر يک آنها به تناسب حصهٔ خود به اعتبار قيمت روز تقسيم مال به تاديه تعويض به مستحق ضمان مکلف مى باشد. اگر يکى از متقاسمان نادار باشد، مقدار ضمان که بر او لازم است بر تمام متقاسمان دارنده و مستحق ضمان، توزيع ميگردد.

**مادهٔ – ۱۹۷۲:**
تضمين در حالات آتى مورد ندارد:
۱ – اگر بموجب موافقه صريح بنابر موجبهٔ خاصيکه ضمان از آن نشاءت کرده تضمين عفو شده باشد.

۲ - که استحقاق پخپله د ویشونکي خطا ته راجع وي.

**۱۹۷۳ - ماده:**

(۱) د رضایي ویش نقضول په دي شرط جواز لري چه د ویشونکو څخه کوم یو ثابته کي چه د ویش څخه د غبن په اثر د پنځمي حصي د قیمت د اندازي څخه زیات ضرر ورته رسیدلي دي. د غبن د اندازي په ټاکلو کښې د مال د ویش د ورځي قیمت اعتبار لري.

(۲) د ویش د کال پسي کال په تیریدو سره د ویش دعوي نه اوریدله کیږي، مدعي علیه کولي شي د نقدو پیسو یا د عین پوره کولو سره چه د مدعي د حصي کموالي پوره کي، دعوي متوقفه کي.

## پنځم قسمت
## د ګټو ویش

**۱۹۷۴ - ماده:**

د ګټو ویش یا زماني وي او یا مکاني، دواړه ډوله ئي په رضائي او قضائي صورت ترسره کیداي شي.

**۱۹۷۵ - ماده:**

د مکاني ګټو په ویش کښې شریکان

۲ - استحقاق به خطاء شخص متقاسم راجع باشد.

**مادۀ - ۱۹۷۳:**

(۱) نقض تقسیم رضائی بشرطی جواز دارد که یکی از متقاسمان ثابت نماید که از تقسیم به اثر غبن به اندازۀ بیش از خمس قیمت به او ضرر عاید شده است. در تعیین اندازه غبن قیمت روز تقسیم مال اعتبار داده میشود.

(۲) بعد از انقضای سال ما بعد تقسیم دعوی شنیده نمیشود و مدعی علیه میتواند با پرداخت نقد یا عین که کمبود حصۀ مدعی را پوره کند، دعوی را متوقف نماید.

## قسمت پنجم
## تقسیم منافع

**مادۀ - ۱۹۷۴:**

تقسیم منافع یا زمانی میباشد و یا مکانی و هر دوی آن بصورت رضائی یا قضائی انجام میگردد.

**مادۀ - ۱۹۷۵:**

در تقسیم منافع مکانی، شرکاء

موافقه کوي چه هر يو به د مـال د ګټو د ټاکلي جزء څخه چه د شريک مـال د حصي سره مساوي دي، ګټه اخلي او د هغې په بدل کښې به د خپلي پاتي حصي د اجزاوو د ګټې اخيستلو څخه نورو شريکانو ته تيريږي. د دي موافقي موده د پنځو کلونو څخه نه شي زيا تيدلي. که موده نه وي ټاکل شوي نو موافقه تر يوه کاله پوري دوام کوي ، نو که د کال د پاي ته رسيدو د نيټې څخه دري مياشتي، ترمخه شريک د خپله نا رضائيت څخه نورو شريکانو ته خبرتيا ورنه کي، موافقه د بل کال دپاره هم نوي شوي ګڼل کيږي. که دا ويش په همدي ترتيب د پنځلسو کلونو پوري دوام وکي، ويش بشپړ ګڼل کيږي.

### ١٩٧٦ - ماده:

(١) د زماني ګټو ويش هغه دي چه شريکان داسي موافقه وکي چه هر يو به د دومره مودي دپاره د ټول شريک مال د ګټو څخه په نوبتي توګه ګټه اخلي، چه د هغه د حصي سره متناسب وي.

(٢) که يو شريک په داسي شريک مال کښې دګټو دويشلو غوښتنه وکي چه دويشلو قابليت نلري او نور شريکان ورڅخه ځان وژغوري، نو د ګټو ويش

موافقه مينمايند که هر يک آن از جزء معيين منفعت مال که با حصۀ او در مال مشترک مشاع مساوی باشد ، استفاده نموده و در مقابل آن از استفاده کردن اجزاء باقيمانده حصۀ خود به شرکاء ديگر تنازل نمايد. مدت اين موافقه از پنج سال تجاوز کرده نميتواند. اگر مدت تعيين نشده باشد ، موافقه تا مدت يکسال دوام ميکند و در صورتيکه قبل از سه ماه از تاريخ ختم سال شريک عدم رضائيت خود را به ساير شرکاء ابلاغ ننمايد ، موافقه برای سال آينده نيز تجديد شده تلقی ميگردد. اگر اين تقسيم بهمين وضع تا مدت پانزده سال دوام کند ، تقسيم نهائی شمرده ميشود.

### مادۀ - ١٩٧٦:

(١) تقسيم منافع زمانی، آن است که شرکاء موافقه نمايند بصورت متناوب از منافع تمام مال مشترک هر يک آن برای مدتی که متناسب حصۀ او باشد ، استفاده نمايند.

(٢) اگر يکی از شرکاء در مال غير قابل قسمت، مطالبه تقسيم منافع نمايد و شرکاء ديگر از آن امتناع آورند ، تقسيم منافع بصورت جبری

په جبري توګه صورت مومي.

**۱۹۷۷ - ماده:**
دګډو ويش په بل چا باندي دتمسک د جواز ، دويشوونکو د اهليت، د هغوي د حقوقو او التزامونو او د اثبات د طريقو له حيثه ، داجاري د عقد د حکمونو تابع ګڼل کيږي، خوپه دي شرط چه ذکر شوي حکمونه د دي ويش د طبيعت سره معارض نه وي.

## شپږم قسمت
## اجباري شرکت او د کورونو د طبقو ملکيت

### لومړي مبحث - اجباري شرکت

**۱۹۷۸ - ماده:**
که د شريک مال د برابر ولو څخه دا مقصد وي چه ذکر شوي مال دي بايد چه په دايمي توګه پاتي شي، نو شريکان نه شي کولي چه د هغې د ويشلو غوښتنه وکي.

### دوهم مبحث - د کورونو دطبقو ملکيت

**۱۹۷۹ - ماده:**
که يو د عمارت دپورتني طبقي او بل دلاندني طبقي مالک وي، نو دپورتني طبقي مالک په چت باندي داوسيدلو

صورت ميگيرد.

**مادۀ - ۱۹۷۷:**
حصول منفعت به اساس تقسيم غله يا ثمره بين ورثه و شخصيکه بوی وصيت شده به تناسب حصهٔ هر يک رعايت ميگردد يا از لحاظ تقسيم زمان و مکان يا از طريق

او ځای په اساس صورت مومي یا دعین د ویشلو په اساس صورت مومي خو په دي شرط چه بي له ضرره د ویشلو تحمل ولري.

**۲۱۵۹ – ماده:**

که د عین څخه ګټه اخیستل یوه تاکلی شخص ته ، او دبل شخص دپاره پخپله د عین وصیت شوي وي ، نو د مالیو تکلیفونه او هغه څه چه د عین څخه د ګټې اخیستلو دپاره لازم دي د هغه چا په غاړه دي چه ورته په ګټې اخیستلو وصیت کړی شوي وي.

**۲۱۶۰ – ماده:**

په ګټې اخیستلو وصیت هغه وخت ساقطیږی چه وصیت کړی شوي د تولي یا ځینې ګټې د اخیستلو څخه ترمخه مړشي، یا وصیت کړی شوي هغه عین واخلي چه د هغې څخه په ګټې اخیستلو ورته وصیت شوي وي یا په هغې کښې د خپل حق څخه د عوض په بدل کښې یا بي له عوضه د وصیت کوونکي وارثانو ته تیرشي او یا دا چه عین په استحقاق ویوړشي.

**۲۱۶۱ – ماده:**

د وصیت کوونکي وارثان کولي شي چه په عین کښې خپلي حصي د هغې

تقسیم عین صورت میگیرد مشروط بر اینکه عین مذکور بدون الحاق ضرر قابل قسمت باشد.

**مادهٔ – ۲۱۵۹:**

هرگاه منفعت عین به یکی و خود عین بدیگری وصیت شده باشد تکالیف مالیات عین مذکور و چیزیکه برای حصول منفعت از آن لازم شمرده میشود بر شخص میباشد که وصیت منفعت برای او شده.

**مادهٔ – ۲۱۶۰:**

وصیت به منفعت با وفات شخصیکه بوی وصیت شده قبل از حصول تمام یا بعضی منفعت وصیت شده و به خریدن عین مذکور از طرف شخصیکه به منفعت آن برای او وصیت شده و به اسقاط حق برای ورثه بمقابل عوض یا بدون عوض و همچنان به استحقاق بردن عین ساقط میگردد.

**مادهٔ – ۲۱۶۱:**

ورثه وصیت کننده میتوانند حصهٔ خود را از عین با منفعت آن بدون

د ګټوسره بي له دي چه د وصيت کړی شوي څخه اجازه واخلي. خرڅي کي.

**۲۱۶۲ - ماده:**

که په ګټې اخيستلو وصيت ديوه ټاکلی شخص دپاره د هميشه دپاره يا د هغه د ژونده پوري او يا په مطلق صورت، شوي وو ، نو وصيت کړی شوي د خپل ټول عمر د پاره د ګټې اخيستلو مستحق دي، خو په دي شرط چه د وصيت کوونکي د مړيني د نيټې څخه د دري ديرش کلونو په مودی کښې د هغه د ګټې اخيستلو استحقاق پيدا شي.

**۲۱۶۳ - ماده:**

(۱) که وصيت د عين په ټولو يا ځينو ګټو شوي وو او دا وصيت د هميشه دپاره يا په مطلق صورت يا د وصيت کړی شوي د ټول ژوند دپاره او يا د دومره مودي د پاره وو چه دلسو کلونو څخه زياته وه، نو د وصيت کړی شوي شي د عين په قيمت د هغې د ټولو يا ځينو ګټو سره سنجول کيږي.

(۲) که وصيت د دومره مودي دپاره وو چه دلسو کلونو څخه نه زياتيده نو په همدي مودي کښې د وصيت کړی شوي شي د عين په ګټو په قيمت سنجول کيږي.

اجازه شخصيکه به او وصيت شده است بفروشد.

**مادۀ - ۲۱۶۲:**

هرگاه وصيت به منفعت بصورت مؤبد يا مطلق يا مقيد به طول حيات شخص معيين صورت گيرد شخص مذکور در طول حيات از منفعت مذکور استفاده کرده ميتواند، مشروط بر اينکه استحقاق او بر منفعت وصيت شده در خلال مدت سی و سه سال از تاريخ وفات وصيت کننده نشئت نمايد.

**مادۀ - ۲۱۶۳:**

(۱) هرگاه وصيت بتمام منافع عين يا بعضی آن بصورت مؤبد يا مطلق يا طول مدت حيات شخصی که بوی وصيت م ی شود يا برای مدت اضافه از ده سال صورت گيرد به قيمت تمام يا بعضی منافع عين وصيت شده سنجش ميشود.

(۲) اگر وصيت برای مدت کمتر از ده سال صورت گرفته باشد به اندازه قيمت منفعت عين وصيت شده به اعتبار ارزش منفعت مذکور در خلال همان مدت سنجيده ميشود.

**۲۱۶۴ - ماده:**

که وصیت د عین د حقوقو څخه په یوه حق شوي وو، نو د هغې د قیمت سنجول په هغې توپیر سره کیږي چه په عین باندي وصیت کړه شوي حق وي قیمت یي څو مره دي او که وربانديوصیت کړی شوي حق نه وي نو قیمت یي څومره دي.

## څلورم جزء - په معاش وصیت

**۲۱۶۵ - ماده:**

(۱) د پانګي څخه دیوي ټاکلی مودي د پاره د معاش وصیت صحیح دي. د وصیت کوونکي د مال څخه په هغې اندازي چه د وصیت تضمین وکي وقف کیږي خو په داسي ترتیب سره چه وارثانو ته ضرر ونه رسوي.

(۲) که هغه اندازه مال چه د وصیت د تنفیذ د پاره وقف شوي د ترکي د دریمي حصي څخه زیات وي او وارثانو د زیادت اجازه ور نه کړه، نو د هغې څخه د دریمي حصي په اندازي وقف کیږي ، او وصیت په همدي دریمي حصي او د هغې په حاصلاتو کښي نافذیږي ترڅو چه وصیت کړه شوي ته دترکي د هغې دریمي حصي د قیمت ورکول پوره شي چه د وصیت

**مادهٔ - ۲۱۶۴:**

هرگاه وصیت بحقی از حقوق عین راجع باشد ارزش آن به اساس فرق بین قیمت عین با حقوق و قیمت آن بدون حقوق وصیت شده تثبیت میشود.

## جزء چهارم - وصیت به معاش

**مادهٔ - ۲۱۶۵:**

(۱) وصیت بمعاش از سرمایه برای مدت معیین صحت دارد و از مال وصیت کننده به اندازه ایکه تنفیذ وصیت را تضمین کرده بتواند و به ترتیبیکه ورثه از آن متضرر نگردند تادیه می گردد.

(۲) هرگاه آنچه برای تضمین تنفیذ وصیت موقوف گذاشته از ثلث متروکه بیشتر باشد و ورثه مقدار زاید را اجازه ندهد در حدود مقدار ثلث گذاشته میشود و وصیت در آن و در حاصلات آن تا زمانی نافذ میگردد که شخص وصیت شده تا مقدار قیمت ثلث متروکه

کوونکي د مړيني په وخت کښې يې لرلو، يا دا چه موده پاي ته ورسيږی او يا دا چه موده د وصيت کړی شوي په مړيني پای ته ورسيږی.

**۲۱۶۶ - ماده:**

کــه د معــاش وصــيت د ترکــي د حاصلاتو څخه او يا د ترکي ديوه عين د حاصلاتو څخه ديوي ټاکلی مودي د پاره صورت موندلي وو ، نو ذکر شوي متروکه يا عين به لومړي بي د ذکر شـوي معـاش څخـه قيمـت کيـږي او دوهـم کرتـي بـه د وصـيت کـړه شـوي معـاش سـره قيمـت کيـږي ، د دواړو قيمتونو د تـوپير اندازه د وصيت کړه شوي شي اندازه ټاکی، نو که د دريمي حصـي متروکـي څخـه زياتـه نـه وي، وصــيت نافــذيږی او کــه د متروکــي د دريمــي حصــي څخــه زياتــه وه او وارثانو د زياتي اندازي اجازه ورنه کړه نو د دريمي حصي په اندازي نافذيږی. د معاش زياته اندازه او هغه څه چه د متروکي يا عين څخه د هغې په مقابل کښې واقع شوي، د وصيت کوونکي د وارثانو حق دي.

**۲۱۶۷ - ماده:**

کــه پــه معــاش وصــيت ديــوه ټــاکلی شـخص دپـاره دپـانګي يـا د حاصـلاتو څخه په مطلق ، يا دايمي يا د وصيت

حــق خــود را بــگيرد يــا مــدت وصــيت ســپری گــردد و يــا شــخص وصــيت شــده فــوت شــود.

**مادۀ - ۲۱۶۶:**

هــر گــاه وصــيت بمــعاش از حاصل متـروکه يـا حـاصل عـينی از اعيـان مـتروکـه بـرای مـدت معيينــی صــورت گــرفته بــاشد مــتروکــه يــا عــين مــذکــور اولاً بــدون معــاش وصيت شده و ثــانيا بـا مـعاش مـذکور قيـمت شـده مقــدار تــفاوت هــر دو قــيـمت انــدازه شــی وصــيت شــده تثــبيت گــرديده در حــاليکه از ثــلــث مــال تــجـاوزنــکند وصيت نافـذ و در حـال تـجاوز از ثــلث و عــدم اجــازه ورثــه بــه انــدازه ثــلث نافــذ ميــگردد و مــقدار زايــد مــعاش و آنــچه از مــتروکــه يــا عــين در مــقابل آن قــرار مــيگيرد حــق ورثــه وصــيت کنــنده شــنـاختــه مــيشود.

**مادۀ -۲۱۶۷:**

هرگـاه وصيت بمعـاش بـرای شـخص معيينی از سرمايه يا حاصل بصورت مطلق يـا دايمـی يـا بـه طـول حيـات

کړه شوي د عمر پوري ، صورت موندلي وو ، نو ډاکتران به د هغه د ژوند سنجش کوي. که په معاش وصيت د پانګي څخه وونو د وصيت کوونکي د مال څخه به په دومره اندازي وقف کيږي چه ددي قانون د (۲۱۶۵) مادې په حدودو کښې د وصيت د تنفيذيدلو تضمين وکي او که په معاش وصيت د حاصلاتو څخه وو، نو ددي قانون د (۲۱۶۶) مادې په حدودو کښې به د ومره اندازه وقف کيږي چه د وصيت کړه شوي معاش د پاره کفايت وکي.

## ۲۱۶۸ - ماده:

که د دي قانون د (۲۱۶۷) مادې په درج شوي حالت کښې وصيت کړی شوي ترهغې مودي د مخه مړ شوچه ډاکترانو سنجولي، د وصيت پاتي برخه مستحقو وارثانو ته ورکوله کيږي او يا هغه چاته ورکوله کيږي چه د هغه د مړيني وروسته ورته وصيت شوي. که د وصيت د تنفيذ دپاره وقف کړه شوي مال خلاص شو يا وصيت کړه شوي د ډاکترانو د سنجش څخه د زياتي مودي دپاره ژوندي پاتي شو، نو وصيت کړی شوي په وارثانو باندي د رجوع کولو حق نه لري.

## ۲۱۶۹ - ماده:

شخصيکه بوی وصيت شده صورت گرفته باشد مدت حيات شخص از طرف اطباء سنجش شده در حاليکه وصيت از سرمايه باشد ازمال وصيت كننده در حدود حكم مادهٔ (۲۱۶۵) اين قانون تا مقداريكه تنفيذ وصيت را تضمين نموده ميتواند موقوف گذاشته و در حاليکه وصيت بمعاش از حاصلات باشد در حدود حکم مادهٔ (۲۱۶۶) اين قانون به اندازه که معاش وصيت شده را كفايت نمايد گذاشته ميشود.

## مادهٔ - ۲۱۶۸:

در حالت مندرج مادهٔ (۲۱۶۷) اين قانون هرگاه شخصيكه بوی وصيت شده قبل از مدتی که از طرف اطباء سنجش شده وفات نمايد مقدار باقيمانده وصيت به ورثه مستحق او يا کسيكه بعد از خود به او وصيت نموده باشد ، اعطا ميشود. و در صورتيكه مال موقوف گذاشته شده باتمام برسد و يا شخص بيشتر از ميعاد تثبيت شده زنده ماند حق رجوع را به ورثه نه دارد.

## مادهٔ - ۲۱۶۹:

که د پانګي ثخه په معاش وصيت د وصيت د تنفيذ دپاره د وقف کړه شوي متروکي حاصلاتو کفايت ونه کړ ، نو په هغې اندازي دي ورثخه خرثخه کړی شی چه د معاش دپاره کفايت وکي . که حاصلات د معاش ثخه زيات وو نو زياته اندازه د وصيت کوونکي وارثانو ته ورکوله کيږي.

هـر گاه حاصل متروکه موقوف گذاشته شده بمنظور تنفيذ وصيت معاش از سرمايه کفايت نکند در حدود کفايت معاش ازآن فروخته ميشود. و در صورتيکه حاصل مذکور از معاش افزود گردد مازاد به ورثه وصيت کننده تعلق ميگيرد.

**۲۱۷۰ - ماده:**

که په حاصلاتو کښې د وصيت کړه شوي معاش د اندازي ثخه زياتوالي راغي، نو زياته اندازه د نفعي اخيستلو د وخت تر پايه پوري ساتل کيږي. که د وصيت د تنفيذ د پاره وقف کړه شوي متروکه په وچو کلونو کښې دومره حاصلات ونه کي چه د هغې دپاره کفايت وکي، نو وصيت کړه شوي ته به د زياتي اندازي ساتل شوو حاصلاتو ثخه دومره ورکول کيږي چه د هغه کمه اندازه معاش پوره کي.

**مادۀ - ۲۱۷۰:**

هرگاه در حاصلات از اندازۀ معاش وصيت شده افزودی آمده باشد مقدار مازاد الی زمان انتهای مدت انتفاع نگهداشته ميشوددر صورتيکه متروکه موقوف گذاشته شده بمنظور تنفيذ وصيت نسبت خشک سالی يا عوامل مشابه در سالهای ديگر چنان حاصلی ندهد که وصيت را تکافو نمايد با قيمانده استحقاق شخص از حاصل نگهداشته شده تاديه ميشود.

**۲۱۷۱ - ماده:**

که په وصيت کښې تصريح شوي وي او يا قرينه په دي موجوده وي چه معاش دي کال په کال ورکول شي، نو کلني زيات والي دوصيت کوونکي وارثانو ته ورکول کيږي .

**مادۀ - ۲۱۷۱:**

هرگاه در وصيت تصريح شده باشد يا از قرينه چنين معلوم شود که معاش سال به سال پرداخته ميشود مازاد سالانه به ورثۀ وصيت کننده تاديه ميشود.

**۲۱۷۲ - ماده:**

(۱) کـه پـه معاشـونو بانـدي وصـيت دداسي پلو دپاره وي چه په مطلق يا ابدي صورت د دوام صفت ولري، نـو د وصـيت کـوونکي د مـال ثخـه دومـره وقـف کيـږي چـه د هغـې حاصـل د وصيت تنفيذ تضمين کي. خو په دي شرط چه وقف کړه شوي مال د وصيت کـوونکي ددريمـي حصـي مـال ثخـه زيـات نـه وي، او کـه زيـات وو نـو د وارثانو د اجازي پوري تعلق لري.

(۲) که وقف کړه شوي مال د وصيت کړه شوي معاش د اندازي ثخه زيات حاصل ورکـړ، نـو ذکـر شـوي پلوئي مسـتحق کيـږي او کـه حاصـلات د معـاش ثخـه کـم شـونو د وصـيت کوونکي په وارثانو درجوع کولو حق نه لري.

**مادۀ - ۲۱۷۲:**

(۱) هرگاه وصيت بمعاش براى جهتى صورت گرفته باشد که صفت دوام را طور مطلق با مؤيد دارا باشد از مال وصيت کننده به مقداريکه حاصل آن تنفيذ وصيت را تضمين کرده بتواند مـوقوف گذاشته ميشود، مشروط بر اينـکه از حدود ثلث تجاوز نکند. در صـورت تجاوز از ثلث در مقدار زايد از ثـلث اجازه ورثـه شرط مى باشد.

(۲) اگـر مـال موقـوف شـده بيـشتر از مـعاش وصـيت شـده حـاصل بـدهد جـهت مـذکـور آنـرا مسـتحق مـيگردد و در صـورت نـقصـان حـاصل، حـق رجـوع را بـر ورثـه نـدارد.

**۲۱۷۳ - ماده:**

د دي قـانون د (۲۱۶۵ تـر ۲۱۷۱) مـادو پـه درج شـوو حـالونو کښـې د وصيت کوونکي وارثان کولي شي چه په وقـف کـړى شـوي مـال بانـدي، پـه معـاش د وصيت د تنفيذ د پاره او يا پـه هغـې کښـې د تصرف کولـو دپـاره تسلط حاصل، خو په دي شرط چه د وصيت کـړى شـوي پـه رضـاء تـول معاشونه نقد په يو ځاى کښې او يا په

**مادۀ - ۲۱۷۳:**

در احـوال مندرج مـواد (۲۱۶۵ تـا ۲۱۷۱) ورثـه وصـيت کننـده ميتوانـد بـر امـوال مـوقوف گـذاشته شـده بمـنظور تنفيـذ وصـيت تسلط حـاصل، يـا بـرآن تصرف نـمايد مشروط بـر اينکـه برضـائيت شـخصى کـه بـراى او وصـيت شـده يـا بـه تعيين قـاضى تمـام معـاش وصـيت

هغې ځای کښې چه قاضي يي ټاکی په وديعت کښيږدی، او په وديعت ايښودل شوي پيسي د وصيت د تنفيذ د پاره تخصيص شي. که وصيت کړی شوي په وديعت ايښودل شوو پيسو د خلاصيدو ترمخه مړ شو، نو پاتي پيسي د وصيت کوونکي وارثانو ته ورکول کيږي.

**۲۱۷۴ – ماده:**
په وديعت ايښودلو او تخصيص سره په متروکي کښې د وصيت کړه شوي ټول حق زائليږي.

**۲۱۷۵ – ماده:**
که د وصيت کوونکي د مړيني په وخت کښې د وصيت کړی شوو د دوه لمړنيو طبقو څخه څوك موجود نه وو، نو د پانګي يا حاصلاتو څخه ورته په معاش وصيت صحيح نه دي، ډاکتران به د موجودو د ژوند سنجش کوي او وصيت به د هغه حکمونو سره سم چه د ټاکل شوو د پاره په وصيتونو کښې درج شوي تنفيذيږي.

## پنځم جزء – په وصيت کړه شوي مال کښې زيات والي

**۲۱۷۶ – ماده:**
که وصيت کوونکي د وصيت کړه

شده را نقداً در جای طور امانت بگذارد که به تنفيذ وصيت تخصيص داده شود و اگر شخصی که برای او وصيت شده قبل از تمام شدن مبلغ امانت گذاشته شده وفات نمايد مبلغ باقيمانده به ورثۀ وصيت کننده رد ميگردد.

**مادۀ – ۲۱۷۴:**
تمام حقوق شخصيکه برای او وصيت شده بميرد، گذاشتن امانت و تخصيص در متروکه از بين ميرود.

**مادۀ – ۲۱۷۵:**
وصيت بمعاش در سرمايه با حاصل برای غير از اشخاص موجود از نظر طبقۀ اول اشخاصيکه برای آنها وصيت ميشود. هنگام وفات وصيت کننده صحت ندارد. مدت حيات اشخاص موجود از طرف اطباء سنجش گرديده وصيت مربوط طبق احکام وصيت به اشخاص معيين تنفيذ می يابد.

## جزء پنجم – احکام زيادت در مال وصيت شده

**مادۀ – ۲۱۷۶:**
هرگاه وصيت کننده علايم عين

شـوي عـين پـه علامـو كښـې تغيير راوړي او يـا د هغې پـه عمـارت كښـې داسـي زيـاتوالي راوړي چـه پخپلـه ځانګړې وجود ونه لري لکه ترميمول، نو ټول عين وصيت ګڼل کيږي.

وصيت شده را تغيير دهد يا در آن زيادتی را از قبيل ترميم به عمل آرد كـه مسـتقل بنفسـه نباشـد ، عـين مذكور با زيادت وارده، مال وصيت شده شناخته ميشود .

**۲۱۷۷ - ماده:**

كـه پـه عـين كښـې داسـي زيـات راوړل شو چه پخپله ئي ځانګړې وجود لرلـو لكه ونـي او بنـا ، نـو وارثـان د وصـيت كـړې شـوي سـره پـه ټول عـين كښـې د هغې زيادت پـه انـدازي شـريكان كيـږي چه موجود دي.

**مادۀ - ۲۱۷۷:**

هرگاه زيادت در عـين مسـتقل بنفسـه باشد مانند درختـان و عمـارت، ورثـه وصـيت كننـده يـا شخصـيكه بـراى او وصـيت شـده اسـت در حـدود قيمـت زيـادت وارده در تمـام عـين مـذكور شريک ميشوند .

**۲۱۷۸ - ماده:**

(۱) كـه وصـيت كـوونكي وصـيت كـړه شــوي عــين و نـړ ولـو او پـه لمړنـي حالت يي د هغې بنا لوړه كړله، كه څه هم عـلامـوئي تـغيير كـړې وي، نـو عين پـخپل نـوي حـالت سره وصيت دي.

**مادۀ - ۲۱۷۸:**

(۱) هرگاه وصيت كننده عين وصيت شده را منهدم گردانيده و آنرا مجدداً بهمان حـالت سابقه ولو كه با تغيير علايم باشد اعمار نمايد عين مذكور حـالت جديـد مـال وصـيت شـناخته ميشود .

(۲) كه بنا په بل حالت جوړه كړې شوه نو د وصيت كوونكي وارثـان د وصيت كړې شوي سره په ټول عمارت كښـې د زيـادت د قيمـت پـه حـدودو كښـې شريكان كيږي.

(۲) اگـر بنـأ بغييـر از حـالت سـابقه اعمار شــود ورثــه در حدود قيمت زيــادت بــا شخصيـــكه بــــراى او وصيت شده در تمام عمارت شـريک شمرده ميشوند .

**۲۱۷۹ - ماده:**

كـه وصـيت كـوونكي د وصـيت كـړه

**مادۀ - ۲۱۷۹:**

هرگاه وصيت كننده عين وصيت شده

شوي شي عين رنګ او ځمکه ئي د خپل ملکيت دبلي ځمکې ئي سره يو ځای کي او په هغې کښې عمارت بناکي . نو وصيت کړی شوي د وصيت کړی شوي ځمکې د قيمت په حدودو کښې د وصيت کوونکي دوارثانو سره په ټوله ځمکه او بناء کښې شريک دي.

۲۱۸۰ – ماده:

د تيرو مادو د حکمونو په استثني، که وصيت کوونکي د وصيت کړه شوي عين ته څه شي ورکي او يا په کښې زيات والي راوړي او په عرف کښې په دي عادت جاري وي، نو زيادت د وصيت په عين علاوه کيږي. همدارنګه که عرف وربان‌دي جاري نه وي و ليکن د قرينو څخه داسي معلومه شي چه وصيت کوونکي ورسره دا زياتوالي يو ځای کړی نو ذکرشوی زياتوالی د وصيت سره يوځای کيږي.

۲۱۸۱ – ماده:

که وصيت کوونکي د وصيت کړه شوي بنا د عين څخه او د خپل ملکيت دبناء څخه، يوه داسي بناء جوړه کي چه د هغې سره د وصيت کړه شوي بنا خرڅول او تسليمول په ځانګړی توګه ممکن نه وي، نو وصيت

را منهدم گردانيده زمين آنرا با زمين ديگر ملكيت خود ضم و در آن عمارتى بنأ نمايد شخصيكه براى او وصيت شده با ورثه در تمام بنأ و زمين در حدود قيمت زمين وصيت شده شريک شمرده ميشود.

مادۀ – ۲۱۸۰:

به استثناى احكام مواد سابقه آنچه از طرف وصيت كننده بر عين وصيت پرداخته ميشود. يا بر عين مذكور افزود ميگردد و عرف بر آن جارى است و يا از قرائن چنين استنباط شود كه زيادت بر آن از طرف وصيت كننده صورت گرفته است زيادت مذكور با وصيت يكجا ميگردد.

مادۀ – ۲۱۸۱:

هرگاه وصيت كننده از بنأ عين وصيت و بنأ ديگر ملكيت خود بنأ واحدى را تشكيل دهد كه به اساس توحيد مذكور بيع و تسليم عين وصيت شده بتنهائى ناممكن گردد شخصيكه براى او

کړه شوي د وصيت کوونکي د وارثانو سره د وصيت کړه شوي بناً د قيمت په اندازي شريك پيژندل کيږي.

### پنځمه فرعه - واجب شوي وصيت

**۲۱۸۲ - ماده:**
که مړی د خپلي فرعي هغې ولد ته چه د هغه په ژوند کښې حقيقتاً مړ شوي يا ورسره يو ځای که څه هم حکماً وي مړ شوي وي د هغې مثل په اندازي چه کـه چيرتـه د هغـه د مړينـي پـه وخـت کښې ژوندي وي نو د هغه په ترکي کی داولـد د ميـراث مستحق کيـده، نـو د فرعـي د پـاره پـه ترکـي کښـي ددي حصـي پـه انـدازي ددريمـي برخـي پـه حدو دوکي وصيت واجبيږي. دا په دي شرط چه ميراث وړونکي نه وي او په دي شرط چه مړی ورتـه بي لـه عوضـه دبـل تصرف دلاري دومـره شي نـه وي ورکړی چه د هغه د پاره واجبيږي. که ئي د واجـبي اندازي څخـه کم شـي ورکــړی وو، نــو دومــره انــدازه وصــيت ورتــه لاژمــيږی چه هــغه پـوره کړی.

**۲۱۸۳ - ماده:**
ددي قــانون د (۲۱۸۲) مــادې درج شوي وصيت دلومړي طبقي د اصلي لورگانو اولادونـو تـه او اصلی زامنـو

وصيت شده است بـا ورثه در حــدود قــيمت وصــيت شــريک شــناخته ميشود.

### فرع پنجم - وصيت واجبه

**مادهٔ - ۲۱۸۲:**
هرگاه متـوفی بـرای فـرع ولـد خـود کـه در زندگی او فوت شده يـا بـا متـوفی يکجـا حقيقتـاً يـا حکمـاً وفـات نمـوده باشد به مثل آنچه ولد مذکور اگر در وقت مـرگ او زنـده ميبـود در متروکـه او مســتحق ميــراث ميگرديدوصــيت نکرده باشد برای فرع مذکور در ترکه بانــدازه اســتحقاق ارث مــذکور در حدود ثلث ترکه وصيت واجب ميگردد مشروط بر اينکه فرع غيـر وارث بـوده و متوفی در حيات خود بلا عـوض بـه او مـالی را از طريق تصرف ديگری بـه انـدازه حصهٔ واجبـه نـداده باشـد و در صـورتيکه مـال را بـه او اعطـا کـرده باشـد ، مگـر از انـدازه واجبـه کمتـر باشـد بانـدازه کـه حصهٔ مـذکور را تکميل نمايد به طريقـه وصيت واجبـه مستحق ميگردد.

**مادهٔ - ۲۱۸۳:**
وصيــت منـدرج مـادهٔ (۲۱۸۲) ايـن قـانون بـرای اهـل طبقـهٔ اول از اولاد دختـری و بـرای اولاد پسـری از اولاد

اولادونو دپاره چه د ملا څخه وي دي، که څه هم درجي ئي ټيټې شي، خو په دي ترتيب چه هر اصل خپله فرعه حجبوي نه دبل فرعه . او د هر اصل حصهٔ د هغه په فرعي باندي لکه د ميراث دويش په شان ويشله کيږي ، که څه هم درجي ئي ټيټې شي . او داترتيب داسي حکم لري چه هغه يا اصول چه د هغوي په وسيلي فرعي مړی ته منسوبيږي د هغه د مړيني وروسته مړ شوي وي او د هغوي مړيني د طبقو د ترتيب په شان مرتب صورت موندلي وي.

ظهور گـــر چه مــراتب آنــــها تــنزيل نمايد ميـــباشد به تــرتيبى که هر اصل فــرع خــود را بدون فرع ديـــگر محجـــوب گـــردانيده و حصهٔ هـــر اصل بـــر فرع او تقـــسيم ميگـردد گـــر چه تقســيم ميراث تـــنزيل نمـــايد مـــانند آنـــکه اصل بـــا اصوليـــکه بـواســـط آنهـــا شـــخص بـــه متـــوفى منـــسوب مـــيشود بـــعد از او وفــات نمـــوده بـاشـــند و وفـــات آنـــها مرتـب بتــــرتيب طـبقات صــورت گـــرفته بـــاشد .

۲۱۸۴ - ماده:

په واجب شوي وصيت کښي ددي قانون د (۱۹۹۹ - ۲۰۰۰) مـادو د حکمونو مراعات هرو مرودي .

مادهٔ - ۲۱۸۴:

در وصيت واجبه رعايت احکام مواد (۱۹۹۹ و ۲۰۰۰) ايـن قـانون حتمـى مى باشد .

۲۱۸۵ - ماده:

د واجب شوي وصيت په استحقاق کښې فرعه د هغې استحقاق د اندازي څخه چه د هغه مستقيم اصل د ژوندي اوسيدلو په شرط د خپل مورث د مړيني وروسته مستحق کيده ، زياته حصه نه شي اخيستي. همدارنگه د واجب شوي وصيت خاوند د هغو اشخاصو څخه زياته حصه نه شي اخيستلي چه د هغه سره د خپلوي په

مادهٔ - ۲۱۸۵:

در استحقاق وصيـــت واجـــبه، فرع از اســـتحقاق آنچـــه که اصل وى بـــــشرط حيـات بعـد از وفـــات مـورث مستحق ميـــگرديد ، ســـهم بيشـــتر گـرفــــته نمـــى تـــواند. هـــمچنان صاحب وصـيت واجـــبه ســـهم بيـــشترى را از اشـــخاصـى کـــه در درجـــه قـــــرابت بـــا وى يکســان بـــاشند مستحق شـــده

درجي كښېږ مساوي دي.

**۲۱۸۶ - ماده:**

(۱) كه مړی د هغه چا د پاره چه وصيت ورته واجب شوي د هغه د حصي څخه په زياته اندازه وصيت كړی وو، نو دا زيادت اختياري وصيت دي. او كه ئي ورته د هغه د حصي څخه په كمي اندازي وصيت كړی وو نو د هغه دپاره دومره اندازه وصيت واجبېږي چه د هغه حصه پوره كي.

(۲) كه مړی ځينو هغو اشخاصو ته چه وصيت ورته واجب دي وصيت كړی وواو ځينو نورو ته يي نه وو كړی، نو چاته چه وصيت شوي، د هغه د حصي په اندازي ورته واجبېږي.

(۳) دچا دپاره چه وصيت نه دي شوي او دهغه چا دپاره چه د هغه د واجبي حصي د اندازي څخه ورته كم وصيت شوي د پاتي دريمي حصي ميراث څخه د هغوي واجب شوي ميراث پوره كول كېږي . كه دريمي حصي پوره نه كه نو پاتي به د هغه څه نه وركول كيږي چه داختياري وصيت دپاره تخصيص شوي.

**۲۱۸۷ - ماده:**

نميتواند.

**مادهٔ - ۲۱۸۶:**

(۱) هرگاه شخصی برای کسی که وصیت با او واجب است بیشتر از حصهٔ او وصیت نماید مقدار زاید وصیت اختیاری تلقی می شود و اگر وصیت به کمتر از حصهٔ او صورت گرفته باشد به اندازه ایکه حصهٔ او را تکمیل نماید واجب میشود.

(۲) اگر برای بعضی از اشخاصی که وصیت برای آنها واجب است وصیت شده و به بعضی دیگر وصیت نشود باشخاصیکه وصیت شده، باندازه حصهٔ او واجب میشود.

(۳) حصهٔ کسیکه به او وصیت نشده است و اندازه باقیمانده حصهٔ کسانیکه به آنها کمتر از حصهٔ واجبه شان وصیت شده است از باقی ثلث پرداخته میشود و اگر ثلث تکافو نکند از ثلث و از آنچه برای وصیت اختیاری تخصیص داده شده باشد پرداخته میشود.

**مادهٔ - ۲۱۸۷:**

واجب شوي وصيت په نورو وصيتونو وړاندي دي.

**۲۱۸۸ - ماده:**
كه مړي د هغه اشخاصو دپاره چه وصيت ورته واجب شوي وصيت ونه كي او د نورو دپاره ئي وكي، نو د كومو اشخاصو دپاره چه وصيت واجب دي، كه د متروكي پاتي دريمه برخه واجب شوي وصيت پوره كوي ، واجب شوي وصيت به د هغي څخه اداء كيږي، كه د متروكي پاتي دريمي حصي واجب شوي وصيت پوره نه كړ، نو د پاتي دريمي حصي او د هغې څخه چه دبل چا دپاره پري وصيت شوي د هغوي حصه به پوره كيږي.

**۲۱۸۹ - ماده:**
ددي قانون د (۲۱۸۶،۲۱۸۷-۲۱۸۸) مادو په ټولو درج شوو حالونو كښې د اختياري وصيت د حكمونو په مراعت كولو سره هرڅه چه د اختياري وصيت څخه پاتي كيږي د ميراث د مستحقينو ترمنځ د هغوي د حصو په اندازو ويشل كيږي.

### شپږمه فرعه - د وصيتونو تزاحم

**۲۱۹۰ - ماده:**
كه وصيتونه د تركي ددريمي حصي

وصيت واجبه بر ساير وصايا مقدم شناخته ميشود.

**مادۀ - ۲۱۸۸:**
هرگاه براى اشخاصيكه وصيت براى آنها واجب است وصيت نشده براى ديگرى وصيت شود اشخاصيكه وصيت براى آنها واجب است به اندازه حصۀ خود از ثلث باقيمانده متروكه اگر آنرا پوره كند به طريقه وصيت واجبه مستحق ميشوند و اگر ثلث باقيمانده حصۀ آنها را پوره نكند از ثلث باقيمانده و از آنچه به غير وصيت شده حصۀ آنها تكميل ميگردد.

**مادۀ - ۲۱۸۹:**
در تمام احوال مندرج مواد (۲۱۸۶ ۲۱۸۷ - ۲۱۸۸) اين قانون آنچه از وصيت اختيارى باقيمانده با مراعات احكام مربوط بوصيت اختيارى بين مستحقين مطابق به حصص آنها تقسيم ميشود.

### فرع ششم - تزاحم وصايا

**مادۀ - ۲۱۹۰:**
هرگاه وصيت متجاوز از ثلث بوده و

څخه زيات وواو وارثانو د هغې اجازه ورکړه يا داچه ترکي د وصيتونو دپاره کفايت نه کولواو يائي وارثانو اجازه ورنه کړه او دريمی حصي وصيتونه، نه پوره کول نود حالونو سره سم دي ترکه يا دريمه حصه د وصيت کړه شوو ترمنځ د هغوي د حصو په اندازي وويشله شي. خو په دي شرط چه چاته په يوه عين وصيت کړه شوي وي د همغه وصيت کړه شوي عين څخه خپله حصه واخلي.

**۲۱۹۱ - ماده:**

که وصيتونه د ثوابونو دپاره شوي وي او ټول فرائض، واجبات يا نوافل وي او وصيت کوونکي د هر پلو د پاره خاصه حصهٔ نه وي ټاکلی، نو وصيت د پلو ونو ترمنځ مساوي ويشل کيږي. که ئي د هر پلو دپاره دومره اندازه حصه ټاکلی وه چه د نورو حصو سره يو برابر نه وه او ټول وصيت د هغې دپاره کفايت ونه کړ ، نو وصيت د هر پلو د حصي په تناسب ويشل کيږي.

**۲۱۹۲ - ماده:**

که وصيت د ثوابونو د مختلفو نوعو دپاره شوي وو او وصيت کوونکي ټولي يو برابر کړي وي، نو وصيت دي په مساوي ډول وويشل شي . که يي د ثواب د هري نوعي دپاره خاصي حصي

ورثه آنرا اجازه نمايد مگر متروکه تمام وصايا را تکافو نکند يا ورثه اجازه ندهد و ثلث مال، تمام وصيت را کفايت نکند ، حسب احوال ثلث يا متروکه بين اشخاصيکه به آنها وصيت شده است مطابق به حصص ، بين آنها تقسيم ميشود مشروط بر اينکه شخص وصيت شده بعين، از همان عين معيينه وصيت شده، حصهٔ خود را دريافت بدارد.

**مادهٔ - ۲۱۹۱:**

هرگاه وصيت به وجه ثواب صورت گرفته باشد و تماماً فرايض يا واجبات يا نوافل باشد ووصيت کننده براى هر يک از جهات حصهٔ را معيين نکرده باشد ، وصيت بين جهات مذکور بصورت مساوى تقسيم ميشود و اگر براى هر يک حصهٔ متفاوت تعيين نموده و تمام وصيت آن را تکافو نکند بتناسب حصهٔ هر جهت تقسيم ميشود.

**مادهٔ - ۲۱۹۲:**

هرگاه وصيت به انواع مختلف وجوه ثواب بصورت مساوى تقسيم شود واگر براى هر يکى انواع ثواب خاص تعيين گرديده و مال وصيت شده

تاکلی وی اووصیت کړه شوي مال د هغې دپاره کفایت ونه کړ نو فرائض دي په واجباتو او واجبات دي په نوافلو وړاندي شي او د هري نوعي حصه دي د هغې د افرادو ترمنځ په مساوي ډول وویشله شي .

**۲۱۹۳ - ماده:**

که د ثوابونو دپاره وصیت دنورو وصیتونو سره یو ځای شو ، او د هر پلو حصي یي نه وي تاکلی نو وصیت کړه شوي شي دي د هغوي ترمنځ په مساوي ډول وویشل شي.

**۲۱۹۴ - ماده:**

که په معاشونو باندي وصیتونو تزاحم وکړ او ځینې وصیت کړی شوي مړه شو او یا د وصیت کړی شوو پلوونو څخه یو پلو چه په معاشونو ورته وصیت شوي قطع شو، نو د هغه برخه د وصیت کوونکي وارثانو پوري تعلق نیسي.

## اوومه فرعه - متفرقه حکمونه

**۲۱۹۵ - ماده:**

(۱) هر قانوني عمل چه د چا څخه دمړیني په رنځ کښې صادریږي او د هغې څخه تبرع مقصد وي نو

کفایت همه انواع را کرده نتواند فرایض نسبت به واجبات و واجبات نسبت به نوافل ترجیح داده شده و حصهٔ هر نوع بین افراد آن بصورت مساوی تقسیم میشود.

**مادهٔ - ۲۱۹۳:**

هرگاه وصیت به وجوه ثواب با وصیت بطرق دیگر بدون تخصیص حصص یکجا شود، مال وصیت شده بصورت مساوی بین جهات مذکور تقسیم میشود.

**مادهٔ - ۲۱۹۴:**

هرگاه در وصیت بمعاش مزاحمت ایجاد شود و بعضی اشخاص مستحق وفات نموده یا یکی از جهات مستحق انقطاع نماید حصص مذکور به ورثه وصیت کننده تعلق میگیرد.

## فرع هفتم - احکام متفرق

**مادهٔ - ۲۱۹۵:**

(۱) هر عمل قانونی ایکه از شخص هنگام مرض موت او صادر گردیده و منظور از آن تبرع باشد نسبت آن به

دا عمل د مړيني څخه وروسته زماني ته مضافيږي که دا عمل هر نوم ولري، د وصيت حکمونه وربانـدي تطبيقيږي.

(۲) دچا څخه چه د مړيني په رنځ کښې قانوني عمل صادر شوي د هغې ثابتول دوارثانو په غاړې دي، هغوي کولي شي چه په دي باره کښي د اثبات د ټولو وسيلو څخه کار واخلي. په وارثانو باندي د سند په نيټې، که دانيټه ثابته نه وي ، تمسک نه شي کيدلي.

بعد از مرگ اعتبار داده شده و احکام وصيت بر آن تطبيق ميشود ، به صيغه و الفاظ اعتبار داده نميشود .

(۲) اثبات اينکه عمل قانوني هنگام مرض موت صورت گرفته است بدوش ورثه است و ميتوانند درين مورد از تمام وسايل و طرق اثبات استفاده نمايند . تمسک بر تاريخ سند عليه ورثه در صورتيکه اين تاريخ ثابت نباشد اعتبار ندارد .

۲۱۹۶ – ماده:

که وارثانو ثابته کړه چه قانوني تصرف د هغوي د مورث له خواد مړيني په رنځ کښې صادر شوي، نو ذکر شوي تصرف تبرع ګڼل کيږي، مگر داچه د هغه چا دپاره چه تصرف شوي د هغې عکس ثابت کي. ټول د احکم په هغې حالت کښې دي چه د هغې په خلاف حکمونه موجود نه وي.

مادهٔ – ۲۱۹۶:

هرگاه ورثه به اثبات برساند که تصرف قانوني از مورث آنها در مرض موت صادر گرديده تصرف مذکور تبرع شناخته ميشود ، مگر اينکه شخصيکه براى او تصرف صادر گرديده عکس آنرا به اثبات برساند ، اين امر در حالتى است که احکام ديگرى بخلاف آن وجود نداشته باشد .

۲۱۹۷ – ماده:

که څوك د خپل يوه وارث په ګټه يو تصرف وکي، او دعين د حيازت او د

مادهٔ – ۲۱۹۷:

هرگاه شخصى بنفع يکى از ورثه خود تصرفى را انجام داده و حيازت

هغې دګټې اخيستلو حق په هري طريقې چه وي پخپل ټول عمر کښې وساتي، دا تصرف د مرګ څخه وروسته زماني ته مضافيږي او د وصيت حکمونه ور باندي تطبيقيږي، مګر دا چه د هغې په خلاف کوم دليل قايم شي .

## دريم محبث- نښليدل

### لومړي فرعه- د غير دعقارپوري نښليدل

**۲۱۹۸ - ماده:**
که دسين د اوبو پورته کيدو په اثر نوي ځمکه پيدا شي او د بل چا د ملکيت لاندي ځمکې سره يو ځای شي نو نوي ځمکه د دولت ملکيت دي.

**۲۱۹۹ - ماده:**
کومي ځمکې چه دولاړو اوبو په شا او خوا کښې را ظاهريږي ، په هيڅ صورت د ګاونډيو مالکينو ملکيت نه کنګل کيږي . خو د هغه ځمکو ملکيت دلاسه نه ورکوي چه د اوبو دلوړوالی په اثر د اوبو لاندي شوي دي.

**۲۲۰۰ - ماده:**
هغه ځمکې چه د سيندونو په دواړو خواوو کښې ظاهريږي، د دولت

و انتفاع عين مذكور را بيكى از طرق الى زمان حيات خود حفظ نمايد ، تصرف مذكور به بعد از مرگ منسوب بوده و احكام وصيت بر آن تطبيق ميگردد مگر اينكه دليل ديگرى بر آن قايم گردد .

## مبحث سوم - التصاق

### فرع اول - التصاق بر غير عقار

**مادۀ - ۲۱۹۸:**
اگر از اثر آب خيزى دريا ، زمين جديدى بوجود آيد و بزمين مملوكه شخص ديگرى اتصال يابد زمين جديد ملكيت دولت شمرده ميشود .

**مادۀ - ۲۱۹۹:**
اراضى ايكه در اطراف آبهاى ايستاده جديداً مكشوف ميشود به هيچ صورت ملكيت مالكين همجوار شناخته نميشود مگر ملكيت زمينى را كه در اثر ارتفاع آب زير آب شده است از دست نميدهند .

**مادۀ - ۲۲۰۰:**
اراضى ايكه در دو طرف درياها منكشف ميگردد ملك دولت شناخته

ملکيت دي.

۲۲۰۱ – ماده:
د هغو ځمکو ملکيت چه د سيندونو د جريان د تغيير په اثر پيدا کيږي او کومي جزيري چه د هغې په جريان کښې پيدا کيږي، د خاص قانون په و سيلي تنظيميږی.

۲۲۰۲ – ماده:
ټولي بنا ګاني ، دونو کرهڼه او نور تاسيسات چه د ځمکې د مالک د کار کولو څخه پيدا کيږي ، د هغه ملکيت ګڼل کيږي.

۲۲۰۳ – ماده:
هره بناء يا دونو کرهڼه يا نور تأسيسات چه د نورو خلکو په موادو سره د ځمکې د مالک له خوانوي جوړيږي، د ځمکې د خاوند ملکيت ګڼل کيږي، د موادو د قيمت په ورکولو او د قانع کوونکي دليل دپيدا کيدو په صورت کښې د تعويض په ورکولو هم مکلف کيږي. خو په دي شرط چه د موادو ويستل بي له دي چه تأسيساتو ته لوي ضرر ورسيږی ممکن نه وي.

۲۲۰۴ – ماده:
که څوك د خپلو موادو په وسيلي

میشود.

مادۀ – ۲۲۰۱:
ملکیت اراضی ایکه در اثر تغییر مسیر دریا بوجود می آید و جزیره های که در مسیر آن تشکیل میگردد توسط قانون خاص تنظیم میشود.

مادۀ – ۲۲۰۲:
تمام بناءها ، اشجار غرس شده و تاسیسات دیگری که از عمل مالک زمین بوجود آمده باشد ملک او شناخته میشود.

مادۀ – ۲۲۰۳:
هر بنأ یا غرس اشجار یا تأسیساتیکه جدیدا از طرف مالک زمین بوسیله مواد مملوکه غیر احداث میگردد ملک صاحب زمین محسوب شده به تادیه قیمت مواد و در صورت موجودیت دلیل موجه به پرداخت تعویض نیز مکلف میشود. مشروط بر اینکه کشیدن مواد بدون الحاق ضرر بزرگ به تأسیسات مذکور ممکن نباشد.

مادۀ – ۲۲۰۴:
هرگاه شخص توسط مواد شخصی

دبل چاپه ملکیت کښې بې له دې چه هغه پرې راضي وي، بنأ یا تأسیسات جوړکي، د ځمکې خاوند کولي شي چه د جوړوونکي په مصرف د هغې دلیري کیدو غوښتنه وکي. په هغې صورت کښې چه د هغې لیري کیدل بې له دې چه ځمکې ته ضرر ورسیږي ممکن نه وي، د ځمکې خاوند کولي شي چه دلیرى کولوور شیان د قیمت دور کولو په بدل کښې پخپل ملکیت کښې راوړي.

**۲۲۰۵ – ماده:**

که ددي قانون په (۲۲۰۴) مادې کی مندرج دبنأ یا تأسیساتو جوړوونکی شخص په ښه نیت سره عقیده ولری چې د ذکر شوو بناګانو او تاسیساتو په جوړونوکی د حق خاوند دی نو د ځمکی خاوند د هغی دلیري کولو غوښتنه نه شي کولي، بلکه داسي کولي شي چه د موادو قیمت د کارګرانو د اجوري سره، یا د هغه قیمت چه د جوړ ولو په سبب د ځمکې په ثمن کښې زیات والي راغلي دي، ورکي. خوپه دي شرط چه د بنا یا تأسیساتو مالک د هغې دلیري کولو غوښتنه ونه کي.

**۲۲۰۶ – ماده:**

خود ، بنأ یا تأسیسات دیگری را با وجود علم به ملکیت غیر در زمین شخص دیگری بدون رضائیت او احداث نماید مالک زمین می تواند ازالۀ آنرا بمصارف احداث کننده مطالبه نموده در صورت موجودیت دلیل مؤجه تعویض را نیز مطالبه نماید . در صورتیکه ازالۀ آن بدون عائد شدن ضرر بزمین ممکن نباشد مالک زمین می تواند اشیاء قابل ازالۀ را در مقابل تادیه قیمت آن تصاحب نماید .

**مادۀ – ۲۲۰۵:**

هرگاه شخص احداث کنندۀ بنأ یا تأسیسات مندرج مادۀ (۲۲۰۴) این قانون با حسن نیت معتقد باشد که در احداث انشاآت مذکور ذیحق می باشد . مالک زمین ازالۀ آن را مطالبه کرده نتوانسته بلکه میتواند یا قیمت مواد را با اجرت کار کارگران یا آنچه که به سبب احداث در ثمن زمین افزایش بعمل آمده هر یک را که خواسته باشد بپردازد مشروط بر اینکه مالک تأسیسات ، ازالۀ آنرا مطالبه نه نماید .

**مادۀ – ۲۲۰۶:**

که ددي قانون د (**۲۲۰۵**) مادې درج شوي بنأ یا تأسیسات دومره لوي وي چه د هغې د استحقاق ورکول د ځمکی د خاوند په توان کښې نه وي ، نو د ځمکې خاوند کولي شي چه جوړوونکي ته د ځمکې د تملیک کولو د عادلانه تعویض په بدل کښې غوښتنه وکي.

**۲۲۰۷ - ماده:**
که تأسیسات د جوړوونکي په موادو او دځمکې د مالک په اجازي صورت موندلي وي ، که څه هم ددي تأسیساتو په مشخصاتو کښې موافقه نه وي شوي نو دځمکې خاوند نه شي کولي چه د هغې دلیري کولو غوښتنه وکي بلکه مکلف دي چه دپاتي کیدو په حالت کښې د هغې قیمت ورکي ، مګر داچه جوړوونکي د هغې دلیري کیدو غوښتنه وکي.

**۲۲۰۸ - ماده:**
که څوك دبل چا ځمکه بې د هغې د مالک د اجازي څخه وکري او په ځمکې کښې کرل شوي تخم راشین شي ، نوکرهڼه د ځمکې د مالک پوري تعلق نیسي.

**دوهمه فرعه - دمنقولو پوري نښلیدل**

هرگاه بنأ یا تأسیسات مندرجه مادهٔ (**۲۲۰۵**) این قانون بحدی بزرگ باشد که پرداخت استحقاق آن در توان مالک زمین نباشد ، مالک زمین می تواند تملیک زمین را در مقابل تعویض عادلانه برای احداث کنندهٔ تأسیسات تقاضاء نماید.

**مادهٔ - ۲۲۰۷:**
هرگاه تأسیسات بوسیله مواد احداث کننده به اجازه مالک زمین صورت گرفته باشد گر چه در مشخصات این تأسیسات موافقه به عمل نیامده باشد مالک زمین نمیتواند ازالهٔ آنرا مطالبه کند بلکه مکلف است قیمت آنرا بحال بقای آن بپردازد مگر اینکه احداث کننده ازالهٔ آنرا مطالبه نماید.

**مادهٔ - ۲۲۰۸:**
هرگاه شخص زمین شخص دیگری را بدون اجازه مالک آن بذر نماید و بذر مذکور سبز شود زرع به مالک زمین تعلق می گیرد.

**فرع دوم - التصاق ، اتصال بر منقول**

**۲۲۰۹ - ماده:**

که دوه منقول جنسونه چه ددوه مختلفو اشخاصو ملکیت دي ، په ښه نیت او بې له دي چه مالکینو وربانديي ترمخه موافقه کړې وي ، په داسي توګه سره يو تربله يو ځای شي چه د تلفیدو په غیر يو تربله نه شي جلاکیدي ، نو د منقول د زیات مال مالک دلږ منقول چه د مال سره يي يو ځای شوي د قیمت په بدل کښې مالک ګڼل کیږي.

**مادۀ - ۲۲۰۹:**

هرگاه دو جنس منقول ملکیت دو شخص مختلف با حسن نیت و بدون موافقه قبلی مالکین آن طوری با هم یکجا شود که بدون تلف شدن از هم مجزا شده نتواند مالک منقول اکثر در برابر قیمت منقول دیگر، مالک مال یکجا شده محسوب میگردد.

## څلورم مبحث - عقد انتقال

## مبحث چهارم - عقد انتقال

**۲۲۱۰ - ماده:**

د عقد په وسیلي ، په عقار او منقول کښې ملکیت او نور عیني حقوق انتقال پیدا کوي، خو په دي شرط چه عقد په صحیح، نافذ او قاطع صورت منعقد شوي وي .

**مادۀ - ۲۲۱۰:**

ملکیت و سایر حقوق عینی در عقار و منقول بوسیلۀ عقد انتقال می یابد مشروط بر اینکه عقد بصورت صحیح، قاطع، نافذ و لازم منعقد گردد.

**۲۲۱۱ - ماده:**

کوم منقول چه بي د نوعي د توضیح کولو څخه نه شي ټاکل کیداي نو د قانون د حکمونو سره سم بې د جلاوالي څخه د هغې ملکیت نه شي نقلیدلي.

**مادۀ - ۲۲۱۱:**

منقولیکه بدون توضیح نوع تعیین شده نتواند بغیر از افراز آن مطابق احکام قانون ملکیت آن انتقال نمی یابد.

**۲۲۱۲ - ماده:**

د عقار او نورو عيني حقوقو ملکيت چه په کښې د سندونو د ثبت د قانون ټاکل شوي شرطونه مراعات شوي نه وي ، نه نقليږي.

## پنځم مبحث - د شفع
### لومړي فرعه - عمومي حکومونه

**۲۲۱۳ - ماده:**

شفع په اخيستونکي باندي د ټول ياځينې خرڅ شوي عقار د تملک د حق څخه د ثمن او هغه مصرفونو په بدل کښې چه صورت يې موندلي عبارت ده ، که څه هم په جبري صورت وي.

**۲۲۱۴ - ماده:**

د شفعي سبب دادي چه د شفعي وړونکي ملکيت د خرڅ کړه شوي عقار سره متصل وي . عام له دي چه يوځای والي د شراکت له لاري وي او يا دګاونډيتوب.

**۲۲۱۵ - ماده:**

په شفعي کښې شراکت دوه نوعي دي، يو پخپله په خرڅ کړه شوي عقار کښې شرکت او بل د هغې په حقوقو کښې شرکت.

**مادۀ - ۲۲۱۲:**

ملکیت عقار و سایر حقوق عینی که در آن شرایط مقرره قانون مبنی بر ثبت اسناد رعایت نشود انتقال نمی نماید.

## مبحث پنجم - شفع
### فرع اول - احکام عمومی

**مادۀ - ۲۲۱۳:**

شفع عبارت از حق تملک تمام یا بعضی از عقار فروخته شده است بر مشتری بمقابل ثمن و مصارفیکه صورت گرفته ولو بصورت اجبار باشد.

**مادۀ - ۲۲۱۴:**

سبب شفع اتصال ملک شفیع است با عقار فروخته شده اعم از اینکه اتصال از رهگذر شرکت باشد یا جوار.

**مادۀ - ۲۲۱۵:**

شرکت در شفع دو نوع است، یکی شرکت در نفس عقار فروخته شده و دیگری شرکت در حقوق آن.

**۲۲۱۶ - ماده:**
پخپله په خرڅ کړه شوي عقار کښې شرکت دي ته وايي چه شفع وړونکي په هغې کښې شريکه حصه ولري.

**مادهٔ - ۲۲۱۶:**
شرکت در نفس عقار فروخته شده آن است که شفيع در آن حصهٔ مشترک داشته باشد.

**۲۲۱۷ - ماده:**
د عمارت د احاطي د ديوال په ځمکې کښې شريک، پخپله عقار کښې شريک ګڼل کيږي

**مادهٔ - ۲۲۱۷:**
شريک در زمين ديوار احاطه عمارت، شريک در نفس عقار شمرده ميشود.

**۲۲۱۸ - ماده:**
د خرڅ کړه شوي عقار په حقوقو کښې شرکت عبارت دي د خاصي حقابي او خاص لاري، د شرکت څخه عام له دي چه ذکر شوي تخصيص ديوه پوري منحصر وي او که د متعددو پوري.

**مادهٔ - ۲۲۱۸:**
شرکت در حقوق عقار فروخته شده عبارت از شرکت در حقابه خاص و راه خاص ميباشد، خواه تخصيص مذکور منحصر بيکی باشد يا متعدد.

**۲۲۱۹ - ماده:**
د خرڅ کړه شوي عقار متصل ګاونډی د شفعي وړونکي ګڼل کيږي.

**مادهٔ - ۲۲۱۹:**
همجوار متصل عقار فروخته شده شفيع شناخته ميشود.

**۲۲۲۰ - ماده:**
که لاندني منزل ديوه ملکيت او پاسني منزل د بل چا ملکيت وي، نويو دبل متصل ګاونډی ګڼل کيږي.

**مادهٔ - ۲۲۲۰:**
هرگاه منزل تحتانی ملک يکی و منزل فوقانی ملک ديگری باشد، يکی همسايه متصل ديگری شناخته ميشود.

**۲۲۲۱ - ماده:**
(۱) که د شفعي سببونه يو ځای شو، نو قوي سبب ته ترجيح ورکول کيږي، په دي اساس څوک چه پخپله عقار

**مادهٔ - ۲۲۲۱:**
(۱) در صورت اجتماع اسباب شفع به سبب قويتر ترجيح داده ميشود به اين اساس به

کښې شريک وي، ترهغې وروسته هغه شريک ته چه ترڅمکه شريکه احاطه ولري ترهغې وروسته چه د خرڅ کړه شوي عقار په خاصو حقوقو کښې شريک وي او ترهغې وروسته متصل ګاونډي ته د لمړی والي حق ورکول کيږي.

شـريک در نفس عقار، بعد از آن زمين احاطه مشترک، بعد از آن به شريک در حقوق خاص عقار فروخته شده و بعد از آن به همجوار متصل حق تقدم داده ميشود.

(۲) که د دي مادې د پورتني فقري کوم يو درج شوي شخص شفع پريږدی او يايي حق ساقط شي نو د هغه د شفعي حق بل چاته چه ترهغه وروسته مرتبې کښې بې له فاصلي څخه واقع دي نقليږي.

(۲) اگر يکی از اشخاص مندرج فقرۀ فوق اين مادۀ شفع را ترک نمايد و يا حق او ساقط گردد حق شفع به ديگری که در مرتبه بلافاصله بعد تر از آن قرار دارد انتقال مى نمايد.

**۲۲۲۲ - ماده:**

شريکانو ته د شفعي استحقاق د شريکانو د تعداد په اساس اعتبار ورکول کيږی نه په ملکيت کښې د هغوي د حصو په اندازي. په دي صورت کښې که کوم شريک خپله حصه په بل شريک خرڅه کي، نو ذکر شوي شخص د شريکانو د جملي څخه يو نفر دي او خرڅه کړه شوي حصه د هغوي ترمنځ ويشله کيږی.

**مادۀ - ۲۲۲۲:**

استحقاق شفع برای شرکاء به اساس تعداد شرکاء اعتبار داده ميشود نه به اساس مقدار حصص آنها در ملکيت. به اين صورت اگر يک شريک حصۀ خود را بيکی از شرکاء ديگر بفروش برساند، شخص مذکور يکی از جمله شرکاء شناخته شده و حصۀ فروخته شده در بين آنها تقسيم ميشود.

## دوهمه فرعه - د شفعي ثبوت

## فرع دوم - ثبوت شفع

**۲۲۲۳ - ماده:**

شفع د خرڅولووروسته او د موجبه

**مادۀ - ۲۲۲۳:**

شفع بعد از بيع و در حال

سببونو د موجودیت په حالت کښې، ثابتیږي.

**۲۲۲۴ - ماده:**
په کومې بیعې کښې چه شفع ثابتیږي باید چه راتلونکي شرطونه ولري:
۱ - باید چه عقار د یو چا ملکیت وي، که څه هم دویشلو وړ نه وي.

۲ - باید چه بیعه صحیح او نافذه وي یا داچه بیعه فاسده وي، خو د فسخ حق په کښې ساقط شوي وي او د خرڅوونکي په ګټه د شرط د خیار څخه خالي وي.

۳ - باید چه دمبیعې بدل مال وي.

**۲۲۲۵ - ماده:**
د کوم عقار په وسیلې چه شفع ثابتیږي په هغې کښې شرط دي چه د هغه عقار د اخیستلو په وخت کښې چه په شفعي وړل کیږي، د شفعي وړونکی ملکیت وي او همدارنګه شرط ده چه د شفعي وړونکی له خوا په بیعې باندې صراحتاً یا دلالتاً رضائیت نه وي صادر شوي.

**۲۲۲۶ - ماده:**
په لاندنیو مواردو کښې شفع نه شته:
۱ - په بې عوضه هبې، صدقې، میراث وړلو یا وصیت کښې او یا په

موجودیت اسباب موجبه آن، ثابت میشود.

**مادۀ - ۲۲۲۴**
بیعی که در آن شفع ثابت میشود، باید واجد شرایط آتی باشد:
۱ - باید عقار مملوک باشد، گرچه غیر قابل قسمت باشد.

۲ - بیع صحیح و نافذ بوده یا در صورتیکه بیع فاسد باشد، حق فسخ در آن ساقط گردیده و از اختیار شخص به نفع بایع عاری باشد.

۳ - بدل مبیعه مال باشد.

**مادۀ - ۲۲۲۵:**
در عقاریکه توسط آن شفع ثابت میگردد، شرط است که در وقت خریدن عقاریکه به شفع برده میشود، ملکیت شفیع باشد و شرط است که از شفیع رضائیت به بیع صراحتاً یا دلالتاً صادر نشده باشد.

**مادۀ - ۲۲۲۶:**
در موارد آتی شفع نیست:
۱ - در هبه بلا عوض یا در صدقه یا ارث یا وصیت یا

هغې عقار کښې چه بدل یې مال نه وي.

عقاریکه بدلهٔ آن مال نباشد.

۲ – په هغې منقولاتو کښې چه په ځمکې کښې نصب شوي وي، او په هغې ونوکښې چه په کومې ځمکې کښې ولاړې دي بې د ځمکې خرڅې شي که منقولات او وني د ځمکې په تبعیت خرڅ کړي شي نو شفع په کښې ثابتیږي

۲ – در منقولات منصوب در زمین و اشجار، بدون زمینیکه در آن ایستاده فروخته شود و اگر منقولات منصوبه و اشجار، بدون زمینیکه در آن ایستاده فروخته شود و اگر منقولات منصوبه و اشجار به تبعیت زمین فر وخته شود در آن شفع ثابت میشود.

۳ – په هغې بناء اوونو کښې چه د دولت په ملکیت کښې ولاړ وي.

۳ – در بناء و اشجاریکه در زمین ملکیت دولت استوار باشد.

۴ – په وقف کښې او د وقف د پاره.

۴ – در وقف و برای وقف.

۵ – د شریکانو ترمنځ د عقار په ویش کښې.

۵ – در تقسیم عقار بین شرکاء.

۶ – په هغې بیعې کښې چه خرڅوونکي په کښې د شرط خیار ولري، مگر دا چه خرڅوونکي خیار ساقط کړي وي او بیعه لازمه شي.

۶ – در بیعیکه در آن بایع خیار شرط داشته باشد. مگر اینکه بایع خیار را ساقط نموده و بیع لازم گردد.

۷ – په هغې مبیعي کښې چه په علني مزایدي یې صورت موندلي وي یا یې د قانوني مجوزاتو سره سم د دولت له خوا د هغې خرڅولو صورت موندلي وي.

۷ – در مبیعه ایکه به مزایده علني یا مطابق اجراآت مجوزه قانوني، از طرف دولت فروش آن صورت مي گیرد.

۸ – په هغې مبيعي کښې چه د اصولو او فروعو ترمنځ يا د زوجينو ترمنځ يا د څلورمي درجې پوري د خپلوانو ترمنځ او يا د دوهمي درجې پوري د خيخانو ترمنځ خرڅول کيږي.

۹ – په هغې مبيعي کښې چه د استملاک، د جومات جوړ ولو يا د هغې سره د يو ځای کيدو دپاره خرڅول کيږي.

۱۰ – په نورو ټولو هغو مواردو کښې چه خاص قانون يي پيش بيني کړي ده.

### دريمه فرعه- د شفعي غوښتنه

**۲۲۲۷ – ماده:**
د شفعي غوښتنه په دريو طريقو صورت مومي:
۱ – د ټوپ وهلو غوښتنه.

۲ – د شاهدانو نيولو غوښتنه .

۳ – د تملک غوښتنه .

**۲۲۲۸ – ماده:**
د ټوپ وهلو غوښتنه داده چه شفع وړونکی په هغې مجلس کښې چه په خرڅولو، اخيستونکي او ثمن باندي

۸ – در مبيعه ايکه بين اصول و فروع يا بين زوجين يا بين اقارب تا درجۀ چهارم يا بين خويشاوندان تا درجۀ دوم، فروخته ميشود.

۹ – در مبيعه ايکه بمنظور استملاک اعمار مسجد يا الحاق به آن، فروخته ميشود.

۱۰ – ساير مواردیکه که قانون خاص پيش بينی نموده باشد.

### فرع سوم – طلب شفع

**مادۀ – ۲۲۲۷:**
مطالبه شفع به سه طريقه صورت می گيرد:
۱ – طلب مواثبت (مبادرت)

۲ – طلب اشهاد (تقدير)

۳ – طلب تملک (دعوی)

**مادۀ – ۲۲۲۸:**
طلب مواثبت، آن است که شفيع در مجلسی که به بيع و مشتری و ثمن علم حاصل می

علم پیدا کوي سمدستي بي دهغه شي د صادریدلو چه په انصراف یي دلالت وکي د شفعي غوښتلو ته اقدام وکي او داخیستونکي د منکریدلو د ویري په منظور د خپلي غوښتنی د پاره شاهدان ونیسي.

**۲۲۲۹ - ماده:**

(۱) د شاهدانو د شهادت داداء کولو غوښتنه داده چه شفع وړونکی په خرڅوونکي باندي که عقار د هغه په لاس کښی وي یا په اخیستونکي باندي، که څه هم عقار د هغه په لاس کښی وي یا دبیعي په وخت کښی د شفعي د اخیستلو په غوښتنه شاهدان ونیسي، که څه هم دا غوښتنه په لیکلي توگه یا د استازي په وسیله په وسیلي نه وي شوي. که شفع وړونکی د شاهدانو په نیولو قادر شي او شاهدان ونه نیسي، شفع باطلیږي.

(۲) که شفع وړونکي د ټوپ وهلو په غوښتنه کښی د خرڅوونکي یا اخیستونکي په حضور، شاهد ونیسي، نو دا کار د دواړو نوعو غوښتنو معني افاده کوي.

**۲۲۳۰ - ماده:**

(۱) د تملک غوښتنه د محکمې په

نماید، فورا بدون صدور آنچه به انصراف او دلالت کند بطلب شفع مبادرت ورزد و به منظور خوف انکار مشتری برای طلب خود، شهود بگیرد.

**مادۀ - ۲۲۲۹:**

(۱) طلب اشهاد، آن است که شفیع بر بایع در صورتی که عقار در دست او باشد، یا بر مشتری گر چه عقار در دست او نباشد، یا هنگام بیع مبنی بر طلب اخذ شفع، شهود بگیرد. گر چه این مطالبه کتبی یا توسط فرستنده صورت نگرفته باشد و در صورتیکه به گرفتن شهود قادر شود و شهود نگیرد، شفع باطل میشود.

(۲) هر گاه شفیع در طلب مواثبت بحضور یکی از بایع یا مشتری شاهد بگیرد، این امر معنی هر دو نوع طلب را افاده میکند.

**مادۀ - ۲۲۳۰:**

(۱) طلب تملک عبارت از طلب

وړاندي دجګړی کولو د غوښتنی څخه عبارت دي.

(۲) که شفع وړونکی د ټوپ وهلو او د شاهدانو د شهادت د اداء کولو دغوښتنی په اساس د مبيعي په اخيستلو قادرنه شي، نو مکلف دي چه د مبيعي د خرڅولو د علم د نيټی څخه ديوي مياشتي په اوږدو کښی، خرڅوونکي او اخيستونکي ته رسمي خبرتيا صادره کي چه د شفعي د لاري غواړي چه مبيعه واخلم. او که يي دا کار ونه کړ نو د شفعي حق يي ساقطيږي.

مخاصمت است در پيشگاه محمکه.

(۲) هرگاه شفيع به اساس طلب مبادرت و طلب اشهاد به گرفتن مبيعه قادر نگردد ،مکلف است در خلال يکماه از تاريخ علم او براى هر يک از بايع و مشترى مبنى بر رغبت خود به خريدارى مبيعه به طريق شفع، اخطار رسمى صادر نمايد و الاحق شفع او ساقط ميشود.

**۲۲۳۱ - ماده:**

ددي قانون د (۲۲۳۰) مادې درج شوي رسمي خبرتيا بايد چه د راتلونکي غوښتنو ته شامله وي:

۱ - د هغې عقار کافي بيان چه په شفعي باندي د هغې اخيستل د نظر لاندي دي.

۲ - د ثمن او رسمي مصرفو نو، د بيعي شرطونه ، د خرڅوونکي او اخيستونکي نومونه، لقبونه ، کسبونه او د استوګنځيو بيان.

**مادۀ - ۲۲۳۱:**

اخطار رسمى مندرج مادۀ (۲۲۳۰) بايد شامل مطالب ذيل باشد:

۱ - بيان کافى عقاريکه اخذ آن به شفع مد نظر است.

۲ - بيان ثمن وعطوف رسمى و شروط بيع و اسم هر يک از بايع و مشترى با لقب و پيشه و سکونت آنها.

**۲۲۳۲ - ماده:**

په شفعي اخيستلو کښی د شخص د

**مادۀ - ۲۲۳۲:**

اعلان رغبت شخصى در گرفتن به

رغبت اعلام ترهغې پورې په بل چا حجت کيدلي نه شي ترڅوچه دا اعلام ثبت شوي نه وي.

که اخيستونکي د شفعي قبلول رد کړل نو شفع وړونکی مکلف دي، محکمې ته د دعوي د وړاندي کولو ترمخه، د اعلام څخه وروسته دديرش ورځو په اوږدو کښی هغه ثمن چه پري بيعي صورت موندلي په داسي خزانې يا بانک کښی په وديعت کښيږدي چه د نظر لاندي عقار د هغې په حوزې کښی موجود وي او که دا کارونه کي نو د شفعي په اخيستلو کښی د شفع وړونکی حق ساقطيږي.

شفع، تا وقتيکه اين اعلان به ثبت نرسيده باشد، بر غير حجت شده نيمتواند.

اگر مشتری قبولی شفع را رد نمود، شفيع مکلف است قبل از رفع دعوی به محکمه، در ظرف سی روز بعد از اعلان ثمنی را که به آن بيع صورت گرفته، در خزانه يا بانک طور امانت بگذارد که در حوزه آن عقار مورد نظر قرار دارد، و الاحق شفيع در اخذ شفع ساقط ميشود.

**۲۲۳۳ - ماده:**

(۱) په خرڅوونکی او اخيستونکي باندي د شفعي وړوني د عوي د دي قانون د (۲۲۳۲) مادې ددرج شوي اعلام څخه وروسته د ديرش ورځو په اوږدو کښی هغې محکمې ته وړاندي کيږی چه د نظر لاندي عقار د هغې دواک په حوزي کښی موجود وي. که دا کار ونه کي نو د شفعي وړونکی حق ساقطيږی.

(۲) د شفعي د عوي په عاجل صورت سره د غور لاندي نيوله کيږی.

**مادهٔ - ۲۲۳۳**

(۱) دعوی شفيع عليه بايع و مشتری در ظرف سی روز بعد از اعلان متذکره مادهٔ (۲۲۳۲) اين قانون به محکمه تقديم ميشود که عقار مورد نظر در حوزهٔ صلاحيت آن قرار دارد. در غير آن حق شفيع ساقط ميگردد.

(۲) دعوی شفع بصورت عاجل تحت رسيدگی قرار داده ميشود.

**۲۲۳۴ - ماده:**
که مبیعه د خرڅوونکي په لاس کې وي نو ترڅو چه اخیستونکي حاضر نه شي ، شهادت وربانديي نه اوریدل کیږي. په هغې صورت کښې چه شفع په ټولو شرطونو او سببونو ثابته شي، نو قاضي به داخیستونکي اخیستل فسخ کوي او په وړل شوي عقار حکم به شفعي وړونکی ته کوي.

**۲۲۳۵ - ماده:**
کوم حکم چه په آخرني صورت د شفعي د ثبوت دپاره صادریږي د شفعي وړونکی د ملکیت سند ګڼل کیږي، دا کار د سندنو د ثبت پوري مربوطي قاعدي نه اخلالو ي.

### څلورمه فرعه - د شفعي حکمونه

**۲۲۳۶ - ماده:**
شفع وړونکی د خرڅوونکي په مقابل کښې په ټولو حقوقو او التزامونو کښې داخیستونکي قایم مقام ګرځی.

**۲۲۳۷ - ماده:**
عام له دي چه د عقار تملک قضائي وي یا رضائي د شفعي وړونکی په حق کښې نوي اخیستل ګڼل کیږي ، نو د لیدلو او د عیب د خیارونو څخه ګټه

**مادۀ - ۲۲۳۴:**
هرگاه مبیعه در دست بایع باشد ، تا زمانیکه مشتری حاضر نشود شهادت بر او شنیده نمیشود . در صورتیکه شفع با تمام شرایط و اسباب آن ثابت شود ، قاضی خرید مشتری را فسخ و عقار مشفوع را برای شفیع حکم میکند .

**مادۀ - ۲۲۳۵:**
حکمیکه بصورت نهائی برای ثبوت شفع صادر میشود ، سند ملکیت شفیع شناخته شده ، این امر قواعد مربوط به ثبت اسناد را اخلال نمیکند .

### فرعه چهارم - احکام شفع

**مادۀ - ۲۲۳۶:**
شفیع در تمامی حقوق و وجائب در برابر بایع، قایم مقام مشتری قرار میگیرد .

**مادۀ - ۲۲۳۷:**
تملک عقار اعم از اینکه قضائی باشد یا رضائی در حق شفیع خرید جدید شمرده میشود ، از خیار رویت و خیار عیب مستفید شده

اخیستلي شي، که څه هم اخیستونکي د خپل خرڅوونکي سره د دي دواړو خیارونو څخه برائت شرط کړي وي.

**۲۲۳۸ - ماده:**

که د شفعي وړونکی دپاره په مبیعي حکم وشي او ثمن یي په اخیستونکي موٴجل وي ، په شفعي وړونکی مکلف دي چه هغه معجل اداء کي. په هغې صورت کښی چه ثمن خرڅوونکي ته ورکول شي، نو د اخیستونکي د ذمي څخه ساقطیږی او که اخیستونکي ته ورکول شي نو خرڅوونکي نه شي کولي چه د موافقه شوي مودي د رسیدو ترمخه یي د اخیستونکي څخه غوښتنه وکي.

**۲۲۳۹ - ماده:**

که عقار په شفعي اخیستلو څخه وروسته په استحقاق ویوړ شي نو شفع وړونکی یواځی په خرڅوونکي رجوع کولي شي.

**۲۲۴۰ - ماده:**

په شفعي وړونکی کولي شي د اخیستونکي ټول تصرفونه په شمول ددي چه په شفعي وړل شوي عقار د هغه له خوا وقف شوي وي یا د جمات د پاره ټاکل شوي وي نقض کي، مگر

میتواند ، گرچه مشتری یا بایع خود برائت از این دو خیار را شرط کرده باشد.

**مادۀ - ۲۲۳۸:**

هرگاه برای شفیع به مبیعه حکم شود و ثمن آن بالای مشتری مؤجل باشد ، شفیع مکلف است آنرا معجل بپردازد. در صورتیکه ثمن ببایع تادیه شود ، از ذمه مشتری ساقط میشود و در صورتیکه برای مشتری تادیه گردد ، بایع نمیتواند آنرا قبل از رسیدن موعد موافقه شده از مشتری مطالبه نماید.

**مادۀ - ۲۲۳۹:**

هرگاه عقار بعد از اخذ آن به شفع از طرف غیر به استحقاق برده شود ، شفیع تنها به بایع مراجعه کرده میتواند.

**مادۀ - ۲۲۴۰:**

شفیع میتواند تمام تصرفات مشتری را به شمول وقف نمودن عقار مشفوع یا قرار دادن آن بحیث مسجد نقض نماید. مگر اینکه عقد بیع در اول به

دا چه د اول څخه د بيعي عقد د همدي منظور دپاره شوي وي.

همين منظور صورت گرفته باشد.

**۲۲۴۱ – ماده:**

که اخيستونکي د شفعي وړونکی د رسمي خبرتيا وروسته په شفعي لاندي شوي ځمکی ياکور کښی آبادي وکي يا نيالگي کښيږدي شفعي وړونکی کولي شي چه د شفعي لاندي عقار پريږدي اويايي د مسمي شوي ثمن او د بناء د موادو يادونو د قيمت اداء کولو په بدل کښی واخلي، او يا داچه اخيستونکي دبناء په نړولو او د نيالگيو په ويستلو مکلف کي.

**مادهٔ – ۲۲۴۱:**

هرگاه مشتری بعد از ابلاغ رسمی شفيع در زمين يا خانه مشفوع، آبادی نمايد، يا نهال غرس کند، شفيع می تواند مشفوعه را ترک نموده يا آنرا در مقابل ثمن مسمی و پرداخت قيمت مواد بنأ يا اشجار بگيرد و يا مشتری را به قلع بنأ و اشجار مکلف نمايد.

**۲۲۴۲ – ماده:**

که اخيستونکي د شفعي وړونکی د رسمي خبرتيا تر مخه د شفعي لاندي شوي عقار کښی زيات والي راوړي، نو شفعي وړونکی اختيار لري چه عقار پريږدي او يايي د ثمن او دزيات د قيمت داداء کولو په بدل کښی اخلي.

**مادهٔ – ۲۲۴۲:**

هرگاه مشتری قبل از ابلاغ رسمی شفيع در عقار مشفوعه زيادتی بعمل آرد، شفيع در ترک عقار يا اخذ آن در مقابل ثمن و پرداخت قيمت زايد. مخير است.

**۲۲۴۳ – ماده:**

که اخيستونکي يا بل څوك د شفعي لاندي شوي عقار رنگ اويايي کيښودل شوي وني ونړوي نو د ذکر شوي عقار شفع وړونکی کولي شي چه

**مادهٔ – ۲۲۴۳:**

هرگاه مشتری يا شخص ديگری بناء عقار مشفوعه را منهدم نموده يا اشجار غرس شدهٔ آنرا قلع نمايد، شفيع عقار مذکور را به ثمن

د پاتي حصي د ثمن په معادل هغه واخلي.

۲۲۴۴ - ماده:

(۱) که دشفعي لاندي شوي ځمکه پخپله ړنګه شي یا د شفعي لاندي شوي باغ وني بي له قصوره وچي شي نو شفعي ورونکی کولي شي چه دمسمي شوي ثمن په بدل کښی یي واخلي.

(۲) په هغې صورت کښی چه اخیستونکي د هغې د خراب شوومواداو یا وچو شوو لرګیو څخه ګټه اخیستي وي نو د هغې د قیمت د معادل په اندازي د اصلي ثمن څخه کمیږي.

۲۲۴۵ - ماده:

که د شفعي لاندي شوي عقار یوه برخه د طبیعي حوادثو او د هغې د امثالو په سبب تلف شي، تلف شوي حصه د اصلي ثمن څخه کمیږي.

۲۲۴۶ - ماده:

که شفعي ورونکی وروسته له دي چه د شفعي لاندي شوي عقار په شفعي واخلي په هغې کښی بناء جوړه کي یا وني وکري ترهغې وروسته ذکر شوي عقار په استحقاق ویوړل شي، نو

معادل حصهٔ باقیمانده اخذ نموده میتواند.

مادهٔ - ۲۲۴۴:

(۱) هرگاه خانه مشفوعه خود بخود منهدم گردد یا درختان باغ مشفوعه بدون قصور خشک شود، شفیع آنرا در برابر ثمن مسمی اخذ نموده میتواند.

(۲) در صورتیکه مشتری از مواد تخریب شده یا چوب های خشک شده آن استفاده بعمل آورده باشد، به اندازه معادل قیمت آن از اصل ثمن تنقیص میشود.

مادهٔ ۲۲۴۵:

هرگاه قسمتی از عقار مشفوعه به اثر حوادث طبیعی یا امثال آن تلف شود، حصهٔ تلف شده از اصل ثمن کاسته میشود.

مادهٔ - ۲۲۴۶:

هرگاه شفیع در عقار مشفوعه بعد از اخذ آن به شفع بناء اعمار نماید یا اشجار غرس کند و بعداً عقار مذکور به استحقاق برده شود، تنها به طلب ثمن

يوائې د ثمن د غوښتلو مراجعه کولي شي نـه د هغـه نقصـان چـه د بنـا د ړنګيـدو يـا دونـي د ويسـتلو لـه درکـه ورته متوجه دي.

**۲۲۴۷ - ماده:**

(۱) شـفع تجزيـه نـه قبلـوي، شـفع وړونکی نه شي کولي چه اخيستونکي د شفعي لاندي شوي عقار ديوي برخي پـه اخيسـتلو او د ځينـی نـوري پـه پريښـودلو مجبور کي.

(۲) پـه هغـې صـورت کښـی چـه خرڅوونکي يو او اخيستونکي متعدد وي، شفعي وړونکی کـولي شی چه د ځينو حصه واخلي او د ځينو د حصي څخه صرف نظروکي .

## پنځمه فرعه – دشفعي ساقطيدل

**۲۲۴۸ - ماده:**

شـفع د ټـوپ وهلـو د غوښـتني پـه پريښـودلو يـا د هغـې د صـحت د شرطونو څخـه ديـوه شـرط پـه اخـلال ساقطيږي.

همدارنګه د شاهدانو د شاهدي د اداء کولـو د غوښـتني پـه پريښـودلو يـا د خبرتيا يا ددعـوي د مـودی پـه تيريـدلو ساقطيږي.

مـراجعه کـرده ميـتواند نـه بـه نقـصانيکه از لحاظ قلـع و قمع بـناء و اشـجار بـه او متوجه مـی شـود.

**مادۀ - ۲۲۴۷:**

(۱) شـفع تـجزيه را نمـی پـذيرد، شـفيع نمـيتوانـد به اخذ قسمتی از عـقار مـشفوعه و تـرک بعضی ديگـر آن مشـتری را مجبـور سازد.

(۲) در صـورتيکه بـايع واحـد و مشـتری مـتعدد باشـد، شـفيع ميتوانـد حصـۀ بعضـی را اخـذ و از حـصۀ بـعضی ديـگری منصـرف شود.

## فرع پنجم – سقوط شفع

**مادۀ - ۲۲۴۸:**

شـفع بـه تـرک طلـب مـواثـبت (مبـادرت) و يـا اخـلال شـرطی از شـروط صـحت آن سـاقـط ميـگردد.

همـچنان بـه تـرک طـلب اشـهاد و انقـضای مـيعاد اخطـار يـا دعـوی سـاقط مـيشود.

**۲۲۴۹ - ماده:**
کوم شفيع چه د سبب له پلوه پر نورو وړاندي وي په شفعي کښی خپل حق ساقط کي او د حکم د صادريدلو ترمخه هغه پريږدي، نو د هغه حق ساقطيږی، نور شفيعان چه د هغه وروسته درجي کښی قرار لري که يي د ټولو شرطونو سره د شفعي غوښتنه کړي وي . عقار اخيستلي شي په هغې صورت کښی چه په شفعي وړونکی خپل حق د حکم د صادريدو وروسته ساقط کي، نو حق نه ساقطيږی او نور شفيعان حق نه شي پيدا کولي .

**مادۀ - ۲۲۴۹:**
هرگاه شفيعی که از جهت سبب بر ديگران مقدم باشد، حق خود را در شفع ساقط نموده و قبل از صدور حکم آنرا ترک نمايد. حق او ساقط شده ساير شفعا که بعد از وی قراردارند ، ميتوانند در حاليکه با تمام شرايط طلب شفع نموده باشند، عقار را اخذ نمايند. در صورتيکه شفيع بعد از صدور حکم حق خويش را ساقط سازد، حق ساقط نگرديده و ساير شفعا کسب حق کرده نميتواند.

**۲۲۵۰ ماده:**
شفع د اخيستونکي په مړيني نه ساقطيږی.

**مادۀ - ۲۲۵۰:**
شفع بمرگ مشتری ساقط نمی گردد.

**۲۲۵۱ ماده:**
شفع د شفعي وړونکی په مړينه په شفعي لاندي شوي عقار د تملک ترمخه عام له دي چه د قضاء يا رضاء دلاري وي ، نه ساقطيږی. عام له دي چه شفع وړونکی د غوښتني ترمخه يا تر هغې وروسته مړ شوي وي. په دي صورت کښی د شفع وړونکی حق د هغه وارثانو ته انتقاليږي.

**مادۀ - ۲۲۵۱:**
شفع بمرگ شفيع قبل از تملک عقار مشفوع از طريق قضاء يا رضا ساقط نميشود، اعم از اينکه شفيع قبل از طلب يا بعد از آن فوت شده باشد. حق شفيع درين صورت به ورثه او انتقال مييابد.

**۲۲۵۲ ماده:**
که قوي شفع وړونکی د شفعي لاندي

**مادۀ - ۲۲۵۲:**
هرگاه شفيع قوی، عقار

عقار داخيستونكي شخه واخلي نو د هغه د شفعي حق او د هغه چا حق چه د شفعي په درجي كښي د هغه شخه وروسته دي يا د هغه سره مساوي دي ساقطيږي.

مشفوعه را از مشتری خریداری نماید، حق شفع او و کسانیکه در درجه شفع از او بعد تر اند یا مثل او اند، ساقط می گردد.

**۲۲۵۳ ماده:**

كه شفع وړونكى د شفعي لاندي عقار په اجاري واخلي يا د هغې د مزايدي په خرڅولو يا اجاري كښى ګډون وكي يا د اخيستونكي شخه د لمړني ثمن په مثل د هغې د خرڅولو غوښتنه وكي، نوشفع يي ساقطيږي.

**مادهٔ - ۲۲۵۳:**

هرگاه شفیع عقار مشفوعه را به اجاره بگیرد یا در مزایده فروش یا اجارهٔ آن شرکت ورزد یا فروش آنرا از مشتری به مثل ثمن اول مطالبه نماید، شفع او ساقط میشود.

**۲۲۵۴ ماده:**

(۱) كه شفع وړونكى د ثمن په هغې اندازي چه د واقعي اندازي شخه زيات دي، خبر كړي شي او هغه د شفعي شخه تير شي، بيا وروسته ورته ثابته شي چه حقيقي ثمن ترهغې ډيركم دي چه ترمخه ورته پري خبر ور كول شوي دي، نو د هغه د شفعي حق نه ساقطيږي.

**مادهٔ - ۲۲۵۴:**

(۱) هرگاه شفیع بمقدار ثمن بیش از حد واقعی مطلع ساخته شود و او از شفع صرف نظر نماید و بعداً به او ثابت شود که مقدار ثمن کمتر از آن است که قبلاً به او اطلاع داده شده حق شفع او ساقط نمیشود.

(۲) كه شفع وړونكى د اخيستونكي په نوم معرفت پيدا كي او د شفعي شخه تير شي بيا ثابته شي چه اخيستونكي غير دهغه چابل څوك دي

(۲) اگر شفیع به اسم مشتری معرفت حاصل نماید و از شفع صرف نظر کند و بعداً ثابت شود که مشتری غیر از آن شخصیست که قبلاً به او معرفی

چه ورته معرفي شوي دي . يا داچه د شفعي لاندې عقار ديوي برخې د خرڅولو څخه ورته خبرتيا ورکول شي ، بيا معلومه شي چه د شفعي لاندې ټول عقار خرڅول شوي دي، د شفعي حق نه ساقطيږي.

(۳) د دې مادې د پورتنيو فقرو په ټولو حالونو کښې د خبرتيا او د دعوې د وړاندې کولو ميعادونه چه په دې فصل کښې درج شوي مراعات کيږي.

**۲۲۵۵ ماده:**

په ټولو حالونو کښې، که دبيعې د ثبت په نېټې څلور مياشتې تيرې شوي، د شفعي حق ساقطيږي.

**شپږم مبحث – حيازت**

**لمړی فرعه – د حيازت کسبول، نقلول او زا يليدل**

**۲۲۵۶ – ماده:**

حيازت د اسې واقعي حالت دی چه د يو چا د سلطې څخه پر يوه شي يا داچه په شي باندې د حقوقو څخه يو حق لري په دې صفت سره چه شخص د شي مالک دی يا په شي باندې د حق خاوند دی ، پيدا کيږي.

شده بود ، يا از فروش قسمتی از عقار مشفوعه به او ابلاغ گردد و او شفع را واگذار شود و بعداً ظاهر شود که تمام عقار مشفوعه فروخته شده است، حق شفع ساقط نمی گردد.

(۳) در تمامی احوال مندرج فقرات فوق اين ماده، مواعيد اخطار و رفع دعوی مندرج اين فصل رعايت ميشود.

**مادۀ – ۲۲۵۵:**

در تمامی احوال حق شفع به انقضای مدت چهار ماه از تاريخ ثبت عقد بيع، ساقط ميشود.

**مبحث ششم – حيازت**

**فرع اول – کسب انتقال و زوال حيازت**

**مادۀ – ۲۲۵۶:**

حيازت، حالت واقعی است که از سلطه شخصی بر شی، يا بر حقی از حقوق بر شی بصفت مالک شی يا صاحب حق بر شی نشأت ميکند.

**۲۲۵۷ - ماده:**

که څوك يو شي مباح کي ، کولي شي چه ورڅخه رجوع وکي. دا اباحت د دي دليل نه دي چه مباح کوونکي په شي باندي حيازت دلاسه ورکوي .

**مادهٔ - ۲۲۵۷:**

کسیکه چیزی را مباح سازد ، میتواند از آن رجوع نماید. این اباحت دلیل عدم حیازت شخص مباح کننده شناخته نمیشود.

**۲۲۵۸ - ماده:**

که حيازت د زور سره يوځای شي يا په پټه واقع شي يا په کښی التباس موجود وي، نو پرهغه چا چه زور شوي ياور څخه حيازت پټ کړي شوي او ياور باندي حيازت ملتبس شوي وي هيڅ تاثير نه لري، مگر د دي عيبونو دليري کيدلو دوخته.

**مادهٔ - ۲۲۵۸:**

هرگاه حیازت با اکراه مقرون گردد یا بصورت خفیه واقع و یا در آن التباس موجود باشد ، اثر آن بر شخصیکه علیه او اکراه صورت گرفته یا حیازت از او اخفاء شده یا بر او التباس واقع شده است، مرتب نمی گردد ، مگر از تاریخ زوال عیوب مذکور.

**۲۲۵۹ - ماده:**

مميز صغير کولي شي د هغه چا د لاري حيازت کسب کي چه د هغه قانوني نائب وي.

**مادهٔ - ۲۲۵۹:**

صغیر غیر ممیز از طریق کسیکه قانوناً قایم مقام او شناخته میشود ، کسب حیازت نموده می تواند.

**۲۲۶۰ - ماده:**

که څوك په مستقيم ډول د حايز په نامه حيازت ته اقدام وکي ، حيازت پخپل حال پاتي کيږي او ذکر شوي شخص د تابع حيثيت لري ، کومي چاري چه د شي پوري يا د هغه حق پوري چه په حيازت وارديږي ، مربوطي وي په هغې کښی مکلف دي

**مادهٔ - ۲۲۶۰:**

هرگاه شخص دیگری بصورت مستقیم در حیازت به اسم حایز مبادرت نماید ، حیازت بحال خود باقیمانده ، شخص مذکور حیثیت تابع را داشته و متابعت اوامر حایز در امور متعلق به شی یا حقوق تحت حیازت مکلف می

چه د حایز د اوامرو پیروي وکي.

**۲۲۶۱ - ماده:**
که حایز او بل څوک د حیازت په نقلیدو موافقه وکي، نوکه هغه څوك چه حیازت ورته نقلیږی ددي قدرت ولري چه پرشي او یا په هغه حق چه حیازت پري مرتبیږي، تسلط پیدا کړي شي، د حیازت نقلیدل ورته صحت لري.

**۲۲۶۲ - ماده:**
د حیازت نقلیدل بي دمادي تسلیمي هم جواز لري، خو په دي شرط چه حایز خپلي ذوالیدي ته د هغه چا په حساب چه په حیازت کښی یي خلف کیږی دوام ورکي یا دا چه خلف پخپل حساب ذوالیدي ته دوام ورکي.

**۲۲۶۳ - ماده:**
د عقار ذوالید کولي شي چه د خپلي ذوالیدي دمودي سره د هغه چا د ذوالیدي موده یو ځای کي چه د هغه څخه ورته عقار انتقال شوي دي عام له دي چه دا انتقال په اخیستلو وي یا هبي یا وصیت یا په میراث وړلو یا په بل کوم سبب. په دي صورت کښی که دواړه مودي جمع شي او ددعوي دنه اوریدلو تاکلي مودي ته ورسیدله، نو په ذوالید باندي نه د مطلق ملکیت

باشد.

**مادهٔ - ۲۲۶۱:**
حیازت از شخص حایز به شخص دیگر، در صورتی انتقال مینماید که طرفین به آن موافقه نموده و شخص مذکور اهلیت تصاحب را بر شی یا حقوق مورد حیازت دارا باشد.

**مادهٔ - ۲۲۶۲:**
انتقال حیازت بدون تسلیم مادی هم جواز دارد. در صورتیکه حایز به ذوالیدی خود بحساب کسیکه از او نیابت میکند، دوام دهد یا شخصی که به او انتقال حیازت میشود، به حساب خود بذو الیدی ادامه دهد.

**مادهٔ - ۲۲۶۳:**
ذوالید عقار میتواند با مدت ذوالیدی خود مدت ذو الیدی کسی را که عقار از طرف او بوی انتقال نموده، ضم نماید. اعم از اینکه انتقال به سبب شرا باشد یا هبه یا وصیت یا ارث یا سایر اسباب. درینصورت اگر مجموع مدت ذوالیدی بحدی بالغ شود که مانع سماع دعوی گردد، علیه ذوالید دعوی ملک مطلق، دعوی

دعوي نه د میراث وړل اونه د وقف د عوي اوریدله کیږي.

ارث و دعوی وقف شنیده نمیشود.

**۲۲۶۴ - ماده:**

د مزایدي، و دیعت، اجاري، عاریت او هبي غوښتنه د غوښتونکی د مستقیم ملکیت په نشتوا لي، اقرار ګڼل کیږي نو دهغه د عوي د خپل ځان دپاره په ذوالید نه اوردیدله کیږي، که څه هم په ذوالیدي باندي د دعوي د نه اوریدلو تحدید شوي دعوي نه وي تیره شوي.

**مادۀ - ۲۲۶۴:**

طلب مزایده، ودیعت ، اجاره ،عاریت و هبه، اقرار بعدم ملکیت مطالبه کننده شناخته شده، دعوی موصوف برای نفس خود شی بالای ذو الید سمع نمیشود. گر چه بر ذو الیدی میعادیکه مانع سماع دعوی گردد، منقضی نشده باشد.

**۲۲۶۵ - ماده:**

(۱) که څوك د اجاري یا عاریت دلاري د عقار ذوالیدي او پري اقرار هم وکي، نونه شي کولي چه پخپلي دي ذوالیدي په اجاري ور کوونکي او عاریت ور کوونکي باندي د زماني په تیریدو ددعوي د نه اوریدلو تمسک وکي.

**مادۀ - ۲۲۶۵:**

(۱) ذو الیدیکه به اساس اجاره یا رعایت در عقار منصرف باشد، نمی تواند بمرور زمان ذو الیدی راجع بمنع استماع دعوی علیه اجاره دهنده یا عاریت دهنده تمسک نماید.

(۲) که څوك د ذوالیدي په دي ټوله موده کښی داجاري یا دعاریت څخه منکر وي سره د دي چه مدعي حاضروي او د امکاناتو او اقتضاء د موجودیت سره په ذوالید باندي دعوي ترک کي، نو د ذکر شوي مودي د تیریدو وروسته د هغه دعوي نه اوریدله کیږي.

(۲) در صورتیکه شخص از اجاره و عاریت در طول مدت ذو الیدی منکر بوده و مدعی با وجود حضور و امکانات و موجودیت مقتضی ترک دعوی نماید، بعد از انقضای مدت مذکور دعوی او شنیده نمیشود.

۲۲۶۶ - ماده:

که حایز د خپلي فعلي سلطي ځخه پر شي يا حق منصرف شي يا دا چه داسلطه دبلي لاري د لاسه ورکي، نو حيازت زايليږي.

۲۲۶۷ - ماده:

حيازت د موقتي مانع په سبب د مينځه نه ځی مگر دا چه ذکر شوي مانع پوره يو کال دوام وکي او د نوي حيازت ځخه پيدا شوي او دا نوي حيازت د حايز د ارادي په خلاف يابي د هغه د علم ځخه واقع شوي وي، کال د هغې وختـه ځخه پيل کيږی چه په کښی نوي حيازت په علني توگه پيل شوي وي ، که حيازت په پټه واقع شوي وي نو کال د هغې نېټې ځخه پيل کيږی چه لمړني حايز ورباندي علم پيدا کړي وي.

دوهمه فرعه – د حيازت ساتنه

۲۲۶۸ - ماده:

(۱) که ځوك د عقار حيازت د لاسه ورکي نو کولي شي چه د حيازت د لاسه ورکولو د نيټی ځخه ديوه کال په اوږدو کښی د هغې دبيرته رد ولو غوښتنه وکي. که د حيازت نشتوا لي په پټه شوي وي نو د کال پيل د هغې نيټی ځخه شروع کيږی چه د حيازت

مادۀ - ۲۲۶۶:

هرگاه حایز از تسلط فعلی خود بر شی یا حق منصرف گردد و یا این تسلط را به طریقه دیگری از دست بدهد ، حیازت زایل میگردد.

مادۀ - ۲۲۶۷:

حیازت به اثر مانع مؤقت از بین نمی رود ، مگر اینکه مانع مذکور مدت یکسال کامل ادامه پیدا کرده و نتیجه حیازت جدیدی باشد که بخلاف اراده حایز یا بدون علم او واقع شده باشد. آغاز سال در حالیکه حیازت بصورت عینی واقع شده باشد ، از تاریخ آغاز حیازت جدید و در حالیکه بصورت خفیه واقع شده باشد ، از تاریخ علم حایز اول به آن حساب میشود.

فرع دوم – حمایت حیازت

مادۀ - ۲۲۶۸:

(۱) هرگاه شخصی حیازت عقار را از دست بدهد ، میتواند در خلال یکسال بعد از فقدان حیازت رد آنرا مطالبه نماید. در صورتیکه فقدان حیازت طور خفیه بعمل آمده باشد ، شروع سال از تاریخ کشف فقدان حیازت شروع

نشتوالي كشف كي.

(۲) كه څوك د بل چا په نيابت سره حيازت په لاس كښې ولري، هغه هم كولي شي چه د حيازت د ردولو غوښتنه وكي.

**۲۲۶۹ ماده:**

كه څوك ديوه كال څخه د كمي مودي د پاره ديوه شي حيازت په لاس كښې ولري او هغه دلاسه وركي، نونه شي كولي چه د حيازت د رد ولو غوښتنه د هغه چا څخه وكي چه حيازت يي په قانوني سند متكي وي.

**۲۲۷۰ – ماده:**

(۱) كه د حايزونو څخه هيڅ يو د قانوني سند لرونكي نه وي يادا چه د هغوي سندونه يوبل معادل وي، نو د حيازت ترجيح هغه چاته وركول كيږي چه سندیې وړاندني تاريخ ولري.

(۲) دپورتني فقري په درج شوي حالت كښې كه قانوني سندونه د عين تاريخ لرونكي وي، نو هغه حيازت ته ترجيح وركول كيږي چه د تاريخ له لحاظه وړاندي والي ولري.

**۲۲۷۱ – ماده:**

ميشود.

(۲) شخصيكه بصورت نيابت از غير حيازت را بدست داشته باشد، نيز ميتواند رد حيازت را مطالبه نمايد.

**مادهٔ – ۲۲۶۹:**

شخصيكه هنگام از دست دادن حيازت كمتر از يک سال، حيازت را بدست داشته باشد، نمی تواند رد حيازت را از شخصی مطالبه نمايد كه حيازت او متكی به سند قانونی باشد.

**مادهٔ – ۲۲۷۰:**

(۱) هرگاه هيچ يک از حايزين دارای سند قانونی نبوده يا اسناد آنها معادل يكديگر باشد، ترجيح حيازت به شخصی داده ميشود كه سند او تاريخ مقدم داشته باشد.

(۲) در حالت مندرج فقره فوق، اگر اسناد قانونی دارای عين تاريخ باشد، به حيازتيكه از لحاظ تاريخ مقدم است، امتياز داده ميشود.

**مادهٔ – ۲۲۷۱:**

حایز کولي شي د حیازت دبیرته ردولو د عوي د قانوني میعاد په اوږدو کښې په هغه چا اقامه کي چه د غصب شوي شي حیازت یي کسب کړي وي که څه هم وروستني ذکر شوي شخص دښه نیت لرونکي وي.

۲۲۷۲ - ماده:

که څوك د عقار حیازت لاس ته راوړي او د هغه حیازت پوره یو کال دوام و کي او ترهغې وروسته یي په حیازت تعرض واقع شي، نو کولي شي چه دیوه کال په اوږدو کښې ددي تعرض د منع کیدو دعوي اقامه کي.

۲۲۷۳ - ماده:

که څوك پوره یو کال دیو عقار حیازت په لاس کي ولري او د معقولو سببونو په علت د نوي تعرض د اعمالو د اجراء کولو څخه چه حیازت یي تهدید وي وویریږي ، کولي شي چه موضوع واک لرونکي محکمې ته وړاندي کي ، او ددي اعمالو د توقف غوښتنه وکي ، خو په دي شرط چه ذکر شوي اعمال نه وي ترسره شوي او د ذکر شوو اعمالو په شروع چه د ضرر په پیدا کیدو منجر کیږي یو کال نه وي تیر شوي. د هغې په غیر کولي شي

حایز میتواند دعوی استرداد حیازت را در خلال میعاد قانونی علیه کسیکه حیازت شی غصب شده باشد ، کسب نموده است اقامه نماید. گر چه شخص اخیر الذکر دارای حسن نیت باشد.

مادهٔ - ۲۲۷۲:

شخصیکه حیازت عقاری را بدست آورده و حیازت او مدت یک سال کامل دوام نماید و بعدا بر حیازت او تعرض واقع شود ، میتواند در خلال مدت یکسال دعوی منع این تعرض را اقامه نماید.

مادهٔ - ۲۲۷۳:

شخصیکه حیازت عقاری را در ظرف یکسال کامل بدست داشته و به علت اسباب معقول از اجرای اعمال تعرضی جدید که حیازت وی را تهدید میکند بترسد ، میتواند موضوع را بمحکمهٔ با صلاحیت تقدیم نموده و توقف این اعمال را مطالبه نماید. مشروط بر اینکه اعمال مذکور به انجام نرسیده و از شروع بر اجرای اعمال مذکور که منجر بحدوث ضرر میشود ، یکسال منقضی نشده باشد ، در غیر آن

چه د تعرض د منع كيدو دعوي اقامه كي.

میتواند دعوی منع تعرض را اقامه نماید.

**۲۲۷۴ - ماده:**

كه څو متعدد اشخاص ديوه حق په حيازت كښې جګړه سره وكي، نوپه مؤقتي توګه د هغه چا حيازت ته اعتبار وركول كيږي چه په ذكر شوي حق مادي حيازت ولري، مګر داچه د هغه حيازت معيوب ظاهر شي.

**مادۀ - ۲۲۷۴:**

هرگاه اشخاص متعدد در حیازت حق واحدی تنازع نمایند، بصورت مؤقت بحیازت کسی اعتبار داده میشود که حیازت مادی بر حق مذکور داشته باشد، مگر اینکه حیازت او معیوب ظاهر شود.

**۲۲۷۵ - ماده:**

كه څوك ديوه حق حايز وي د هغې مالك ګڼل كيږي مګر دا چه د هغې عكس ثابت شي.

**مادۀ - ۲۲۷۵:**

شخصیکه حایز حقی باشد، مالک آن شناخته میشود، مگر اینکه عکس آن ثابت شود.

**۲۲۷۶ - ماده:**

(۱) كه څوك بي له علمه او تيري څخه د بل چا په حق ديو حق حايز شي، نو دَښه نيت لرونكي ګڼل كيږي، مګر داچه د هغه دا جهل د فاحشي خطا څخه پيدا شوي وي.

(۲) كه حايز حكمي شخصيت وي، نو د هغه د قانوني ممثل نيت ته اعتبار وركول كيږي.

(۳) دښه نيت موجوديت هميشه فرض كول كيږي، مګر داچه د هغې په نفي

**مادۀ - ۲۲۷۶:**

(۱) شخصیکه بدون علم از تجاوز بر حق غیر، حایز حقی گردد، دارای حسن نیت شناخته میشود. مگر اینکه این جهل او ناشی از خطاء فاحش باشد.

(۲) اگر حایز شخصیت حکمی باشد، به نیت ممثل قانونی او اعتبار داده میشود.

(۳) موجودیت حسن نیت همیشه فرض کرده میشود، مگر اینکه دلیلی

کوم دليل اقامه شي .

**۲۲۷۷ - ماده:**
ښه نيت هغه وخت نفي کيږي چه حايز پوه شي چه دهغه حيازت دبل چا په حق تيري دي يا داچه د هغه د حيازت دعيبونو د اعلان له وخته په خبرتيا سره يا مدعي ددعوي په صورت ورته ابلاغ شوي وي.

**۲۲۷۸ - ماده:**
حيازت په همغي صفت پاتي کيږي چه د هغې د کسبو لو په وخت کښي پري پيل شوي دي ، ترڅو چه د هغې په عکس دليل موجود شي.

**دريمه فرعه- د حيازت آثار**

**۲۲۷۹ - ماده:**
د ميراث په استثني که څوك بي له انقطاع څخه د پنځلسو کلونو په اوږدو کښي پرله پسي د عقار يا کوم بل شي ذواليد وي او په هغې کښي بي دجګړې او معارضي مالکانه تصرف ولري ، نو پرهغه باندي د ملکيت دعوي نه اوريدله کيږي.

**۲۲۸۰ - ماده:**
(۱) که څوك په عقار باندي ددري

به نفی آن اقامه شود .

**مادۀ - ۲۲۷۷:**
حسن نیت وقتی نفی میشود که حایز بداند که حیازت او تعرض بر حق غیر میباشد ، یا اینکه عیوب حیازت او بر اساس اخطار یا صورت دعوی مدعی به او ابلاغ شود .

**مادۀ - ۲۲۷۸:**
حیازت کماکان بهمان وصفی که ابتداء زمان کسب بوجود آمده باقی میماند ، تا اینکه دلیل عکس آن موجود شود .

**فرع سوم - آثار حیازت**

**مادۀ - ۲۲۷۹:**
دعوی ملکیت به استثنای ارث، بر شخصیکه در طول مدت پانزده سال متوالی بلا انقطاع ذو الید عقار یا اشیاء دیگر بوده و در آن بدون منازعه و معارضه تصرف مالکانه داشته باشد ، سمع نمیشود .

**مادۀ - ۲۲۸۰-:**
(۱) دعوی ارث بر شخصیکه ذو

دیرش کلونو په اوږدو کښې ذوالیدي
او بې له جګړې په کښې مالکانه
تصرف ولري نو په هغه باندي بې د
شرعي عذر څخه، د میراث دعوي نه
اوریدله کیږي.

(۲) ددولت د مالونو ، د تاریخي آثارو
او د وقف د مال تملک زماني دتیریدو
په اساس، جواز نه لري.

**۲۲۸۱ - ماده:**
که د ملکیت، میراث یا د وقف
ددعوي پرښودل د شرعي عذر په
اساس لکه غیابت، قصور یا
لیونتوب، صورت موندلي وي او ولي
او وصي موجود نه وي ، نو دارنګه
دعوي اوریدله کیږي. مګر په هغه
صورت کښې نه اوریدله کیږي چه
غایب حاضر، قاصر، بالغ اولیوني،
هوښیار شي او تر هغې وروسته په
ټاکل شوي مودي کښې دعوي
پریږدي.

**۲۲۸۲ - ماده:**
په ذوالید باندي د ملکیت دعوي
دخرڅوونکي د اولاد، خپلوانو، میړه او
ښځې چه د عقار د خرڅوولو په وخت
کښې د ذوالید دپاره حاضره وي او د
خرڅوولو څخه خبر شوي وي او چپتیا

الید عقار بوده، در صورت مدت
سی و سه سال بدون منازعه در
آن تصرف مالکانه داشته
باشد ، بدون عذر شرعی شنیده
نمیشود.

(۲) تملک اموال دولت ، آثار باستانی
وعامل وقف بر اساس مرور زمان
جواز ندارد.

**مادۀ - ۲۲۸۱:**
هرگاه ترک دعوی ملکیت یا ارث
یا وقف به اساس عذر شرعی
مثل غیبت، قصور یا جنون
بوده و ولی یا وصی وجود
نداشته باشد ، سمع میشود. مگر
در صورتی شنیده نمیشود که
غایب حاضر، قاصر
بالغ، مجنون هوشیار
شود و بعد از آن در مدت
تعیین شده دعوی را ترک
نمایند.

**مادۀ - ۲۲۸۲:**
دعوی ملکیت بر ذو الید از طرف
اولاد ، اقارب زوج و زوجه بایع که
هنگام فروش عقار برای ذو الید
حاضر بوده و از فروش مطلع
گردیده سکوت اختیار نموده

يـي اختيـار كـړي وي، نــه اوريدلــه كيـږي، كـه څـه هـم د خرڅوولـو دوختـه پنځلس كاله نه وي تير شوي.

باشند، سمع نـميشود. گر چـــه از وقت بيع مدت پـانـزده سـال سـپرى نشده باشد.

## ۲۲۸۳ - ماده:

كـه دڅـا ذواليـدي پـه تحديـد شـوي پخـواني وخـت كښـې ثابتـه شـي او پـه حــال كښــې هـم موجـوده وي، نــو دا ذواليــدي پــه دي قرينــه ده چــه ددي دواړو مودو په مينځ كښې هم ذواليدي موجوده وه، مگر داچه د هغې په خلاف دليل موجود شي.

## مادۀ - ۲۲۸۳:

هرگاه ذو اليدى شخص در طول مدت محـدودى در سـابق ثابـت بـوده و در حال نيز ثابت باشد، ايـن وضع بـراى ابقـاء و قيـام ذو اليـد در طـول مـدت بـين دو زمـان مــذكور قرينـه شـمرده ميشـود، مگـر اينكـه دليـل بخـلاف آن موجود شود.

## ۲۲۸۴ - ماده:

هيڅوك نه شي كولي چه د خپل سند په خلاف د زماني د تيريدو په اساس حـق كسـب كـي. نـو هيڅـوك نـه شـي كـولي چـه پخپلـه د خپـل ځـان دپـاره دخپـل حيات سبب تـه تغيير وركي او همدارنگه نه شي كولي چه هغې اصل ته تغيير وركي چه دا حيـازت وربانـدي ولاړدي.

## مادۀ - ۲۲۸۴:

هـــيچ كـــس نمى توانـد بـه اسـاس مـــرور زمـــان بخـلاف سـند خـود كسب حـق نمـايد، بـــه ايـن اساس هيـــچ كـس نمـى توانـــد شخـــصاً بـــمفاد خـــود ســـبب حيازت خـود يـــا اصـــلى را كـــه ايـــن حـــيازت بـــر آن اســـتوار اســـت، تغـــيير دهـد.

## ۲۲۸۵ - ماده:

د هغــې زمـاني د تيريـدو قاعـدي چـه ددعــوي ســاقطوونكي دي، د هغــې زمـاني پـه تيريـدو چه حق كسبوونكي دي او دمودي د حساب، توقف، قطع كيدو او ترقضاء ترمخه د تمسك پوري تعلق لـري تطبيقيـږي. همدارنگه چه د

## مادۀ - ۲۲۸۵:

احكـــــام مـــــرور زمـــــان ســـــاقط كننـدۀ دعـــوى بـــر مـــرور زمــــان كسـب كننـده حـــق در آنـــچه بـــه حــــساب مـــدت و تـــوقـــف آن و انقـــطاع آن و اســتناد بـــه آن در پيـــشگاه قضاء و همچنان بـه تـــنازل

هغې شخه د تیریدو نکي او د هغې په تعدیل باندي په موافقي پوري متعلق وي تطبیقیږي، خو په دي شرط چه ذکر شوي قاعدي د حق کسبوونکي زماني د تیریدو د طبیعت سره او ددي قانون د (۲۲۸۶ - ۲۲۸۷) مادو په نظر کښی نیولو سره متعارض واقع نه شي.

کننده از آن و موافقه بر تعدیل آن متعلق باشد، تطبیق می شود. مشروط بر اینکه احکام مذکور با طبیعت مرور زمان کسب کننده حق و رعایت احکام مواد (۲۲۸۶ و ۲۲۸۷) این قانون متعارض واقع نشود.

**۲۲۸۶ - ماده:**

د حق کسبوونکي زماني د تیریدو موده چه هر څومره وي د موجبه سببونو د موجودیت سره متوقف کیږي.

**مادهٔ - ۲۲۸۶:**

مدت مرور زمان کسب کننده حق بهر اندازه که باشد، با موجودیت اسباب موجبه متوقف میشود.

**۲۲۸۷ - ماده:**

که حایز دخپل حیازت شخه منصرف شو او یایي هغه د لاسه ورکړو که څه هم د بل چا په فعل وي، نو د حق کسبوونکي زماني د تیریدو موده قطع کیږی مگر داچه حایز دیوه کال په اوږدو کښی د هغې نېټي شخه چه حیازت یي قطع شوي، خپل حیازت بیرته مستردکي یا داچه د هغې دبیرته ردولو په باره کښی د همدي مودي په اوږدو کښی دعوي اقامه کي.

**مادهٔ - ۲۲۸۷:**

هرگاه حایز از حیازت خود صرف نظر نماید و یا آن را از دست دهد، گر چه به فعل غیر باشد، مرور زمان کسب کننده حق قطع میشود. مگر اینکه حایز در خلال یکسال از تاریخ انقطاع حیازت خویش را مسترد نموده یا راجع به استرداد آن در خلال همین مدت اقامه دعوی نماید.

## څلورم فرعه – د حیازت په اساس د منقولو شیانو حیازت

## فرع چهارم – تملک اشیاء منقول به اساس حیازت

**۲۲۸۸ - ماده:**

(۱) که څوك په منقول مال يا په منقول مال باندي د عيني حق ياد داسي سند چه د هغه د حامل په نامه اعتبار ولري او صحيح سبب اوښه نيت ته مستندوي ، حايز شي ، د هغې مالک ګڼل کيږي.

(۲) د صحيح سبب په هغې سند اطلاق کيږي چه د مالک څخه په غير يا د حق د خاوند څخه په غير دبل چاله خوا صادر شوي وي.

**۲۲۸۹ - ماده:**

د منقول مال مالک يا دداسي سند خاوند چه د هغه د حامل دپاره اعتبار ولري، کولي شي چه که هغه ورک کي او يا ورڅخه غلاکړي شي دورکيدو يا غلاکيدو د نيټې څخه ددري کلونو په اوږدو کښي د هغه چاڅخه بيرته واخلي چه په ښه نيت سره د هغې حايز شوي.

**۲۲۹۰ - ماده:**

که غلاکړه شوي ياورک شوي مال دداسي شخص په حيازت کښي پيدا شي چه يي په بازار کښي يا يي په علني مزايدي کښي يا دداسي شخص څخه چه ددي په مثل شيانو کښي تجارت کوي اخيستي وي ، نو کولي

**مادهٔ - ۲۲۸۸:**

(۱) شخصيکه مال منقول يا حق عينی را بر مال منقول يا سنديکه بنام حامل آن اعتبار داشته باشند به استناد اسباب صحيح توام با حسن نيت حايز شود، مالک آن شناخته ميشود.

(۲) سبب صحيح به سندی اطلاق ميشود که از طرف غير مالک يا غير صاحب حق، صادر شده باشد.

**مادهٔ - ۲۲۸۹:**

مالک مال منقول يا صاحب سنديکه برای حامل آن اعتبار داشته باشد، می تواند در صورت فقدان يا سرقت از تاريخ ضياع يا سرقت يا استرداد آن از نزد شخصيکه با حسن نيت آنرا حايز گرديده است، بپردازد.

**مادهٔ - ۲۲۹۰:**

هرگاه مال مسروقه ياگم شده در حيازت شخص دستياب شود و مال مذکور را با حسن نيت از بازار به مزايده علنی يا از تاجريکه در امثال آن تجارت دارد، خريداری نموده باشد، ميتواند ثمن تاديه شده

شـي كـه مـال غـلا كـړه شـوي وو د خرڅوونكي څخه او كه مال ورک كړه شوي وو د هغـه چـا څخـه چـه د هغـې بيرته وركولو ته اقدام كوي ، وركول شوي ثمن وغواړي .

## پنځمه فرعه – په حيازت باندي د ثمر تملک

**۲۲۹۱ – ماده:**

(۱) حـايز پـه ښـه نيت سره د ثمر او د هغه څه چه د هغه په حيـازت كښـی دي ، مـالک ګڼل كيږی .

(۲) طبيعـي يـا صـنعتي ثمـر د هغـې دراټولولو دنيټی څخه قبض شوي ګڼل كيـږی . خـو مـدني ثمـر ورځ پـه ورځ قبض شوي حسابيږي.

**۲۲۹۲ – ماده:**

كـوم حـايز چـه دبـد نيـت خاونـدوي لـه هغې نيټی څخه چه بد نيت مينځ تـه راغلـي د ټـول هغـه ثمـر چـه يـي قـبض كړي او يـا يي د هغـه پـه قبضـولو كښـی تقصير كړي دي مسئول ګڼل كيږی .

## شپږم مبحث – دمصرفونو ، بيرته اخيستل

**۲۲۹۳ – ماده:**

كوم مـالک ته چه ملكيت بيرتـه وركـول

را در صـورتيكه مـال مسـروقه باشـد ، از فـروشــنده و در صــورتيكه مـال گـم شـده باشـد ، از شخصـيكه بـه اسـترداد آن مـی پـردازد ، مطالبـه نمايد .

## فـرع پنجم – تملـک ثـمر به حيازت

**مادۀ – ۲۲۹۱:**

(۱) حـايز بـه حسـن نيت مـالک ثمر و آنچه كه در حيـازت او اسـت، شـناخته ميشود .

(۲) ثمر طبيعی يـا صـنعتی از تـاريخ جمـع آوری آن قـبض شـده تلقـی ميگـردد ، مگـر ثمـر مـدنی روز بـروز قبض شده شمرده ميشود .

**مادۀ – ۲۲۹۲:**

حايزيكـه دارای سـوء نيـت باشـد ، از تاريخ بميان آمدن نيت سوء از تمـامی ثمريكه قبض نموده و يا در قبض آن تقصـير بعمـل آورده اسـت، مسـئول پنداشته ميشود .

## فـرع شـشم – اسـترداد مـصارف

**مادۀ – ۲۲۹۳:**

مـالكی كه ملكيت بـه او رد ميشود ،

کیږي ، نو مکلف دي چه د ښه نیت حایز ته ټول هغه ضروري مصرفونه چه په ښه نیت یې مصرف کړي دي، ورکي. د ګټورو مصرفونو په باره کښې ددې قانون د (۲۲۰۵-۲۲۰۶) مادو درج شوي حکمونه تطبیقیږي.

**۲۲۹۴ - ماده:**
حایزنه شي کولي چه د مالک څخه د هغې مصرفونو غوښتنه وکي چه دمالیاتو د جملې څخه حسابیږي، خو ددي حق لري چه کوم شیان یې نوي جوړ کړي وي لیري کي او شي خپل لمړني حالت ته بیرته وګرځوي ، مګر داچه مالک د قیمت په ورکولو سره د هغې په پاتي کیدو موافقه وکي .

**۲۲۹۵ - ماده:**
که څوك د مالک څخه یا د پخواني حایز څخه دیوشي حایز شوي وي او ثابته کي چه خپل سلف ته یې مصرفونه ورکړي دي، نو کولي شي چه ذکر شوي مصرفونه د هغه چا څخه وغواړي چه مال ورته بیرته ورکول کیږي.

**۲۲۹۶ - ماده:**
محکمه کولي شي چه د مصرفونو اندازه و ټاکي او د هغې داداء کولو لپاره دضروري تضمیناتو سره دوراني

مکلف است تمام مصارف ضروری را که حایز به حسن نیت بصرف رسانیده است به او بپردازد و در مورد مصارف نافع احکام مواد (۲۲۰۵ - ۲۲۰۶) این قانون تطبیق میشود .

**مادۀ - ۲۲۹۴:**
حایز نمی تواند مصارفی را که از جمله مالیات حساب میشود ، از مالک مطالبه نماید ، مگر حق آنرا دارد تا آنچه را جدیداً احداث نموده است دور ساخته و شی را بهمان حالت اولی آن بر گرداند ، مگر اینکه مالک به ایفای آن در مقابل تادیه قیمت، موافقه نماید .

**مادۀ - ۲۲۹۵:**
هرگاه شخصی حیازت را از مالک یا حایز سابق حایز شده باشد ، و اثبات نماید که مصارف را به سلف خود پرداخته است، میتواند مصارف مذکور را از شخصیکه مال به وی سپرده میشود ، مطالبه کند .

**مادۀ - ۲۲۹۶:**
محکمه میتواند اندازه مصارف را تثبیت و راجع به پرداخت آن اقساط دورانی را با تضمینات ضروری ،

قسطونه و تاكي.

## اوومه فرعه – د حيازت لاندي شي د هلاكيدو مسئوليت

**۲۲۹۷ – ماده:**
که حایز په ښه نیت د شي څخه په هغې حدودو کښې چه خپل حق یي ګڼي ګټه واخلي نو د هغه شخص په مقابل کښې چه ورته د شي په ردولو مکلف کیږي، ددي ګټې اخیستلو په سبب د هر نوع تعویض مسئول نه دي. همدارنګه د ذکر شوي شي د هلاکیدو یا تلفیدو مسئول نه ګڼل کیږي مگر په هغې حدودو کښې چه ددي هلاکیدو یا تلفیدو څخه ورته ګټه رسیدلي ده.

**۲۲۹۸ – ماده:**
که حایز د بدنیت لرونکي وي نو دشي د هلاکیدو یا تلفیدو که څه هم د ناڅاپي پیښو څخه پیدا شوي وي مسئول دي، مگر داچه ثابته شي که ذکر شوي شي دخپل مالک سره هم وي نو هلاکیده یا تلفیده.

## دریم فصل
## د ملکیت د حق څخه متفرع حکمونه

تعیین نماید.

## فرع هفتم – مسئولیت از بین رفتن شی تحت حیازت

**مادهٔ – ۲۲۹۷:**
هرگاه حایز با حسن نیت از شی در حدود یکه حق خود پندارد، استفاده نماید. در مقابل شخصیکه به رد شی به او مکلف میشود از هر نوع تعویض به سبب این استفاده مسئول شناخته نمیشود، همچنان از عواقب از بین رفتن و تلف شدن شی مذکور مسئول پنداشته نمیشود. مگر در حدودیکه از آن ناحیه به او مفادی تعلق گرفته باشد.

**مادهٔ – ۲۲۹۸:**
هرگاه حایز دارای سوء نیت باشد، از بین رفتن و تلف شدن شی گر چه از اسباب غیر مترقبه نشأت کرده باشد، مسئول شناخته میشود. مگر اینکه ثابت شود که اگر شی مذکور نزد مالک آن هم می بود، از بین می رفت و یا تلف می گردید.

## فصل سوم
## حقوق متفرع از حق ملکیت

## لمړی قسمت
## د ګټې اخیستلو حق

### لمړی مبحث – عمومي حکمونه

**۲۲۹۹ – ماده:**
جایزه ګټه اخیستل، د ګټې اخیستونکي د حق څخه د عین د استعمال او پکار اچول څخه عبارت دي، خو په دي شرط چه پخپل حال باقي پاتي وي که څه هم پخپله عین مملوک نه وي.

**۲۳۰۰ – ماده:**
د اعیانو د ګټو کسبول بي د هغې درقبې څخه جواز لري، عام له دي چه دا اعیان عقاروي او که منقول.

**۲۳۰۱ – ماده:**
د ګټي کسبول د عوض په بدل کښې او بي له هغې جواز لري.

**۲۳۰۲ – ماده:**
د ګټې اخیستلو حق د قانوني عمل په سبب یا شفعي او یا د زماني په تیریدو ترلاسه کیداي شي.

**۲۳۰۳ – ماده:**
د ګټې اخیستلو په حق وصیت کول د وصیت د فصل د درج شوو حکمونو او

## قسمت اول
## حق انتفاع

### مبحث اول – احکام عمومی

**مادۀ – ۲۲۹۹:**
انتفاع جایز ،عبارت از حق نفع گیرنده است در استعمال و بکار انداختن عین تا زمانیکه به حالت خود باقیمانده، گر چه رقبه آن در مالکیت او نباشد.

**مادۀ – ۲۳۰۰:**
کسب منافع اعیان عقار باشد یا منقول، بدون رقبه آن جواز دارد.

**مادۀ – ۲۳۰۱:**
کسب منفعت در مقابل عوض یا بدون آن جایز است.

**مادۀ – ۲۳۰۲:**
حق انتفاع به سبب عمل قانونی یا شفع یا مرور زمان، کسب میشود.

**مادۀ – ۲۳۰۳:**
وصیت کردن به حق انتفاع مطابق احکام و قواعد مندرج فصل وصیت

قاعدو سره سم جواز لري.

**۲۳۰۴ - ماده:**
په کومي تبرع چه د گټې اخيستلو حق مرتب کيږي نو په هغې کښې د تبرع د عقد د شرطونو مراعات هرو مرو دي او د دي سره سره گټې اخيستونکي د حقوقو او واجباتو مراعات حتمي دي.

**۲۳۰۵ - ماده:**
د کوم شي د ميوي څخه چه گټه اخيستل کيږي، د گټې اخيستلو د مودي په اوږدو کښې د گټې اخيستونکي حق گڼل کيږي، بي له دي چه دبل چا کسب شوي حق اخلال کي، مگر کوم ثمر چه د گټې اخيستلو په پاي کښې موجود وي د مالک حق دي ، خو په دي شرط چه يو دبل پوره مصرفونه اداء کي.

**۲۳۰۶ - ماده:**
(۱) که د گټې اخيستلو عقد مطلق وي او مقيد نه وي نو گټه اخيستونکي مکلف دي چه د کوم شي څخه گټه اخلي هغه په عادي توگه استعمال کي.

(۲) که عقد په کوم قيد مقيدوو نو گټه اخيستونکي به دمالک د تقييد

، جواز دارد.

**مادۀ - ۲۳۰۴:**
رعايت شروط عقد تبرعيکه بر آن حق انتفاع مرتب ميگردد، با مراعات حقوق و وجايب نفع گيرنده، حتمی است.

**مادۀ - ۲۳۰۵:**
ثمر شی که از آن نفع گرفته ميشود، در طول مدت انتفاع حق نفع گيرنده شمرده ميشود. همچنان ثمر طبيعی موجود هنگام آغاز مدت انتفاع حق نفع گيرنده شناخته ميشود، بدون اينکه حقوق کسب شدۀ غير را اخلال نمايد، مگر ثمری را که هنگام انتهای مدت انتفاع موجود باشد، حق مالک تلقی ميشود. مشروط بر اينکه هر يک مصارف يکديگر را بپردازند.

**مادۀ - ۲۳۰۶:**
(۱) هرگاه عقد منفعت بصورت مطلق غير مقيد صورت گرفته باشد، نفع گيرنده مکلف است از شی که منفعت ميگيرد آن را طور عادی استعمال نمايد.

(۲) در صورت مقيد بودن عقد ، انتفاع گيرنده طبق

سره سم یا د هغې په مثل یا د هغې څخه په کمه اندازه ګټه اخلي، خو د احق نه لري چه د هغې څخه تیری وکي.

دستور مالک یا مثل آن یا کمتر از آن حق استفاده را دارد و تجاوز از آن، جواز ندارد.

**۲۳۰۷ - ماده:**

که ګټې اخیستونکي شي په نامشروعه توګه یا په داسي توګه چه د هغې د طبیعت سره موافق نه وي استعمال کي نو دشي مالک کولي شي چه په دي استعمال اعتراض وکي، که ګټه اخیستونکي دا اعتراض وکي، که ګټه اخیستونکي دا اعتراض قبوله نه کي نو محکمه کولي شي چه ذکر شوي عین د ګټې اخیستونکي د تصرف څخه و باسي او بل چاته یي تسلیم کي چه اداره یي په غاړه واخلي، همدارنګه کولي شي چه د ګټې اخیستلو د حق په پاي ته رسیدو حکم وکي، بي له دي چه د نورو حقوق اخلال کي.

**مادۀ - ۲۳۰۷:**

مالک شی میتواند راجع به استعمال غیر مشروع یا مغایر طبیعت شی بر نفع گیرنده اعترتاض نماید، اگر نفع گیرنده آن را قبول ننماید، محکمه می تواند عین مذکور را از تتهصرف نفع گیرنده کشیده و به شخص دیگری آنرا تسلیم نماید تا اداره آنرا به عهده گیرد. همچنان میتواند به انتهای حق انتفاع بدون اخلال حقوق غیر، حکم صادر نماید.

**۲۳۰۸ - ماده:**

(۱) کوم مصرفونه چه د هغه عین د پالني او ساتني دپاره چه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي لازم وي، د نفعې اخیستونکي په غاړه دي.

(۲) کوم تکلیفونه چه غیر عادي وي او هغه لوي اصلاحات چه د ګټې

**مادۀ - ۲۳۰۸:**

(۱) مصارف لازمۀ سرپرستی و حفاظت عینیکه از آن نفع گرفته میشود، به ذمه نفع گیرنده می باشد.

(۲) تکالیف غیر عادی و اصلاحات بزرگی که از قصور

اخيستونکي د قصور څخه نه وي پيدا شوي د مالک په ذمي دي او ګټه اخيستونکي د هغې ګټې په ورکولو چه ددي مصرف څخه حاصل شوي مکلف دي. که ذکر شوي مصرفونه ګټې اخيستونکي کړي وي، نو کولي شي چه د ګټې اخيستلو دمودي په آخر کښې د مالک څخه د هغې غوښتنه وکي.

**۲۳۰۹ - ماده:**

د کوم شي څخه چه ګټه اخيستل کيږي، نو که ګټه اخيستونکي د هغې په ساتنه کښې تيري او قصور ونه کي او هلاک شي، ضامن نه ګڼل کيږي.

**۲۳۱۰ - ماده:**

که ګټه اخيستل ديوي معلومي مودي پوري مقيدوي او ګټه اخيستونکي ددي مودي د تيريدو وروسته عين د ځان سره وساتي او مالک ته يي بيرته ور نه کي او هلاک شي ، نو ګټه اخيستونکي د هغې د قيمت په ورکولو مکلف دي که څه هم عين يي د ذکر شوي مودي د تيريدو وروسته نه وي استعمال کړي او مالک يي هم غوښتنه نه وي کړي.

**۲۳۱۱ - ماده:**

ګټه اخيستونکي مکلف دي چه د هغه

نفع گيرنده نشأت نکرده باشد ، به ذمه مالک بوده و نفع گيرنده به دادن مفاديکه از مصرف حاصل شده، مکلف ميشود و اگر نفع گيرنده مصارف مذکور را نموده باشد ، ميتواند در وقت انتهای مدت انتفاع استرداد آنرا از مالک، مطالبه نمايد.

**مادهٔ - ۲۳۰۹:**

هرگاه عينيکه از آن نفع برده ميشود بدون تجاوز و قصور نفع گيرنده در نگهداری آن از بين برود ، ضامن نمی گردد.

**مادهٔ - ۲۳۱۰:**

هرگاه منفعت به مدت معلوم مقيد باشد و نفع گيرنده بعد از گذشت مدت مذکور عين را نزد خود نگهداشته و بمالک آن رد نکند و از بين برود ، نفع گيرنده بپرداخت قيمت آن مکلف ميشود. گر چه عين را بعد از انقضای مدت انتفاع استعمال نکرده و مالک نيز رد آنرا مطالبه ننموده باشد.

**مادهٔ - ۲۳۱۱:**

نفع گيرنده مکلف است در حفاظت

عـين پـه سـاتنه كښې توجـه وكـي چـه ورڅخه ګټه اخلي.

**۲۳۱۲ - ماده:**

كـه شـي هـلاک شـي يـا داسـي لويـو اصلاحاتو ته محتاج شي چه جوړول يي پـه مـالک لازم وي يـا دداسـي اجراآتـو كولو ته لزوم پيدا شي چه عين ته دغير منتظره خطرونو څخه نجات وركي، نـو په دي صورت كښې ګټه اخيستونكي مكلف دي چه مالک تـه سمدستي خبر وركي. همدارنګه مكلف دي چه كـه بـل څوك په ذكر شوي عـين بانـدي دكـوم حـق دعـوي وكـي ، مـالک تـه خبرتيـا وركي.

**۲۳۱۳ - ماده:**

كـه ګټـه اخيسـتونكي منقـول مـال پـه عاريـت واخلـي او د هغـې څخـه ګټـه اخيستل بي د هغې د استهلاک څخه ممكنه نـه وي، نـو كـولي شي چه هغـه استهلاک كـي، پـه دي صـورت كښـې ګټـه اخيسـتونكي مكلـف دي چـه د ګټې اخيستلو څخه وروسته مـالک تـه د هغې مثل يا قيمت وركي. همدارنګه كـه ذكـر شـوي مـال د ګټـې اخيسـتلو ترمخـه هـلاک شـي نـو عاريـت اخيسـتونكي د ضـمان پـه وركولـو مكلف دي، كه څه هم د هغې هلاک د هغه د تيري په اثر نه وي.

عيـــنيكه از آن نفـع ميگيـرد، توجـه نمايد.

**مادۀ - ۲۳۱۲:**

هــر گاه شــی از بـين بـرود يــا بــه اصـلاحات بزرگـی محتـاج گـردد كـه اقـــدام بــه آن در وجـــايب مـــالک شـمرده شـود يـا اتخـاذ تـدابيری لازم افتـد كـه عـين را از وقـوع خطر غيـر منتظـره نجـات دهـد، در ايـن صـورت نفـع گيرنـده مكلـف اسـت بــه مـالک فـوراً اطـلاع دهـد، همچنـان مكلـف است در صورت ادعـای غيـر مبنـی بر حق بالای عين مذكور، مـالک را مطلع گرداند.

**مادۀ - ۲۳۱۳:**

نفــع گيـــرنده ميتوانـد مـال منقـولی را كـــه عـــاريت گـــرفته است، از بـين ببـرد، در حـاليكه انــتفاع از آن بـــدون از بــين بــردن آن ممكـــن نـباشد، درين صـورت نفع گيـــرنده بعـد از نـــفع گرفـــتن بـرد مثـل يـا قـيمت آن بمـالک مـكلف ميــشود، همچنان در صـــورتيكه مال مذكـــور قـــبل از نـفع گرفـتن از بـين بــرود، نـفع گـيرنده بپرداخت ضمان مكلف ميـــشود. گـــر چـــه از بـــين رفتن در اثـر قصـور وی صـــورت نگـــرفته باشد.

## دوهم مبحث – ګټې اخيستلو دحق پای

**۲۳۱۴ – ماده:**
د ګټې اخيستلو حق د ګټې اخيستلو د ټاکلي مودي په تيريدو، د نفعي اخيستونکي په مړينه يا د هغه عين په هلاکيدو چه ورڅخه ګټه اخيستل کيږي، پای ته رسيږي.

**۲۳۱۵ – ماده:**
که د ګټې اخيستلو ټاکلي موده تيره شي او يا دا چه ګټه اخيستونکي د ګټې اخيستلو په مودي کښې مړ شي او ځمکه کښې داسي کرهڼه وي چه لا پخيدو ته نه وي رسيدلي، نو زراعت دي د هغې د پخيدو او لو کولو تروخته پوري د مثلي اجوري په بدل کښې ګټې اخيستونکي ته يا د هغه وارثانو ته پرښودل کيږي.

**۲۳۱۶ – ماده:**
که د نفعي اخيستلو حق پوره پنځلس کاله استعمال نه شو، نو حق پاي ته رسيږي.

## دوهم قسمت
## داوسيدلو او استعمال حق

**۲۳۱۷ – ماده:**
د ګټې اخيستلو حق کله د استعمال او

## مبحث دوم – انتهای حق انتفاع

**مادۀ – ۲۳۱۴:**
حق انتفاع به انقضای مدت معیینه انتفاع و بوفات نفع گیرنده و یا به از بین رفتن عینیکه از آن نفع گرفته میشود، خاتمه می یابد.

**مادۀ – ۲۳۱۵:**
هرگاه مدت معیینه انتفاع سپری گردد یا نفع گیرنده در اثنای مدت مذکور وفات نماید و زمین بزرعی مشغول باشد که هنوز پخته نشده باشد، زراعت تا وقت پخته شدن زرع و درو آن در مقابل اجرت مثل به نفع گیرنده یا ورثۀ او گذاشته میشود.

**مادۀ – ۲۳۱۶:**
حق انتفاع بگذشت مدت پانزده سال در حال عدم استعمال حق، منتهی میشود.

## قسمت دوم
## حق استعمال و سکونت

**مادۀ – ۲۳۱۷:**
حق انتفاع گاهی منحصر به

کلـه داوسـيدلو پـوري منحصـر وي او کله دواړو ته شامل وي.

**۲۳۱۸ - ماده:**

د استعمال يا داوسيدلو د حق ساحه د حـق د خاونـد او هغـه فاميـل غـړو د احـتياج پـه انـدازي مقيـده ګڼل کيـږي بي له دي چه هغـه حکمونـه اخـلال کـي چه د حق انشـاء شوي سند يـي تائيـد کوي.

**۲۳۱۹ - ماده:**

(۱) که څوك د وصيت د عقد پـه اسـاس ديـوه کـور داوسـيدلو د حـق مسـتحق شي که د کور رقبـه د وصـيت کوونکي د دريمي حصي مـال څخـه زياتـه نـه وي نوکـه وصـيت مطلـق وو وصـيت کـړه شوي کولي شي چه د خپل ژوند تر پايه پوري دخپل فاميل سره پـه هغـې کښـی و اوسيږي، او کـه مـوده ټاکـل شـوي وه نو د ذکـر شـوي مـودي د تيريـدو پـوري پـه هغـې کښـی حـق نقليـږي، او کـه د کور رقبه د وصيت کوونکي د دريمي حصي مـال څخه زياتـه وي، وصيت کـړه شوي کولي شي پـه هغـې حدودو کښـی چه د دريمي حصي څخـه زياتـه نـه وي و اوسـيږي، او د دريمـي حصـي څخـه پـه زيـاتي انـدازي سـاحه کښـی وارثـان واوسـيږي. مگـر دا چـه وارثـان وصـيت

استعمـال يـا سـکونت و گـاهی هـر دو ميباشد.

**مادۀ - ۲۳۱۸:**

سـاحه حـق استعمـال يـا سـکونت بـانـدازه احـتياج صـاحب حـق و اعضـای فـاميل او مـقيد شـناخته ميشـود، بـا آنـهم آنـچه را سنـد انـشاء حـق احتـوا نـمايد، رعـايت مـيشود.

**مادۀ - ۲۳۱۹:**

(۱) کسـی کـه حق سکونت منزلـی را باساس عقد وصيت کسب نمايد، اگر رقبـه منزل از ثلث مـال وصيت کننده متجـاوز نباشـد، شـخص مـذکور ميتواند در صورت اطلاق وصيت در طول حيات خويش بـا فاميـل خود در آن سکونت اختيار نمايد و در صورت تعيين مدت الی زمـان انقضـای مـدت مذکور در آن سکونت کرده ميتواند و بعد از آن حق سکونت به ورثۀ وصيت کننـده انتـقال مـی يابـد و اگـر رقبـه منـزل از ثلـث مـال وصـيت کننـده متجـاوز باشـد، شخصـيکه بـه او وصيت شده، ميتوانـد در مقداريکـه از حدود ثلث تجاوز نکنـد، سکونت نمايد و از ساحه خارج از حدود ثلث ورثـه اسـتفاده بعمـل مـی آرد، مگـر

کړه شوي ته په ټول کور کښی د اوسيدلو اجازه ورکي.

(۲) ددي مادې د پورتني فقري په درج شوي حالت کښی وصيت کوونکي وارثان نه شي کولي د کور هغه برخه چه د هغوي په لاس کي ده خرڅه کي خو کولي شي چه د مودي په حساب د هغې څخه ګټه اخيستل په نوبت سره وويشي.

۲۳۲۰ - ماده:
په کوم کور چه داوسيدلو حق ثابت شوي وي ، او جوړ ولو ته ضرورت ولري ، نو جوړول يي د هغه چا په غاړه دي چه په هغې کښی اوسيږی او دا مصرف به هم د هغه د مال څخه وي، او کوم شي چه يي پخپل مال آباد کړي د هغه او دهغه دوارثانو حق ګڼل کيږی، که د حق خاوند د هغې د جوړولو څخه ځان وژغوره، نو علاقه لرونکي کولي شي چه د محکمې څخه وغواړي چه هغه په جوړولو مکلف کي او يا دا چه د محکمې څخه اجازه واخلي چه کور بل چاته په اجاري ورکي او د هغې د اجاري څخه هغه جوړکي او د اجاري د مودي په پاي کښی کور، داوسيدلو د حق خاوند ته

اينکه ورثه وصيت را در تمام منزل اجازه دهد.

(۲) در حالت مندرج فقره فوق، ورثه وصيت کننده نمی توانند آن قسمت منزل را که در دست دارند، بفروشند مگر تقسيم استفاده آنرا حسب زمان، بصورت نوبت کرده ميتواند.

مادۀ - ۲۳۲۰:
هر گاه منزليکه براى حق سکونت تثبيت شده باشد به اعمار ضرورت داشته باشد، تعمير آن به عهده کسی ميباشد که حق سکونت را در آن حايز است، تا از مال خود ، به آن مبادرت نمايد. و آنچه را که از مال خود بناء نمايد، ملکيت او و ورثه او شناخته ميشود. و اگر صاحب حق از اعمار آن امتناع ورزد شخص ذيعلاقه ، ميتواند از محکمه الزام او را به تعمير مطالبه و يا اجازۀ محکمه را در خصوص اجاره منزل مذکور بغير حاصل نمايد. تا از پول اجارۀ آن باعمار مذکور پرداخته و بعد از انتهاى مدت اجاره آنرا بصاحب حق سکونت رد

تسليم کي.

**۲۳۲۱ - ماده:**
د استعمال يا د اوسيدلو د حق څخه بل چاته تيريدل جواز نه لري، مگر د يو صريح شرط ياقوي دليل په اساس.

**۲۳۲۲ - ماده:**
د ګټې اخيستلو پوري خاص مربوط حکمونه ترڅو چه د دي قسمت د درج شوو حکمونو او استعمال او اوسيدلو د حق د طبيعت منافي نه وي هم د تطبيق منافي نه وي هم د تطبيق وړ دي.

## دريم قسمت
## د حکر حق

**۲۳۲۳ - ماده:**
د حکر حق د داسي عيني حق څخه عبارت دي چه د هغې څخه مقصد د يوي ټاکلي اجوري په بدل کښې ځمکه دغرس او بنأ دپاره يا د دي دواړو څخه ديوه دپاره پاتي کيدل وي.

**۲۳۲۴ - ماده:**
د حکر موده د پنځو سوکلونو څخه نه شي زياتيدلي. که د حکر موده د پنځوسو کلونو څخه زياته ټاکل شوي وي او يا دا چه بيخي نه وي ټاکل

نماید.

**مادهٔ - ۲۳۲۱:**
تنازل از حق استعمال یا حق سکونت برای غیر جواز ندارد، مگر به اساس شرط صریح یا دلیل قوی.

**مادهٔ - ۲۳۲۲:**
احکام مربوط بحق انتفاع تا وقتی که مغایراحکام مندرج این قسمت و منافی طبیعت این دو حق نباشد، در مورد حق استعمال و حق سکونت نیز تطبیق میشود.

## قسمت سوم
## حق حکر

**مادهٔ - ۲۳۲۳:**
حق حکر، عبارت از حق عینی است که منظور از آن ابقای زمین برای بنأ غرس یا یکی ازین دو در مقابل اجرت معیین می باشد.

**مادهٔ - ۲۳۲۴:**
مدت حکر، از پنجاه سال تجاوز نیمکند در حالیکه مدت حکر بیشتر از پنجاه سال تعیین و یا اصلاً تعیین نگردیده باشد، برای

شوي، د پنځوسو کلونو دپاره اعتبار لري .

### ۲۳۲۵ - ماده:

د حکر عقد جوازنه لري مګر دیو ضرورت او ښیګنی په اساس او یا د ولایت د هغې محکمې په اجازي چه د قیمت له لحاظه تولـه یا زیاته برخه ځمکه د هغې په حوزي کښی واقع وي. د حکر عقد د محکمې د رئیس په حضور کښی یا د هغه غړي په حضور کښی چه د محکمې د رئیس له خوا ټاکل کیږی، لیکل کیږی او ترهغې وروسته وثیقه د قانون د حکمونو سره سم ترتیبیږي.

### ۲۳۲۶ - ماده:

د حکر د حق خاوند کولي شي چه د خپل حکر لاندي ځمکی کښی د ملکیت د نقلولو یا ګټی اخیستلو تصرفونوه وکي. په دي ټولو حالونو کښی ځمکه د بناء ، ونو او نورو ټولو نامنقولو مالونو سره د حکر د حق د مودي په پای کښی د دي قانون د (۲۳۲۴) مادې د حکم په مراعات کولو سره، اصلي مالک یا هغه وارثانو ته بیرته ورکول کیږی.

### ۲۳۲۷ - ماده:

د حکر د حق خاوند کولي شي چه په

مدت پنجاه سال اعتبار داده میشود .

### مادهٔ - ۲۳۲۵:

عقد حکر جو از ندارد ، مگر به اساس ضرورت یا مصلحت و اجازه محکمه ولایتیکه تمام زمین یا قسمت اعظم آن از لحاظ قیمت در حوزه آن محکمه قرار داشته باشد عقد بحضور رئیس محکمه یا عضویکه از طرف رئیس محکمه تعیین میشود ، تحریر میگردد . وثیقه بعداً طبق احکام قانون ترتیب میگردد .

### مادهٔ - ۲۳۲۶:

صاحب حق حکر، می تواند در زمین تحت حکر خود تصرفات مبنی بر انتقال ملکیت یا انتفاع را بعمل آورد ، در تمام این حالات زمین یا بنأ اشجار و سایر اموال غیر قابل انتقال بعد از انتهای مدت حق حکر، به مالک اصلی یا ورثه وی با رعایت مادهٔ ( ۲۳۲۴ ) این قانون اعاده میشود .

### مادهٔ - ۲۳۲۷:

صاحب حق حکر، میتواند در حیازت

حیـازت او غـرس کښـې یـواځې یـا د حکر د حق سره یو ځای تصرف وکي.

و غـرس بـه تنهائی یـا بـا حـق حکـر یکجا تصرف نماید.

**۲۳۲۸ - ماده:**

د حـکر د حق خـاوند مکلف دي چه مــوافقه شــوي اجــوره پــه موافقـه شـــوو میعـــادونو کـــښې مـــالک تـــه ورکي.

**مادۀ - ۲۳۲۸:**

صاحب حق حکر، مکلف است اجرت معیینـــه را در مواعیدیکـــه بـــه آن موافقـــه صـــورت گرفتـــه، بمـــالک بپردازد.

**۲۳۲۹ - ماده:**

د حکر عقد د مثلي اجوري څخه پـه کمي اجوري جواز نـه لـري، د اجوري زیاتوالي یا کموالي هغه وخت صورت مـومي چه پـه مثلـي اجـوري کښـې د زیاتوالي یا کموالي لـه حیثـه دپنځمی حصـې څخـه زیـات تغییـر راشـې او دآخرنی سنجش نیټی څخه پنځه کـاله تیر شوی وی .

**مادۀ - ۲۳۲۹:**

عقـد حکـر، بمقـدار کمتـر از اجـرت مـــثل جواز نـدارد، تزئید یا تنقیص اجـــرت زمـــانی صـــورت گـــرفته میتواند کـه در اجرت مـــثل متجاوز از خـــمس از حـــیث زیـــادت یـــا نقـصان تغییـر وارد شده و از تـاریخ آخرین سنجش پنج سال، سپری شده باشد.

**۲۳۳۰ - ماده:**

د سنجش پـه وخت کښې چه زیاتوالي یـا کمـوالي انـدازه کیـږی د ځمکـی د اجاري قیمت تـه مراجعـه کیـږی او پـه هغـې کښـې د ځمکـې موقعیـت او د خلکو تمایل هغې ته مراعات کیږی. د هغې بنأ، ونو یا هغه څه تـه چه د حکر خاوند په کښې جوړ کړي یا هغه څه تـه چه د حکر خاوند یي پـه ځمکـه بانـدي دضرر رسـولو حق لـري، د اجـوري پـه سنجولو کښې اعتبار نه ورکول کیږی.

**مادۀ - ۲۳۳۰:**

در ســنجش زیادت یا نقصان بقیمت اجـارۀ زمـــین در هنگـــام ســنجش مراجعـه میشــود و در آن مـــوقعیت زمـین و انـدازه تمایـل مـردم بـه آن رعـایت میـــگردد. بـه موجودیت بنأ، اشجار یا آنچه صاحب حق حکر در آن احداث نـــموده یا حـــقوق و اضـــرار صـاحب حق حکـر در زمـین مــذکور در ســـنجش اجـــرت اعتبـــار داده نـــمیشود.

**۲۳۳۱ - ماده:**
نوي سنجش د موافقي له وخته د تطبيق وړ دي او که موافقه نه وه شوي د هغې وخته اعتبار لري چه د سنجولو د غوښتنى دعوي اقامه شوي وي.

**۲۳۳۲ - ماده:**
د حکرد حق خاوند مکلف دي، هغې وسیلو ته اقدام وکي چه د ځمکى حاصل ورکولو د پاره ضروري وي، سره ددي هم موافقه شوي شرطونه، د ځمکى طبیعت، هغه غرض چه ځمکه د هغې دپاره تیاره شوي او د منطقي عرف مراعات کیږي.

**۲۳۳۳ - ماده:**
(۱) د حکر حق د هغې د ټاکلي مودي په سرته رسیدو سره پاي ته رسیږي.

(۲) د مودي د سرته رسیدو ترمخه د حکر حق هغه وخت پاي ته رسیږي چه د حکر د حق خاوند په ځمکى کښى د بنا یا ونو اینبودلو ترمخه مړ شي مگر دا چه ټول وارثان د حکر د پاتي کیدو غوښتنه وکي.

**۲۳۳۴ - ماده:**
که حکر په وقف کړه شوي ځمکى کښى صورت موندلي وي او د ځمکى ځخه د وقف کوونکي د رجوع په

**مادۀ - ۲۳۳۱:**
سنجش جدید از تاریخ موافقه طرفین یا از تاریخ اقامه دعوی مبنی به مطالبه سنجش، اعتبار داده میشود.

**مادۀ - ۲۳۳۲:**
صاحب حق حکر، مکلف است به اتخاذ وسایلی اقدام نماید که برای حاصل دهی زمین لازم باشد و با آنهم شروط موافقه شده، طبیعت زمین، غرضیکه زمین برای آن آماده شده و اقتضای عرف منطقه رعایت میشود.

**مادۀ - ۲۳۳۳:**
(۱) حق حکر به انتهای مدت معیینه، منتهی میشود.

(۲) قبل از انتهای مدت، حق حکر وقتی منتهی میگردد که صاحب حق حکر بیش از احداث بناء یا غرس اشجار در زمین مذکور وفات نماید. مگر اینکه تمامی ورثه بقای حکر را مطالبه نمایند.

**مادۀ - ۲۳۳۴:**
هرگاه حکر در زمین موقوفه صورت گرفته باشد و صفت وقف از زمین مذکور به اساس رجوع

اساس د وقف صفت ليري شي، نو حکر پاي ته رسيږي، که د وقف کوونکي له خوا د وقف موده کمه شي، نوکه پاتي موده د حکر دمودي څخه کمه وي نو د حکر حکم د وقف د سرته رسيدو تر وخته دوام کوي او د هغې په غير د حکر د حکم سره سم د حکر د مودي تر پايه پوري حکر ته دوام ورکول کيږي.

**۲۳۳۵ - ماده:**

که د حکر د حق خاوند د ځمکی د اجاري حق دوه پرله پسي کلونه اداء نه کي نو د ځمکی خاوندکو لي شي چه د عقد د فسخ کيدو غوښتنه وکي.

**۲۳۳۶ - ماده:**

د ځمکی مالک د حکر د فسخ کيدو په وخت کښی يا د حکر د مودي د پاي ته رسيدو په وخت کښی اختيار لري چه د حکر د حق دخاوند بنأ او ونې ليري کي او يا يي د ليري کولو د کم قيمت په بدل کښی پريږدی. مگر دا چه موافقه بل رنگه شوي وي.

**۲۳۳۷ - ماده:**

که د پنځلسو کلونو په مودي کښی د حکر د حق څخه گټه وانه خيستله

وقـف کننده از وقف زایل شود، حکر منتهی میگردد و اگر مدت وقف از طرف وقف کننده تنقیص یابد، در صورتیکه مدت باقیمانده از مدت حکر کمتر باشد، حکر الی زمان انتهای وقف ادامه می یابد و در غیر آن الی نهایت مدت حکر طبق حکر دوام داده میشود.

**مادۀ - ۲۳۳۵:**

هرگاه صاحب حق حکر حقوق اجاره زمین را در دو سال متوالی نپردازد، مالک زمین میتواند فسخ عقد را مطالبه کند.

**مادۀ - ۲۳۳۶:**

مالک زمین هنگام فسخ عقد یا انتهای مدت حکر، بین ازاله بناء و اشجار غرس شدۀ محتکر یا بقای آن در مقابل اقل قیمت مستحقه ازاله یا بقأ، مخیر است. مگر اینکه موافقه طور دیگری صورت گرفته باشد.

**مادۀ - ۲۳۳۷:**

هرگاه در ظرف مدت پانزده سال از حق حکر استفاده بعمل نیاید، حق

شي، نو د حکر حق پاي ته رسيږي.

**۲۳۳۸ - ماده:**
په دي قانون کښی د حکر د عقد درج شوي حکمونه د ځمکی په هغې حکر باندي هم تطبيقيږي چه ددي قانون د نافذيدو په وخت کښی ثابت وي.

**۲۳۳۹ - ماده:**
(۱) ددي قانون ددرج شوي حکر د حق څخه د باندنی اشخاص عام له دي چه حقيقي وي يا حکمي ، ګټه نه شي اخيستلي .

(۲) کومه رويه چه د افغانستان دولت يي د دوستو هيوادونو دسياسي نمايندګيو او په افغانستان کښی د اوسيدونکو بين المللي مؤسسوپه مقابل کښی د عقاري مالونو په باره کښی نيسي، د حکر د حق تابع نه ده .

**ځلورم قسمت**
**مجرد حقوق**

**لمړی مبحث – د ارتفاق حق**

**۲۳۴۰ - ماده:**
ارتفاق په عقار باندي د داسي حق څخه عبارت دي چه دبل شخص د عقار د ګټی دپاره وي.

حکر منتهی شناخته میشود.

**مادۀ - ۲۳۳۸:**
احکام عقد حکر مندرج این قانون، به حکر زمینیکه هنگام نفاذ این قانون ثابت باشد، نیز تطبیق میشود.

**مادۀ - ۲۳۳۹:**
(۱) از حق حکر مندرج این قانون، اشخاص خارجی اعم از حقیقی و حکمی، استفاده کرده نمی توانند.

(۲) رویۀ که دولت افغانستان در برابر نمایندگی های سیاسی دول متحابه و مؤسسات بین المللی مقیم افغانستان در مورد اموال عقاری اتخاذ میدارد، تابع احکام حق حکر نمی باشد.

**قسمت چهارم**
**حقوق مجرد**

**مبحث اول - حق ارتفاق**

**مادۀ - ۲۳۴۰:**
ارتفاق، عبارت از حقی است بالای عقار جهت منفعت عقار شخصی دیگر.

**۲۳۴۱ ماده:**
د ارتــفاق حق پــه عــام مــال واقــع کيـداي شـي، خـو پـه دي شرط چـه د هغې استعمال سره چــه ورتــه دا مـال تخصـيص شــوي معـارض واقــع نــه شي.

**۲۳۴۲ - ماده:**
د ارتفـاق حق پـه قـانوني عمـل يـا پـه ميراث کسبيدلي شي، خو د زمـاني پـه تيريدو نه شي کسبيدلي، مگر ظـاهري ارتفاقونه چه په هغې کښې د تلو راتلو حق هم شامل دي.

**۲۳۴۳ - ماده:**
ظــاهري ارتفاقونــه د اصـلي مــالک د تخصيص په اساس مرتبيدلي شي.

**۲۳۴۴ - ماده:**
د اصلي مـالک لـه خوا تخصيص هغـه وخت موجوديږي چـه د اثبات د طريقو څخـه پـه يـوي طريقـي ثابتـه شي چـه د دوه منفصلو عقـارونو مـالک د هغـوي تـرمنځ يـوه ظـاهري علامـه قايمـه کړي چـه د هغـې پـه اسـاس د هغـې دواړو عقارونو ترمنځ داسي تبعي علامه پيدا شي که ذکر شوي دواړه عقارونـه د دوه نفرو ملکيت فرض شي، نو د ارتفاق د حق په وجود دلالت وکي، پـه دي حـالت کښـې کـه د ذکـر شـوو دوه عقـارونو

**مادهٔ ۲۳۴۱:**
حق ارتفاق بالای مـال عـام مرتـب شده میتوانـد ، مشــروط بــر اینکــه بــه استعمــال مــال مــذکور کــه بــه آن تخصـیص یافتــه منافــات نداشـتـه باشد .

**مادهٔ - ۲۳۴۲:**
حق ارتفاق به اساس تعهد قـانونی یا ارث حاصـل شــده میتوانـد ، مـرور زمـان باعـث کسب حق ارتفـاق نمـی گـردد. مگـر در مـورد ارتفـاق از قبیـل حق مرور.

**مادهٔ - ۲۳۴۳:**
ارتفــاق ظـاهر بــه اســاس تخصـیص مـالک اصلی نیز مرتب شده میتواند .

**مادهٔ - ۲۳۴۴:**
تخصـیص از جـــانب مــالک اصـلی وقتـــی مـــوجـــود میشـود کـه مـالک دو عــقار منفصل از هم در بین دو عقار مذکور علایم ظاهری احداث نمایـد کـه بـه اسـاس آن بیــن آن دو عقار چنــین علامـــهٔ تبعی ایــجاد گردد که اگر دو عقار مذکور ملک دو نفـر فــرض شــود ، بوجـود حــق ارتــفاق دلالــت نــماید ، و ایــن امـر بیکی از طــرق اثـبات ثــابت گـردد. دریـن حـال اگــر ملکیت دو

ملکيت بې لـه کـوم تغيير څخـه د ارتفاق په همغه پخواني حالت ددوه مختلفو مالکينو لاس ته انتقال وکي، د دوه ذکـر شـوو عقارونو ترمنځ د ارتفاق حق دنوو مالکانو په ګټه او ضرر ثابت شمارل کيږي، مګر دا چه صريح شرط د هغې مخالف وي.

عقار مذکور بدون تغيير به همان حالت بدو نفر ديگر انتقال نمايد، حق ارتفاق بين دو عقار مذکور بنفع و ضرر مالکان جديد، ثابت شمرده ميشود. مگر اينکه شرط صريح مخالف آن باشد.

**۲۳۴۵ – ماده:**

(۱) که داسي تاکلي قيود وضع شي چه د عقار د مالک حق ورسره تحديد شي لکه دکور په لوړ والي کي تحديد يا د عمارت په ساحي کښې تحديد، نو ذکر شوي قيدونه په عقار باندي د ارتفاق د حقوقو په حيث د نورو عقارونو په ګټه چه د هغې دښه والي دپاره وضع شوي، ګڼل کيږي، مګر دا چه موافقه بل رنګه شوي وي.

(۲) که د وضع شوو قيدونو څخه مخالفت وشي نو د هغې اصلاح کول په عين شکل سره د محکمې څخه غوښتل کيداي شي او محکمه واک لري چه د موجبه دليلونو په صورت کښې په تعويض اکتفاء وکي.

**مادۀ – ۲۳۴۵:**

(۱) هرگاه قيودی وضع شود که حق مالک عقار را در بناء تعمير محدود سازد، از قبيل تحديد در ارتفاع منزل يا در ساحه عمارت، قيود مذکور بحيث حقوق ارتفاق بر عقار به منفعت عقارات ديگری که بمنظور بهبود آن وضع شده، شمرده ميشود. مگر اينکه موافقه طور ديگری صورت گرفته باشد.

(۲) اگر از قيود وضع شده تخلف بعمل آيد، اصلاح آن عيناً از محکمه مطالبه شده ميتواند و محکمه صلاحيت دارد در صورت دلايل موجبه بتعويض، اکتفاء نمايد.

## دوهم مبحث – داوبو کولو حق

## مبحث دوم – حقابه

**۲۳۴۶ – ماده:**

اوبه کول د ځمکی يا ونی يا کرهڼی د

**مادۀ – ۲۳۴۶:**

حقابه، عبارت از نوبت استفاده از

اوبه کولو دپاره په اوبو د ګټې اخیستلو د نوبت څخه عبارت دي.

آب است بمنظور آبیاری زراعت یا اشجار.

**۲۳۴۷ - ماده:**
ددریابونو او د هغې دفرو عو اوبه د عامو خلکو ملکیت ګڼل کیږي، هر څوك کولي شي چه ورڅخه خپلې ځمکې او به کې او یا ورڅخه ددي مقصد د پاره ویاله وباسي مګر دا چه دا کار د عمومي ښیګڼو یا خاصو قوانینو سره معارض واقع شي.

**مادۀ - ۲۳۴۷:**
آب دریاها و فروع آن ملک عامه شمرده شده، هر کس حق دارد از آن اراضی خویش را آبیاری نموده یا از آن به این منظور جوی بکشد. مگر اینکه این امر با مصلحت عامه یا قوانین خاص معارض واقع شود.

**۲۳۴۸ - ماده:**
که څوك دخپل مال څخه د خپلو ځمکو داوبه کولو دپاره خاصه ویاله و باسي، د هغې څخه دهري نوعي ګټې اخیستلو حق لري او بل څوك نه شي کولي چه بي دهغه د اجازي څخه ورڅخه ګټه واخلي.

**مادۀ - ۲۳۴۸:**
کسیکه از مال خود جوی خاص به منظور آبیاری زمین خود احداث کند، از آن حق هر نوع استفاده را داشته و شخص دیگر از آن بدون اجازۀ احداث کننده، استفاده کرده نمی تواند.

**۲۳۴۹ - ماده:**
د عمومي ویالي څخه د اوبو د استعمال او توزیع حق، عمومي ښیګڼو ته د ضرر نه رسولو په مراعات کولو سره د هغې ځمکو په اندازي صورت مومي چه اوبه کول یي اقتضاء کوي.

**مادۀ - ۲۳۴۹:**
حق استعمال آب از جوی عام و توزیع آن با رعایت عدم الحاق ضرر به مصالح عامه به اندازۀ اراضی صورت میگیرد، که آبیاری آن منظور نظر باشد.

**۲۳۵۰ - ماده:**
د هغې ځمکې خاوند چه خپله ځمکه د

**مادۀ - ۲۳۵۰:**
صاحب زمینی که توسط آلات و

آلو، وسیلو یا مستقیماً د ویالي څخه اوبه کوي، نه شي کولي چه داوبو لاندي ځمکو خاوندان د هغوي په ځمکو کښې د اوبو په جریان مجبوره کي، مگر دا چه په هغې کښې د اوبو د جریان حق ولري.

### دریم مبحث – د تلو راتلو، داوبو د جریان اوسیل حق

**۲۳۵۱ – ماده:**

(۱) که د تلو راتلو د اوبو د جریان او سیل حق پخواني وي، پخپل حال پرښودل کیږی مگر داچه د اصل څخه نامشروع وي ، که د اصل څخه نامشروع وي هیڅ اعتبار نه لري نوکه په کښې ښکاره ضرر وو د مینځه وړل کیږی.

(۲) که دیوه کور سیل عامي یا خاصي لاري ته ویستل شوي وي او د هغې څخه خلکو ته ضرر عاید وي، نو ذکر شوي ضرر که څه هم قدیمي وي لیري کول کیږی.

**۲۳۵۲ – ماده:**

که دیوه شخص د تلو راتلو ، د اوبو د جریان یا مسیل حق د بل چا پر ځمکه وي د ځمکی خاوند نه شي کولي چه هغه د دي حقوقو څخه

